د نحوي قواعدو ښکلې مجموعه

اسرار الشمه

پښتو

شرح شمه

د علم النحو د مشهور کتاب شمې آسانه شرحه

تاليف: مولوي صديق الله شاجوئي

کندهار

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم	: اسرار الشمه پښتو شرح شمه
لیکوال	: مولوي صدیق الله "شاجوئي"
سمون او کمپوز	: حبیب الرحمن "مدنی"
نظرثاني	: مولوی جمال الدین
د چاپ کال	: ۲۰۱۷.۱۳۹۷
د چاپ شمېر	: ۱۰۰۰ توکه
خپرونکې اداره	: صداقت کتب خانه

د تر لاسه کولو پته:
صداقت خپرندویه ټولنه
کندهار - افغانستان
تلیفون: ۰۷۰۰۳۰۵٤۰۷
ایمیل: sadaqat.books@gmail.com

صداقت کتب خانه- کابل
جاده میوند، کوچه پخته فروشي
۰۷۰۵۲٤٤۲۰۰
۰۷۷٤۰۰۰۹٤

د کتاب ځانګړتیاوي

دا کتاب "اسرار الشمه" چي پر کومو اسانتیاوو او ځانګړتیاوو مشتمل دی هغه په لاندي ډول دي:

① ترجمه
② تشریح
③ دلغاتو حل
④ په روانه او اسانه پښتو
⑤ دنکتو حل
⑥ مهم قواعد
⑦ سوال او جواب
⑧ په بشپړه توګه د هر عربي لفظ او جملې اعراب
⑨ دارتیا مطابق بیلا بیل فوائد او تنبیهات
⑩ لفظ په لفظ د اصل کتاب سره روانه شرح

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ



(د لوستونکو څخه غوښتنه)

خپل تر وسه پوري کوشش سوی دی چي د کتاب لیکنی طرح معیاري وي، بیا هم که ستاسو نظر د یوې غلطی او خطا طرف ته راسي، نو خپرونکي ادارې ته خامخا اطلاع ورکړئ چي په دویم چاپ کي يې اصلاح وسي، جزاکم الله.

"اداره"

د کتاب د موضوعاتو لړليک



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِوَلِيِّه وَالصَّلٰوةُ عَلٰى نَبِيِّه، أَمَّا بَعْدُ:

د مؤلف له طرفه طالبُ العلم ته وينا

گرانه طالب جانه پوه سه! چي د هر طالبُ العلم لپاره د هر علم تر شروع کولو مخکي د څلورو شيانو پېژندل ضروري دي:

① تعريف د علم، ② موضوع د علم، ③ غرض د علم، ④ مقام (او شرافت) د علم.

سوال: د دغو څلورو شيانو پېژندل ولي ضروري دي؟

جواب: که طالبُ العلم:

تعريف د علم نه وپېژني، نو طلب د مجهولِ مطلق به راسي، او په شريعتِ مطهره کي طلب د مجهولِ مطلق ناجائز دی، او بل که هغه ته دا معلومه نه وي چي زما مطلب څه دی؟ نو داسي مثال لري لکه يو سړی چي روان وي، په کلونو کلونو مزلونه وکړي خو خبر نه وي چي کومي خوا ته روان يم، نو دغه سړي ته به تهوله خلک لېونی وايي که يا!؟

که موضوع نه وپېژني، نو فرق به نه سي کولای په مينځ د علومِ مشروعه او غيرِ مشروعه کي، دا هم د هوښيار سړي کار نه دی.

که غرض نه وپېژني، نو کوښښ به يې عبث سي، او په دغه حديث شريف به يې عمل را نه سي چي مفهوم يې دا دی: "د انسان له غوره اسلاميت څخه يوه خبره دا ده چي بې فايدې کارونه پرېږدي".

که مقام د علم نه وپېژني، نو د هغه علم سره به يې شوق او مناسبت نه وي، او "نه شوق" هم د يو شي د حصول لپاره غټ مانع دی.

﴿الأمور الأربعة﴾

(۱) د علمُ النحو تعريف: نحو په لغت کي نهه (۹) معناوي لري، خو زه يې (دلته) هغه معنیٰ ذکر کوم چي د اصطلاحي معنیٰ سره ډېر مناسبت لري، هغه دا چي د نحوي لغوي معنیٰ ده: "ساتنه".

او په اصطلاح کي: عِلْمٌ بِأُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا أَحْوَالُ أَوَاخِرِ الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثُ الإِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةِ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ. **ژباړه:** نحو يو داسي علم دى چي د هغه د قوانينو په زده كولو سره د دريو كلمو(اسم، فعل او حرف) د آخر احوال پېژندل كيږي د معرب او مبني كېدلو په اعتبار سره، او كيفيت د تركيب د بعضي كلمو د بعضو سره پېژندل كيږي.

(۲) موضوع د علمُ النحو: موضوع د علمُ النحو "الكلمة والكلام" يعني كلمه او كلام دي، موضوع د هر شي هغه وي له كوم څخه چي بحث كيږي، لكه د انسان بدن چي موضوع د علمُ الطب ده، او لكه موضوع د علمُ الصرف چي صيغې دي او داسي نور، نو موضوع د علمُ النحو كلمه او كلام دي، ځكه چي علمُ النحو له كلمه او كلام څخه بحث كوي.

(۳) غرض د علمُ النحو: صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِيْ كَلَامِ الْعَرَبِ.

ژباړه: يعني د دې علم غرض په عربي كلام كي ذهن له لفظي خطاء څخه ساتل دي.

(۴) مقام د علمُ النحو: د عربو له دې مشهوري مقولې (متل) څخه څرګنديږي چي دوى وايي: "اَلصَّرْفُ أُمُّ الْعُلُوْمِ وَالنَّحْوُ أَبُوْهَا"، (يعني صرف د علومو مور او نحو يې پلار دى)، نو څومره چي بچى په خپل ژوند كي د پلار پالني او تربيې ته ضرورت لري، هغومره طالبُ العلم د نورو علومو په زده كړه كي علمُ النحو ته ضرورت لري، او بله مقوله هم د علمُ النحو په باره كي راغلې ده چي: "اَلنَّحْوُ فِي الْكَلَامِ كَالْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ"، يعني نحو په خبرو كي د مالګي حيثيت لري، او تر څو چي مالګه په خوراك كي نه وي، هغه خوراك د عدمِ خوراك برابر دى، نو په كوم كلام كي چي نحو لحاظ نه كړل سي هغه د عدمِ كلام سره برابر دى.

تنبيه: كوم څوك چي صرف او نحو زده نه كړي، هغه كه هر څومره معلومات ولري زما په نظر عالم نه دى، ځكه صرف او نحو د ټولو علومو لپاره د اولي خښتي (بنياد) حيثيت لري، نو كه د دېوال په ابتداء او بنياد كي خامه خښته كار كړل سي، نو دا دېوال بيا دېوال نه دى، كه څه هم تر دې وروسته اوسپنه كار كړل سي، او چي څوك صرف او نحو زده نه كړي نو په خداى ﷻ سره مي قسم دى كه هغه يا قرآن په بشپړه توګه زده كړي يا حديث يا فقه او داسي نور، كه بيا هم په دې خبره كي شمكن ياست، نو د جيّدو علماؤ سره خبري وكړئ، دا منم چي دا يوه خارجي خبره ده، خو زړه مي ځكه درد كوي چي زياتره په نامه ملايان قرآن هم غلط وايي، حديث خو لا پرېږده!، او دا هر څه پر علمُ النحو او صرف موقوف دي.

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم

ترجمه: شروع کوم په نامه د الله ﷻ چي مهربانه دی په عامه مهربانۍ سره او چي مهربانه دی په خاصه مهربانۍ سره.

تشريح: سوال واردیږي چي د مصنف رَحِمَهُ الله خو د بیتونو تشریح مراد وه، نه د بسم الله؟

جواب: مصنف رَحِمَهُ الله بسم الله د څلورو وجوهاتو له کبله ذکر کړه:

① مصنف رَحِمَهُ الله د قرآن کريم تابعداري وکړه، ② د سلفِ صالحینو اتباع یې وکړه، ③ په حديث شريف سره یې عمل وکړی، حديث شريف دا دی: كُلُّ أَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَمْ يُبْدَءْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ فَهُوَ أَبْتَرُ وَ أَقْطَعُ وَ أَجْزَمُ. أو كما قال عليه السلام. (یعني هر هغه کار چي په هغه سره په بسم الله شروع نه وسي، هغه قليل البركة وي)، نو مصنف رَحِمَهُ الله د دې لپاره چي په حديث شريف عمل وسي، بسم الله ذكر كړه.

④ مصنف رَحِمَهُ الله پر شيطان يو واري وکړی، كَمَا قَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ والسَّلَامُ: مَنْ قَالَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ يَذُوْبُ الشَّيْطَانُ كَمَا يَذُوْبُ الرَّصَاصُ فِي النَّارِ. (مفهوم یې دا دی چي څوک بسم الله ووايي نو په هغه سره شيطان داسي ويلي کیږي لکه څرنګه چي سرپ [اوسپنه] په اُور کي ويليږي).

سوال: یوازي په ویلو سره هم کفایت کېدی، لیکلو ته څه ضرورت وو؟

جواب: مصنف رَحِمَهُ الله په دغه حديث سره هم عمل وکړی: أَلَا مَنْ كَتَبَ مِنْكُمْ كِتَابًا فَلْيَكْتُبْ فِيْ أَوَّلِهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

د لغاتو حل:

○ **باء:** باء له حروفِ جاره څخه وو يو حرف دی، او دا د استعانت لپاره راځي لکه: كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ، ما په قلم سره لیکل وکړه وغير ذٰلك.

○ **اسم:** اصل د اِسْمٌ سِنْوٌ وو، ناقص واوي دی لکه بصريين چي وايي، او د سِنْوٌ معنیٰ عُلو (لوړوالی) دی، نو اسم هم لوړ دی پر فعل او حرف، ځکه چي اسم په خپله معنیٰ ورکولو کي چا ته ضرورت نه لري، لیکن فعل زمانې ته او حرف ضم د بلې کلمې ته ضرورت لري، نو غير محتاج پر محتاج

لوړ او اعلیٰ وي، او کوفیین وایي چي اسم مشتق دی له وِسْمٌ څخه، مثال واوي دی، او وِسْمٌ علامې ته وایي، او اسم هم علامه ده پر خپله معنیٰ، لېکن د کوفیینو مذهب ضعیف دی، ځکه چي فعل او حرف هم علامه ده پر خپله معنیٰ، نو باید هغو ته هم اسم وویل سي.

○ **الله** ﷻ : د الله په لفظ کي دوه قوله دي: ① یو قول دا دی چي څرنګه د الله ﷻ ذات له تغیر څخه محفوظ دی، همدغسي د الله ﷻ اسم له تغیر څخه محفوظ دی، ② دویم قول دا دی چي الله په اصل کي اَلَهَ وو، بیا همزه حذف سوه په عوض کي یې حرف تعریف "اَلْ" راوړل سو، او لام په لام کي مدغم سو، الله سو.

تبصره: راجح مذهب دا دی چي لفظ د الله ﷻ پر خپل اصل دی، څه تغیر نه دي پکښې راغلی.

د الله د لفظ معنیٰ: علماؤ د الله د لفظ معنیٰ په دې الفاظو سره کړې ده: "ذَاتُ وَاجِبِ الْوُجُوْدِ الْمُسْتَجْمِعِ لِجَمِيْعِ صِفَاتِ الْكَمَالِ وَ الْمُنَزَّهِ عَنِ النَّقْصِ وَالزَّوَالِ".

د بسم الله ترکیب: باء حرف جر اسم مضاف دی لفظ د الله ﷻ ته، الله موصوف، الرّحمٰن یې اول صفت، او الرّحیم یې دویم صفت، موصوف به د خپلو دواړو صفتونو سره مضاف الیه لپاره د اسم سي، اسم مضاف به سره د مضاف الیه مجرور د جار (باء) سي، جار به سره د مجروره تعلق ونیسي تر أَبْتَدِئُ یا أُصَنِّفُ پوري، أَبْتَدِئُ یا أُصَنِّفُ صیغه د واحد متکلم به سره د فاعله (چي ضمیر مستتر دی، او تعبیر ور څخه کیږي په أَنَا سره) او سره د متعلقه جمله فعلیه انشائیه سي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ زَيَّنَ النَّبِيِّيْنَ بِحَبِيْبِهِ الْمُصْطَفٰى.

ترجمه: هره ستاینه [(حمد) له ازل څخه تر ابده او له هر حامد څخه که حامد خالق وي او که مخلوق] خاص دی الله ﷻ لره هغه الله ﷻ چي ښایسته کړي یې دي نبیان په خپل غوره کړل سوي دوست سره.

تشریح: په الحمد لله کي درې تعمیمه او یو تخصیص دی، اول تعمیم د افرادو دی (یعني هر فرد د افرادو له حمد څخه)، دویم تعمیم د حامدینو (ثنا ویونکو دی)، یعني د هر ثنا ویونکي حمد، او دریم تعمیم د زمانې دی (یعني له ازل څخه تر ابده)، څلورم تخصیص دی (یعني خاص الله ﷻ لره).

په "الحمد لله" کي درې تعميمات

(۱)... **اول تعميم:** اول تعميم د افرادو دی چي په الف لامِ استغراقي سره حاصلیږي، (یعني ټوله افراد د حمد).

(۲)... **دويم تعميم:** د حامدينو دی، دا د فاعل په نه ذکر کولو سره معلومیږي، (یعني د هر ستاينونکي حمد).

(۳)... **دريم تعميم:** دریيم تعميم د زمانې دی، دا د جملې له اسميت څخه معلومیږي، (یعني له ازل څخه تر ابده).

(۴)... **تخصيص:** په لِلّٰهِ کي د لامِ جاره څخه معلومیږي چي دا د تخصيص لپاره دی.

د جملې اسميت: دې ته وايي چي یوه جمله اول فعليه وي، خو د يو ضرورت پر اساس جمله اسميه ور څخه جوړه سي.

سوال او جواب:

سوال: تاسو خو د بسم الله د راوړلو لپاره ډېر دلائل ذکر کړل نو تر بسم الله وروسته بايد مصنف رَحِمَهُ الله د ابياتو په تشريح پېل کړي وای، ځکه چي دغه کتاب (شمه) د ابياتو د تشريح په مقصد ليکل سوی دی؟

جواب: که په مختصر ډول درته ووايم، دلته هم هغه جوابونه ورکول کيږي، کوم چي په بسم الله کي ورکول کېدل: ① د قرآن کريم موافقت، ② د سلفو تابعداري، ③ په حديث سره عمل، ځکه د حمد په باره کي هم هغسي حديث سته: كُلُّ أَمْرٍ ذِىْ بَالٍ لَمْ يُبْدَءْ بِحَمْدِ اللهِ فَهُوَ أَبْتَرُ، أو كما قال عليه السلام، وغير ذٰلك من الأجوبة.

سوال: تاسو وويل چي د زمانې تعميم د جملې له اسميت څخه حاصلیږي، نو دا تعميم ولې له جمله اسميې څخه نه حاصليږي؟

جواب: جمله اسميه ابتداءً پر دوام او استمرار دلالت نه کوي، لکه په زَيْدٌ قَائِمٌ کي چي دغه معنیٰ نسته چي زيد تل ولاړ دی، بلکي دا هغه وخت حاصليږي چي جمله فعليه جمله اسميې ته نقل کړل سي؛ دا د علامه عبد القاهر جرجاني رَحِمَهُ الله قول دی.

د لغاتو حل:

د الحمد الف لام: پوه سه طالب جانه! چي الف لام په لغت کي کلمې د "اَلْ" ته وايي، او په اصطلاح کي هغه کلمه ده چي په هغې سره بله کلمه ښايسته کيږي.

د الف لام قسمونه: الف لام پر دوه قسمه دی: ① الف لام اسمي، ② او الف لام حرفي.

(۱) الف لام اسمي: هغه الف لام ته ويل کيږي چې په معنىٰ د "اَلَّذِىْ" اسم موصول سره وي، او پر اسم فاعل يا اسم مفعول داخل وي لکه اَلضَّارِبُ چي په معنىٰ د: اَلَّذِىْ ضَرَبَ" سره دی، او لکه اَلمَضْرُوْبُ چي په معنىٰ د "اَلَّذِىْ ضُرِبَ" سره دی، يا لکه اَلضَّارِبَةُ چي په معنىٰ د "اَلَّتِىْ ضَرَبَتْ" سره دی، او اَلمَضْرُوْبَةُ چي په معنىٰ د "اَلَّتِىْ ضُرِبَتْ" سره دی.

(۲) الف لام حرفي: او دويم قسم الف لام حرفي دی، او الف لام حرفي په خپل کور کي پر دوه قسمه دی: ① الف لام حرفي زائد، ② الف لام حرفي غير زائد.

(۱) الف لام حرفي زائد: هغه دی چي د هغه په حذف سره کلمې ته څه معنوي تاوان نه راسيږي، مثلاً چي پر يو عَلَمْ اسم الف لام داخل سي لکه الکابل، دا فقط د کلمې د ښايست لپاره راځي، او که نه راوړل سي څه معنوي نقصان نه رامنځ ته کيږي.

(۲) الف لام حرفي غيرِ زائد: دا هغه الف لام دی چي د يوې معنىٰ لپار راوړل سوي وي که حذف کړل سي نو معنىٰ متغيره کيږي.

د الف لام حرفي زائد قسمونه: الف لام حرفي زائد په خپل کور کي پر څلور قسمه دی:

(۱) الف لام زائد عوضي: اول قسم الف لام زائد لازم عوضي دی، دا هغه الف لام دی چي په حذف سره يې څه معنوي تاوان نه رامنځته کيږي او د کلمې سره لازم وي نه ور څخه بېليږي او عوض وي له يو بل شي څخه، لکه الف لام په لفظ د الله کي، ځکه چي الله په اصل کي الإلٰه وو، بيا دويمه همزه حذف سوه. او دغه الف لام عوض سو له محذوفي همزې څخه،نو الله سو؛ نو دغه الف لام ځکه زائد دی چي معناً څه فايده نه ورکوي، ځکه چي د الله ﷻ په لفظ کي په علميت سره تعريف حاصل دی، نه په دغه الف لام سره، او لازم دی د دغه عَلَم سره، ځکه چي أعلام تغير نه قبلوي، نو که دغه الف لام ور څخه حذف کړل سي، نو تغير به په علم کي راسي، او دا د قانون خلاف دي، همدارنګه دا لام له همزې څخه عوض دي.

(۲) الف لام زائد غیر عوضي: دا هغه الف لام دی چې په حذف سره یې په معنیٰ کې څه نقصان نه راځي، او لازم وي د کلمې سره او له یو شي څخه عوض نه وي، لکه النّجم، نو په دې مثال کې الف لام زائد دی، ځکه په حذف سره یې په معنیٰ کې څه نقصان نه راځي، ځکه چې دا کلمه په علمیت سره معرفه ده، الف لام ته څه ضرورت نه لري، او لازم ځکه دی چې حذفول یې صحیح نه دي، ځکه چې دا علم دی او علم تغیر نه قبلوي او له چا څخه عوض هم نه دی.

(۳) الف لام زائد غیرِ لازم عوضي: هغه الف لام ته ویل کیږي چې په حذف سره یې په معنیٰ کې څه نقصان نه راځي، او څه معنیٰ نه ورکوي، او لازم نه وي د کلمې سره، بلکې ور څخه بیلیدای سي، او عوض وي له بل شي څخه، لکه د "النّاس" الف لام، نو دا الف لام زائد دی ځکه چې په ده سره تعریف نه دی راغلی، بلکې "النّاس" نکره دی، او دا الف لام لازم نه دی ځکه "النّاس" علم نه دی چې په حذف سره یې په معنیٰ کې نقصان راسي، بلکې ځنې حذفیدلای سي، او عوض دی له همزې څخه، ځکه چې په اصل کې "أناس" وو، همزه ځنې لیري کړل سوه، پر ځای یې الف لام راوړل سو، نو "النّاس" ور څخه جوړ سو.

(۴) الف لام زائد غیر لازم غیر عوضي: دا هغه الف لام دی چې په حذف سره یې په معنیٰ کې څه نقصان نه راځي، او لازم نه وي د کلمې سره، او عوض هم نه وي له بل شي څخه، لکه په فَيَا الْغُلَامَانِ الَّذَانِ فَرَّا کې، نو په "الغُلامان" کې الف لام زائد دی، ځکه چې تعریف په یاء حرف نداء سره پکښې راغلی دی، او لازم هم نه دی د کلمې سره، ځکه "الغلامان" علم نه دی چې د الف لام په سقوط سره تغیر پکښې باطل سي، او عوض هم نه دي له بل شي څخه.

د الف لام غیر زائد قسمونه:

گرانه طالب جانه! پوه سه چې الف لام غیر زائد پر څلور قسمه دی.

(۱) الف لام جنسي: هغه الف لام دی چې په هغه سره د افرادو ماهیت ته اشاره سوې وي، نه و هر فرد د افرادو ته او نه بعضو ته. لکه اَلرَّجُلُ خَيْرٌ مِنَ الْمَرْأَةِ. (د دې معنیٰ دا ده چې جنس د رجل [نارینه] ښه دی تر جنس د ښځې). نو د "الرجل" الف لام د جنس لپاره دی، ځکه که د استغراق لپاره سي، نو معنیٰ به

يې دا ټول سي (چې هر فرد د افرادو د رجل ښه دی تر هر فرد د افرادو د ښځې)، نو داسې خو نه ده، ځکه بعضې داسې ښځې هم سته چې تر بعضو نارینه وو ښې وي لکه عائشه رضی الله عنها، او خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها چې تر بعضو افرادو له رجالو څخه ډېرې ښې دي.

او دا الف لام عهد خارجي او عهد ذهني هم نه سي کېدلای، ځکه چې دلته د جنس مدح مطلوب ده نه د معلوم کس، او په الف لام عهد خارجي یا عهد ذهني سره خو یو معلوم فرد ته اشاره کول کېږي.

(۲) الف لام استغراقي: هغه الف لام دی چې په هغه سره اشاره سوې وي د خپل مدخول ومفهوم ته سره د لحاظه د ټولو افرادو، (یعني پر کوم لفظ چې الف لام داخل وي د هغه لفظ و مفهوم ته که په دې الف لام سره اشاره سوې وه سره د لحاظه د ټولو افرادو، هغه الف لام استغراقي دی) لکه ﴿إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ، إِلَّا الَّذِيْنَ آمَنُوْا﴾ [سورة العصر: ۲]، (بېشکه د انسان له افرادو څخه هر فرد په تاوان کې دی)، نو دا الف لام جنسي نه سي کېدلای، ځکه چې بیا به پر ماهیت د انسان په تاوان سره حکم وسي، سره د دې چې تاوان خو له افرادو څخه صادرېږي نه له ماهیت څخه، او عهد خارجي او ذهني هم نه سي کېدلای ځکه چې له واحد څخه به استثناء د متعدد په "الَّذِيْنَ" سره راسي چې "الْإِنْسَان" دی، او دا صحیح نه دي.

(۳) الف لام عهد خارجي: هغه الف لام دی چې په هغه سره په خارج کې د متکلم او مخاطب تر مینځ و یو معین فرد ته اشاره سوې وي، لکه ﴿فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ﴾[سورة المزمل: ۱۶]، (نافرماني وکړه فرعون د رسول)، (کوم چې د متکلم الله ﷻ او د مخاطب محمد ﷺ په مینځ کې معلوم دی)، یعني دلته رسول چې موسیٰ علیه السلام دی متکلم ته هم معلوم دی، او مخاطب ته هم؛ او دا الف لام جنسي نه سي کېدلای، ځکه چې له "الرسول" څخه جنس د رسولانو نه سي مراد کېدلای که څه هم حقیقتاً داسې دی چې د ټولو رسولانو نافرماني یې وکړه خو ظاهراً د هغه نافرماني له یوه رسول څخه وه، او الف لام استغراقي هم نه سي کېدلای، ځکه د رسول د افرادو له هر فرد څخه خو فرعون نافرماني نه ده کړې، ځکه چې ټوله رسولان د فرعون په زمانه کې موجود نه ول.

الف لام ذهني هم نه سي کېدلای ځکه چې د هغه نافرماني خو په خارج کې وجود لري، او په الف لام ذهني سره خو یو متصور في الذهن ته اشاره کېږي، چې هغه په خارج کې نه وي

(۴) الف لام عهد ذهني: هغه الف لام دی چې په هغه سره و داسې فرد ته اشاره سوې وي چې هغه په خارج کې نه متکلّم ته معلوم وي او نه مخاطب ته، بلکې متکلم په ذهن کې معلوم فرض کړی وي،

لکه په قرآن کریم کي د یعقوب علیه السلام په دې قول کي چي هغه خپلو زامنو ته وویل: ﴿اَخَافُ اَنۡ یَّاۡکُلَهُ الذِّئۡبُ﴾ [سورة العصر: ۱۳]، (زه ېرېږم چي لېوه به یوسف علیه السلام وخوري)، نو لېوه په خارج کي نه متکلم یعقوب علیه السلام ته معلوم وو، ځکه هغه هسي په ذهن کي متصور کړی وو، او نه مخاطب ته معلوم وو چي د یعقوب علیه السلام زامن دي، لهذا دا ذهني دی او جنسي نه سي کېدلای ځکه چي خوراک خو ماهیت نه کوي بلکي یو فرد یې کوي، که جنسي سي نو معنیٰ به یې دا سي چي د لېوه ماهیت (چي حیوان مفترس دی) خوراک کوي، ځکه چي په جنسي کي اشاره ماهیت ته وي، او استغراقي هم نه دی ځکه چي د تولي دنیا لېوان خو ممکن نه دی چي یوسف علیه السلام وخوري، او عهد خارجي هم نه دی ځکه چي په هغه سره یو معین فرد ته اشاره کېږي، او یو معین فرد هم په خارج کي نه سي مراد کېدلای ځکه چي الله جل جلاله پر هر شي د انبیاؤ غوښي خوړل حرام کړي دي.

حمد په لغت او اصطلاح کي: حمد مصدر دی، لغوي معنیٰ یې "ستایل" دي، لکه حَمِدۡتُ زَیۡدًا (ما د زید ستاینه وکړه).

او په اصطلاح کي: هُوَالثَّنَاءُ بِاللِّسَانِ عَلَی الۡفِعۡلِ الۡجَمِیۡلِ الۡاِخۡتِیَارِیِّ عَلٰی جِهَةِ التَّعۡظِیۡمِ وَالتَّبۡجِیۡلِ کَانَ فِیۡ مُقَابَلَةِ النِّعۡمَةِ اَمۡ لَا. (یعني د یو چا ستاینه کول پر یو داسي کار چي هغه له محمود (موصوف) څخه اختیاراً صادر سوی وي او دا ستاینه د عزت په توګه وي، نه د تمسخر یا استهزاء او داسي نورو په توګه، او دا ستاینه بیا عامه ده که په مقابل د یو نعمت کي وي او که نه وي).

د الله د لفظ تحقیق: د دې لفظ تحقیق د بسم الله په تشریح کي تېر سو.

د "زَیَّنَ" تحقیق: زَیَّنَ له باب تفعیل څخه صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم ده، په معنیٰ د "ښایسته کولو" سره راځي.

د "النَّبِیِّیۡنَ" تحقیق: نَبِیِّیۡنَ جمع ده، مفرد یې "نَبِیٌّ" راځي.

د نبي لغوي معنیٰ: د نبي په لغوي معنیٰ کي دوه احتماله دي: ① یو دا چي نبي مشتق دی له نَبۡوَةٌ څخه، او د نبوة معنیٰ ده: ارتفاع، نو په دې احتمال کي به نبي په معنیٰ د مرتفع (لوړ) سره سي.

② دویم احتمال دا دی چي نبي مشتق دی له نَبَأَیَنۡبَأُ څخه، او نبأینبأ په معنیٰ د "خبر" سره راځي، لکه په قرآن کریم کي چي راځي: عَمَّ یَتَسَآءَلُوۡنَ، عَنِ النَّبَاِ الۡعَظِیۡمِ، دلته نبأ په معنیٰ د خبر سره راغلی دی، نو د

نبي لغوي معنیٰ به مخبر (خبر ورکونکی) سي، د اول احتمال پر اساس ناقص دی، او د دویم احتمال پر اساس مهموز دی.

د نبي اصطلاحي معنیٰ: اَلنَّبِيُّ هُوَ اِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ تَعَالیٰ إِلَی الْخَلْقِ لِتَبْلِيْغِ الْأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ. (يعني نبي هغه انسان دی چي الله ﷻ خپل مخلوق ته را استولی وي لپاره د رسولو د شرعي احکامو).

د نبي او رسول فرق: رسول پر وزن د فَعُوْلٌ په معنیٰ د اسم مفعول (مُرْسَل) سره دی، ځکه چي مونږ په نحو کي يوه قاعده لرو هغه دا چي مصدر په خپله معنیٰ سره صحيح نه وي، نو په دې وجه به کله په معنیٰ د فاعل سره او کله په معنیٰ د مفعول سره وي، نو دلته هم په معنیٰ د مفعول سره دی، او مُرْسَل يې لغوی معنیٰ سوه، يعني "را لېږل سوی".

اصطلاحي معنیٰ يې دا ده: هُوَ اِنْسَانٌ بَعَثَهُ اللهُ إِلَی الْخَلْقِ لِتَبْلِيْغِ الْأَحْكَامِ الشَّرْعِيَّةِ. (يعني رسول هغه انسان دی چي الله ﷻ را استولی وي مخلوق ته د شرعي احکامو د رسولو لپاره).

همدارنګه رسول هغه څوک دی چي نوی کتاب ور سره وي، او نبي هغه څوک دی چي هغه ته له بل نبي يا رسول څخه په ميراث اسماني کتاب پاته سوی وي، نو نبي عام سو که نوی کتاب ور سره وي او که نه وي، او رسول خاص سو چي د هغه سره به خامخا نوی کتاب وي، نو د دوی دواړو په مينځ کي نسبت د عموم او خصوص مطلق دی چي هر رسول ته نبي ويل کېدای سي، خو هر نبي ته رسول نه سي ويل کېدای، نو ځکه مونږ وايو چي ټوله انبياء له (۱۲۴۰۰۰) څخه زيات او کم دي، نو په دوی کي خو رسولان هم سته، نو له دې څخه معلومېږي چي پر رسول د نبي اطلاق کېږي، خو پر نبي د رسول اطلاق نه کېږي، والتفصيل فی المطوّلات.

د "حَبِيْب" تحقيق: حَبِيْب د فَعِيْل وزن دی، او فَعِيْل کله په معنیٰ د فاعل سره راځي، لکه نَصِيْرٌ چي په معنیٰ د نَاصِر سره دی، او کله په معنیٰ د مفعول سره راځي، لکه جَرِيْح چي په معنیٰ د مَجْرُوْح سره دی يا لکه قَتِيْل چي په معنیٰ د مَقْتُوْل سره دی؛ دلته په حَبِيْب کي دواړه احتماله صحيح دی، دا هم صحيح دی چي حبيب دي په معنیٰ د محبوب سره سي، ځکه نبي ﷺ خو يقيناً د الله ﷻ محبوب وو، او دا هم صحيح دی چي حبيب دي په معنیٰ د فاعل مُحِب (محبت لرونکي) سره سي، ځکه چي نبي ﷺ د الله ﷻ سره ډېر محبت درلود.

د "الْمُصْطَفٰى" تحقيق: مُصطفٰى او وروسته راتلونكى لفظ "مُجْتَبٰى" دواړه مترادف الفاظ دي، په معنٰى د "غوره كړل سوي" سره دي.

سوال او جواب:

سوال: قانون دا دى چي ذات مقدم وي پر وصف، او دلته الحمد وصف دى د الله ﷻ، او الله ﷻ ذات دى، نو څه وجه ده چي په اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كي وصف مقدم سوى دى پر ذات؟

(١) جواب: منم چي ذات پر وصف (صفت) مقدم وي، خو كله چي مقصود په بيان سره بيان د وصف وي، نو بيا تقديم د وصف پر ذات جائز دى، نو دلته هم مقصود بيان د وصف وو، او ذات غير مقصود وو، نو وصف كه څه هم وصف دى، خو مقصود سو، او ذات كه څه هم ذات دى، خو غير مقصود سو، نو تقديم يې جائز سو، او ذات هم د وصف په خاطر ذكر سوى دى.

(٢) جواب: دويم جواب دا دى چي اَلْحَمْدُ مبتداء ده او لِلّٰهِ يې خبر دى، او مبتداء پر خبر مخكي وي.

سوال: "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ" يې ووايى، "اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ" ولي نه ووايى؟

جواب: شكر د نعمت په مقابل كي ويل كيږي، او حمد عام دى، د نعمت په مقابل كي هم ويل كيږي، او د غيرِ نعمت په مقابل كي هم، نو الله ﷻ د شكر په نسبت د حمد ډېر لائق دى.

سوال: اَلَّذِىْ اسم موصول دى او زَيَّنَ النَّبِيِّيْنَ يې صله ده، او په صله كي يو عائد ضروري دى چي هغه به موصول ته راجع وي، د دې لپاره چي د موصول او صله په مينځ كي ربط (جوړ او مناسبت) پيدا سي، نو دلته عائد څوک دى؟

جواب: عائد دلته مستتر دى چي هغه ضمير د زَيَّنَ دى، تقدير د عبارت داسي دى: زَيَّنَ هُوَ النَّبِيِّيْنَ.

سوال: اَلَّذِىْ خو د مذكر او غائب لپاره استعماليږي، او الله ﷻ له دغو دواړو صفتو څخه منزّه دى؟

جواب: په اَلَّذِىْ سره د الله د لفظ څخه تعبير كول صحيح دي، ځكه چي الله ﷻ په اعتبار د لفظ مذكر دى، نو موږ لفظ ته وكتل، او په غائب سره يې تعبيرول هم صحيح دي، ځكه چي الله ﷻ زموږ له ستر ګو څخه غائب دى.

تنبيه: مصنف رَحِمَهُ الله وويل: زَيَّنَ النَّبِيِّيْنَ بِحَبِيْبِهٖ، يعني: الله ﷻ په خپل حبيب سره نبيان ښايسته كړل، د دې مطلب دا دى چي هغوى ته دا هر څه او نبوت د محمد ﷺ په بركت ور په برخه سول، په دې

عبارت کي مصنف رَحِمَهُ الله يو حديث قدسي ته اشاره کړې ده چي الله ﷻ محمد ﷺ ته فرمايلي دي: لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْأَفْلَاكَ، (اې نبي ﷺ! که ته نه واى، ما به اسمانونه پيدا کړي نه واى)، مطلب دا چي هر څه ماستا په وجه پيدا کړي دي، په دغه حديث کي که څه هم کلام سته خو په فضائلو کي ضعيف احاديث هم د قبول وړ دي. او بل دا چي د دغه حديث تأکيد نور حديثونه هم کوي، مثلاً دا حديث: لَوْلَاكَ لَمَا أَظْهَرْتُ رُبُوبِيَّتِيْ، (که ته نه واى اې نبي ﷺ ما به خپله خدايي ښکاره کړې نه واى).

ترکيب: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ زَيَّنَ النَّبِيِّيْنَ بِحَبِيْبِهِ الْمُصْطَفٰى.

الحمد مبتداء، لام جار، الله مجرور موصوف، الذي اسم موصول، زَيَّنَ فعل، ضمير پکښې مستتر دی، هغه يې فاعل، النّبيين مفعول، باء جار، حبيب مضاف، هاء ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه به موصوف سي، المصطفى به يې صفت سي، موصوف سره د خپله صفته به مجرور د جار سي، جار سره د مجروره به تعلق ونيسي تر زَيَّنَ پوري، زَيَّنَ فعل سره د فاعله او مفعوله او متعلقه به صله د الذي (اسم موصول) سي، اسم موصول به سره د صلې صفت د الله سي، الله موصوف سره د صفته به مجرور د لام جاره سي، مجرور سره د جاره به تعلق ونيسي تر ثَابِتٌ مقدره پوري، ثَابِتٌ اسم فاعل سره د نائب فاعله او سره د متعلقه به خبر د اَلْحَمْدُ سي، الحمد مبتداء به سره د خبر جمله اسميه خبريه سي.

وَمَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ بِنَبِيِّهِ الْمُجْتَبٰى.

ترجمه: او [حمد دي وي هغه الله ﷻ لره] چي احسان يې کړی دی پر مؤمنانو په خپل غوره کړل سوي نبي سره.

تشريح: مصنف رَحِمَهُ الله په خپل دې عبارت مَنَّ.....الخ سره د الله ﷻ دې قول ته اشاره کړې ده: ﴿لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ إِذْ بَعَثَ فِيْهِمْ رَسُوْلًا مِّنْ أَنْفُسِهِمْ﴾ [سورة آل عمران: ۱۶۴]. (په تحقيق سره الله ﷻ احسان کړی دی پر مؤمنانو چي دوی ته يې را استولی دی رسول [استازی] له دوی څخه)، نو د الله ﷻ دا يو غټ احسان دی چي مؤمنانو ته يې رسول را استولی دی، که رسول نه واى نو دوی به د جهالت په تورتم کي پراته واى، او الله ﷻ فرمايي چي دا رسول له دوی څخه دی، يعني د ملائکو يا د ښارويو له

جملې شخه نه دی، بلکي انسان دی، د انسانانو ضروریات او نفسیات پېژني، که دا رسول له ملائکو شخه وای، نو هم به د الله ﷻ احسان وای، خو داسي بشپړ به نه وای، لکه د انسان په صورت کي چي دی، دا ځکه چي ملائکي له نُور شخه پیدا سوي دي، هغوی تل په عبادت بوختي وي، نه خوراک کوي، نه ښځه، نه واده، یعني بالکل هیڅ خواهشات نه لري، همداسي که دا رسول پېری وای، یا یو بل داسي مخلوق وای، نو د انسان په ضروریاتو به داسي خبر نه وای لکه څرنګه چي انسان خبر دی، او نه به یې د انسانانو داسي ښه تربیه کړې وای لکه څرنګه چي یې نبي کولای سي.

د لغاتو حل: مَنَّ: د نَصَرَ له باب شخه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم صیغه ده، ، مضاعف ثلاثي ده چي په اصل کي مَنَنَ وه، دوه حرفه له یوه جنس شخه راغلل، نو د صرفي قانون پر اساس چي کله دوه حرفه له یوه جنس شخه راسي، نو اول به ساکن کیږي او په دویم کي به مدغم کیږي، نو مَدَّ په شېر اعلال پکښې وسو، مَنَّ سو، په معنیٰ د "احسان کولو" سره راځي.

ترکیب: وَمَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ بِنَبِيِّهِ الْمُجْتَبٰى.

واو عاطفه، مَنَّ فعل، ضمیر پکښې مستتر دی، هغه یې فاعل دی، عَلٰى حرف جار، المؤمنین مجرور، جار سره د مجروره به تعلق ونیسي تر ثابتین مقدر پوري، ثابتین به سره د متعلقه مفعول د مَنَّ سي، باء جار، نبي مضاف، هاء ضمیر، مضاف الیه، دا به موصوف سي، المجتبٰى به یې صفت سي، موصوف به سره د صفته به مجرور د جار سي، جار سره د مجروره به تعلق ونیسي تر مَنَّ پوري، مَنَّ فعل سره د خپلو ټولو متعلقاتو به جمله فعلیه خبریه معطوفه سي.

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرِ الْوَرٰى.

ترجمه: او رحمت او سلام دي وي پر رسول د هغه محمد ﷺ چي غوره د مخلوق دی.

تشریح: د صلوٰة نسبت که الله ﷻ ته وسي رحمت ځني مراد دی، او که ملائکو ته وسي استغفار ځني مراد دی، او که مؤمنانو ته وسي دعاء ځني مراد ده، او که حیوانانو او مرغانو ته وسي تسبیح او تهلیل (ذکر) ځني مراد دی.

رسول تر نبي خاص وي: د جمهورو په نېز رسول تر نبي خاص وي، ځکه چي کتاب او شریعت مجلده د رسول سره شرط دي، او په نبي کي دا شرط نسته.

تنبيه: مصنف رَحِمَهُ الله دلته عَلىٰ رَسُوْلِه ووېل، عَلىٰ نبيّه يې نه ووېل، د دې وجه دا ده چې مصنف رَحِمَهُ الله دې خبري ته اشاره کوي چې نبي کريم ﷺ رسول دی.

محمد عطف بيان دی: ځکه چې په هغه سره اصلي مقصد د رسول وضاحت دی، نه يوه نوې معنیٰ.

د لغاتو حل:

د محمد د لفظ تحقيق: محمد د تفعيل له باب څخه د اسم مفعول صيغه ده، په معنیٰ د "ډېر ستايل سوي" سره راځي، او نبي ﷺ په محمد سره ځکه مسمیٰ کړل سو، چې هغه تر نبوت مخکښې لا په أمين، رښتوني او داسي نورو اوصافو سره موصوف وو، تر نبوت وروسته خو يې الله ﷻ په متعددو مقاماتو کي صفت کړی دی، يوه نمونه يې دا ده چې الله ﷻ فرمايي: وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ [سورة القلم: ٤]، (اې نبي ته د ډېرو غټو اخلاقو خاوند يې)، نو په دغه سره به کفايت وکړو، فإن تريد التفصيل فعليك بسيرة المصطفى ﷺ.

د محمد ﷺ د نسب لړۍ: د نبي کريم ﷺ د نسب لړۍ داسي ده:

محمد ﷺ بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قُصَيّ بن کلاب بن مُرَّة بن کعب بن لوی بن غالب بن فِهْر [الملقب بقريش] بن مالك بن النَّضْر بن كِنانه بن خُزَيْمة بن مُدْرِكة بن إلياس بن مُضَر بن نِزار بن مَعَدّ بن عدنان.

د "صَلّٰی" تحقيق: صَلّٰی د تفعيل له باب څخه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم صيغه ده، لام کلمه يې په قانون د قَالَ او بَاعَ سره په الف بدله سوې ده، ځکه په اصل کي صَلَّيَ وو، والتفصيل في کتب الصرف.

الْوَرىٰ: د دې تعليل د صلّٰی په ډول دی، د "مخلوق" په معنیٰ سره دی.

سوال او جواب:

سوال: د مصنف رَحِمَهُ الله مراد خو د ابياتو تشريح وه، نو په صلوٰة سره يې ولي شروع وکړه، دا خو په غير مقصود سره شروع ده، او په يو حديث شريف کي راځي چې مفهوم يې دا دی: "د مسلمان له ښه اسلاميت څخه يو ترکِ مالايعنی (غير مقصودي شيان پرېښوول) دي؟

(۱) **نقلي جواب:** مصنف رَحِمَهُ الله د جناب رسول الله ﷺ په دې قول عمل وکړی: مَنْ صَلَّى فِيْ كِتَابِهٖ لَمْ تَزَلِ الْمَلٰئِكَةُ تَسْتَغْفِرُ لَهُ مَا دَامَ اِسْمِيْ فِيْ ذٰلِكَ الْكِتَابِ. (مبارک ﷺ فرمايي چي کوم څوک په کتاب کي پر ما درود ووايي، نو تر څو چي زما نوم په هغه کتاب کي وي تر هغه وخته ملائکي د هغه لپاره بخښنه غواړي)، نو مصنف رَحِمَهُ الله هم د دې ستر نعمت د ترلاسه کولو لپاره تر مقصد مخکي په درود سره شروع وکړه.

همدارنګه الله ﷻ هم په خپل کلام کي فرمايي: يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا [سورة الأحزاب: ۵۶]. (اې هغه کسانو چي ايمان مو راوړی دي تاسو پر مبارک ﷺ درود او سلام واياست).

(۲) **نقلي جواب:** جناب رسول مقبول ﷺ فرمايلي دي: خُصُوْنِيْ بِكَرَامَاتٍ مِنْهَا اِذَا ذَكَرْتُمُ اللهَ تَعَالٰى فَاذْكُرُوْنِيْ مَعَهُ بِالصَّلٰوةِ. (ما خاص کړئ په عزتونو چي يو له هغو څخه دا دی چي کله تاسو الله ﷻ ذکر کوی نو ما هم د هغه سره په درود شريف ذکر کوئ).

(۳) **عقلي جواب:** د عقل تقاضا هم دا ده چي کله يو څوک پر يو چا احسان وکړي، نو د هغه د احسان بدل بايد په احسان سره ورکړل سي، او دا تر لمر ښکاره خبره ده چي جناب رسول ﷺ د ټوله انسانيت لپاره مُحسن (احسان کونکی) وو، نو بايد چي د هغه د دې احساناتو (يعني د خپل امت لپاره د جناب ﷺ خواري، او ستړيا وي او هدايت او د داسي نور احساناتو) بدل په درود، دعاء او سلام او داسي نورو تحفو او سوغاتونو سره ورکړل سي.

(۴) **عقلي جواب:** په دنيا کي دا يو رواج دی چي کله يو ادنیٰ انسان باچا ته يا وزير ته او يا بل مأمور ته ځان رسوي نو هغه به يا پيسې لري يا به ښه واسطه، او په آخرت کي پيسې کار نه کوي، خو واسطه کار کوي، او موږ ډېر کمزوري او ګناهګاره انسانان يو، او له خدای ﷻ څخه ډېر ليري يو، لهذا که موږ خدای ﷻ ته ځان رسوو، نو يوې واسطې ته ضرورت سته، او واسطه موږ هغه وخت پيدا کولای سو، چي موږ يو استازی ولرو، او استازی پرته له رسولِ مقبول څخه بل څوک نه سي کېدلای. نو د عقل تقاضا دا سوه چي مصنف رَحِمَهُ الله او موږ ټوله پر جناب ﷺ درود ووايو، چي په ورځ د قيامت هم رسول ﷺ زموږ لپاره د شفاعت يوه واسطه سي، وصلى الله عليه وسلم.

وكثير من الأحاديث والآيات والدلائل العقليه تدل على كثرة الصلوٰة وفضيلتها، إن تريد التفصيل فعليك بالمطولات ونكتفي بذلك.

سوال: تاسو څرنګه د دې خبرې جرئت کوی چې بنده له الله ﷻ څخه لیرې دی، ستاسو دا خبره خو د قرآن کریم د دغه آیت بالکل مخالفه ده: وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ الْوَرِيْدِ [سورة ق: ۱۶]، (الله ﷻ فرمايي مونږ بنده ته د غاړې تر ښارګ هم زیات نژدې یو)؟

جواب: هو! بنده الله ﷻ ته نژدې دی خو د هغه د علم او قدرت په اعتبار، او بنده له هغه څخه لیرې دی د خپلو نالائقو اعمالو او کړنو په اعتبار، نو معلومه سوه چې بنده الله ﷻ ته قریب دی من وجهٍ او لیرې دی من وجهٍ فلا اعتراض والتناقض، لأن شرط التناقض ثمانية اشياء فإن ترید التفصیل فانظر فی حاشیة شمة ص: ۴ وحاشیه: ۵، والله أعلم بالصواب.

ترکیب: وَالصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ عَلیٰ رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ تَعَالىٰ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرِ الْوَرَىٰ.

والصلوٰة مرفوع لفظاً معطوف علیه، والسلام وربانديې عطف، معطوف علیه سره د معطوفه به مبتداء سي، عَلیٰ جار، رسول مضاف هاء ضمیر ته، هغه ضمیر یې مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه به مبدل منه سي، محمد موصوف، خیر مضاف، الوریٰ مضاف الیه، مضاف سره د مضاف الیه به صفت لپاره د محمد سي، موصوف به سره د صفته بدل د مبدل منه سي، مبدل منه به سره د بدله مجرور د علی سي، جار به سره د مجروره تعلق ونیسي تر ثابتان پوري، ثابتان تثنیه اسم فاعل دی، ضمیر د هُمَا پکښې مستتر دی، او راجع دی والصلوٰة والسلام ته، دا به یې نائب فاعل سي، اسم فاعل سره د نائبِ فاعله او متلعقه به خبر د مبتداء سي، مبتداء به سره د خبر جمله اسمیه معطوفه سي.

د "صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" **ترکیب**: صلّی فعل، الله ذوالحال، تعالیٰ صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم، ضمیر د هُو پکښې مستتر دی، علیٰ جار، ه ضمیرِ مجرور، جار به سره د مجروره تعلق ونیسي تر تعالیٰ پوري، تعالیٰ فعل سره د فاعله او متعلقه به حال سي لپاره د ذوالحال، دا به فاعل د صلّی سي، فعل سره د فاعله به جمله فعلیه دعائیه سي، واو عاطفه، سلّم صیغه د واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم، ضمیر د هُو پکښې مستتر دی، هغه یې فاعل، فعل سره د فاعله به جمله فعلیه معطوفه سي.

وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْمُتَأَدِّبِيْنَ بِالتَّقْوٰى.

ترجمه: او [رحمت او سلام دي وي] پر آل د هغه ﷺ او پر ملګرو د هغه ﷺ داسي ملګري چي هغوی موصوف دي په پرهيزګارۍ سره.

تشريح: مورږ د وعلى آله و أصحابه.....إلخ معنىٰ څکه داسي وکړه چي رحمت او سلام دي وي.....إلخ، چي دا جمله عطف ده پر على رسوله باندي، نو کوم حکم چي د معطوف عليه وي، هغه به د معطوف هم وي، مثلاً لکه يو سړی چي ووايي: جَاءَنِیْ زَيْدٌ وَعَمْرٌو، نو کوم مجيئت چي زيد لره ثابت دی، دا به عمرو لره هم ثابت وي فتدبّر، او صلّى الله عليه وسلّم يوه جمله معترضه ده، جمله معترضه دا معنىٰ چي د ماقبل او مابعد سره څه تعلق نه لري فتأمّل.

"صلاة على غير النبى" يعني له نبي څخه پرته پر بل چا درود ويل جائز دي که نه؟

پوه سه! چي په صلوٰة على غير النبى کي درې مذهبه دي:

اول مذهب: دا دی چي صلوٰة على غير النبى نه په طريقه د استقلال سره جائز دی او نه په طريقه د تبعيت سره.

دويم مذهب: دا دی چي صلوٰة على غير النبى هم استقلالاً جائز دی او هم تبعاً.

دريم مذهب: دا دی چي صلوٰة پر بل چا په طريقه د استقلال سره ناجائز دی په دې توګه چي داسي ووايي: اَلصَّلٰوةُ عَلَيْهِ، يا الصَّلٰوةُ عَلٰى اٰلِه، او يا الصَّلٰوةُ عَلٰى أَصْحَابِه، او په طريقه د تبعيت سره جائز دی په دې توګه چي اول پر مبارک ﷺ صلوٰة وويل سي، بيا د هغه په تابعداري کي پر آل او اصحابو رضي الله عنهم وويل سي، لکه شارح رَحِمَهُ الله چي ويلی دی.

راجح مذهب: دريم مذهب راجح دی، چي صلوٰة على غير الأنبياء استقلالاً ناجائز او تبعاً جائز دی.

د لغاتو حل:

لفظ د "آل" ته لنډه کتنه: د "آل" د لفظ په اصل کي دوه مذهبه دي:

(۱) **د سيبويه مذهب**: دا دی چي آل په اصل کي أَهْلٌ وو، بيا خلاف القياس هاء بدله سوه په همزه سره، نو أَأْلٌ ور څخه جوړ سو، بيا دا دويمه همزه په الف بدله سوه، نو آل ور څخه جوړ سو، لهذا آل اسم مکبر دی، او تصغير يې د سيبويه د مذهب مطابق أُهَيْلٌ راځي په هاء سره.

(۲) د کسائي مذهب: دا دی چې آل په اصل کې اَوَلٌ وو، بیا واو په الف سره بدل سو، نو آل ور څخه جوړ سو، او تصغیر یې اُوَیل راځي په یاء سره.

د "آل" او "أهل" توپیر: ګرانو طالبانو! باید پوه سو چې آل د أشرافو لپاره استعمالیږي، هغه که شرافتِ دنیوي وي، لکه آلِ فرعون، او که شرافتِ أخروي وي، لکه آلِ موسیٰ علیه السلام.

او أهل عام دی هم د اشرافو لپاره استعمالیږي، او هم د غیرِ اشرافو لپاره، د اشرافو مثال لکه أهل المدینة، او د أرذالو مثال لکه أهل الحجام.

"أصحاب" چا ته ویل کیږي: أصحاب جمع د صاحِب ده، صاحِب په لغت کې په معنیٰ د "ملګري" سره دی، او په اصطلاح د شریعتِ مطهره کې صَاحِب هغه چا ته ویل کیږي چې نبي ﷺ یې لیدلی وي، یا نبي ﷺ هغه لیدی وي، او پر نبي ﷺ یې ایمان راوړی وي، او بیا پر هغه ایمان وفات سوی وي.

المُتأدِّبِین: د تفعّل له باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، په معنیٰ د "موصوفین" سره راځي.

التقویٰ: د تقویٰ معنیٰ ده "ځان له کوچنیو او غټو ګناهونو او شبهاتو څخه ساتل".

سوال او جواب:

سوال: صلوٰة بغیر له پیغمبر څخه پر بل چا ویل ناجائز دي، نو مصنف رَحِمَهُ الله پر آل او اصحاب ولې صلوٰة ووایی؟

جواب: مصنف رَحِمَهُ الله ځکه پر آل او اصحاب صلوٰة ووایی چې د نبي ﷺ تر دې وعید لاندي رانه سي، نبي ﷺ فرمایلي دي: مَنْ ذَكَرَنِيْ وَلَمْ يَذْكُرْ آلِيْ فَقَدْ جَفَانِيْ، (یعني چا چې زه په درود سره یاد کړم او زما آل یې یاد نه کړي، هغه زما سره جفا وکړه).

سوال: په مذکوره حدیث کې خو د آل یادونه سوې ده، نه د اصحابو، لیکن مصنف رَحِمَهُ الله پر اصحابو هم درود ویلی دی؟

جواب: په بل حدیث شریف کې راځي: كُلُّ تَقِيٍّ نَقِيٍّ فَهُوَ آلِيْ، أو كما قال علیه السلام، (یعني هر پرهېزګاره انسان زما له آل څخه دی)، نو اصحاب خو په درجه اولیٰ د دې حدیث له رویه په آل کې شاملیږي، فلا اعتراض.

تبصره: پورتني حديث ته په کتني سره هر هغه مسلمان چي پرهېزګاره وي د نبي ﷺ په آل کي شامليږي.

ترکيب: وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ الْمُتَأَدِّبِيْنَ بِالتَّقْوىٰ.

واو عاطفه، عَلٰى حرفِ جر، آل مضاف، هاء ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه به معطوف عليه سي، واو عاطفه، أصحاب مضاف، هاء ضمير مضاف اليه، مضاف سره د مضاف اليه به معطوف سي، معطوف عليه به سره معطوفه موصوف سي، المتأدبين صيغه د اسم مفعول، بالتقوىٰ جار او مجرور دا به ظرف لغو سي، تعلق به ونيسي تر اسم مفعول المتأدّبين پوري، اسم مفعول به سره د نائبِ فاعله (چي ضميرِ مستتر دی) او سره د متعلقه شبه جمله سي، دا به صفت لپاره د موصوف سي، موصوف به سره د صفته معطوف د معطوف عليه سي، معطوف عليه به سره د معطوفه مجرور لپاره د علىٰ سي، جار به سره د مجروره ظرفِ مستقر په اعتبارِ د متعلق سره خبر لپاره د الصلوٰة محذوفه سي، مبتداء به سره د خبره جمله اسميه دعائيه سي.

أَمَّا بَعْدُ: فَقَدِ الْتَمَسَ بَعْضُ الْإِخْوَانِ عَنِّيْ أَنْ أَكْتُبَ عَلٰى نَظْمِ الْعَوَامِلِ عِدَّةَ أَسْطُرٍ يُكْشَفُ بِهَا أُصُوْلُهَا وَفُرُوْعُهَا وَعَمَلُهَا وَمَدْخُوْلُهَا وَاَسْمَائُهَا. (د نور عبارت معنىٰ ښکاره ده).

ترجمه: وروسته تر بسم الله او حمد او درود شريفه: طلب وکړی زما څخه بعضي ورونو چي زه وليکم پر هغو ابياتو چي په هغو کي عوامل ليکل سوي دي يو څو ليکي چي د هغو په ذريعه سره د دغو عواملو اصول، فروع، عمل، مدخول او اسماء ښکاره (واضح) سي.

تشريح:

د أَمَّا تحقيق: اَمَّا حرفِ شرط دی، په اصل کي مَهْمَا وو، بيا خلافُ القياس هاء په همزه بدله سوه، نو مَئْمَا ورڅخه جوړ سو. وروسته بيا قلبِ مکاني وسو په مينځ د همزې او د اول ميم کي په دا ډول چي ميم د همزې ځای ته يووړل سو، او همزه د ميم ځای ته، نو أَمْمَا ورڅخه جوړ سو. بيا ميم په ميم کي مدغم کړل سو، نو أَمَّا په تشديد د ميم سره ځني جوړ سو.

د بَعْد کلمه اول چا استعمال کړي ده؟: کلمه د بَعْد اول داؤد عليه السلام استعمال کړې ده.

دويم قول: دا دی چي دا کلمه اول يعقوب عليه السلام استعمال کړې ده.

د "بَعْد" درې (۳) حالات: ① د بَعْد اول حالت دا دی چې مضاف اليه يې لفظاً ور سره ذکر وي، ② دويم دا دی چې مضاف اليه يې نسياً منسياً حذف سوی وي، يعني مضاف اليه يې نه لفظاً ذکر وي، او نه په نيت کې ور سره وي، ③ درېيم دا دی چې لفظاً مضاف اليه نه وي ذکر، خو په نيت کې ور سره وي، دې ته حذفِ منوی ويل کيږي.

"بَعْد" په کوم حال کې مبني او په کوم حال کې معرب وي؟: بَعْد په اول او دويم حال کې معرب وي، او په درېيم حال کې مبني وي، په اولو دوو حالاتو کې ځکه معرب وي چې يو لامل د بناء يې نسته، او اصل په اسماؤ کې اعراب دی، نو ځکه به معرب وي په حرکت سره، او هغه حرکت به ضمه وي، او په درېيم حال کې ځکه مبني دی چې هغه د حرف سره په احتياج کې مشابهت پيدا کړی، ځکه څرنګه چې حرف پر معنیٰ باندې په دلالت کولو کې بلې کلمې ته محتاج وي، همدارنګه بعد هم په درېيم حالت کې ضم د بلې کلمې ته محتاج وي، او حرف خو مبنيُ الأصل دی، نو بَعْد هم مبني سو.

د لغاتو حل: ﴿نظم﴾ خلاف د نثر (مراد ځني دغه ابيات دي)، ﴿أسْطر﴾ جمع، مفرد يې سِطْرٌ دی، کرښې ته ويل کيږي، ﴿إنْكشف﴾ مصدر يې كَشْفٌ راځي، مراد ځني وضاحت او څرګندول دي، ﴿إسْعَاف﴾ د "مقصد پوره کولو" ته ويل کيږي، ﴿مُرَام﴾ مقصد ﴿قَاصِر﴾ کوتاه، ﴿فَاتِر﴾ سست.

سوال او جواب:

تَقَدَّمَ الشَّمْس.....الخ: دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چې شارح رَحِمَهُ الله دغه کتاب شمه ولې وليکی، عوامل خو ناظم رَحِمَهُ الله په بيتونو کې ذکر کړي ول؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په پورتني عبارت سره جواب ورکوي، خلاصه يې دا ده چې زما بعضي ملګرو زما څخه دا هيله وکړه چې د دغو ابياتو تشريح وکړم، نو ځکه ما په دې کار شروع وکړه.

وَحَرَّرْتُهَا..... بيا د عبارت تر آخره: تر آخره پورې د عبارت مطلب دا دی چې دا هر څه چې ما ليکلي دي، دا معتمد او د استفادې وړ دي، همدارنګه شارح رَحِمَهُ الله دلته د عاجزۍ او د نفس د شکست اظهار هم کوي، او وايي: دا کوم څه چې ما ليکلي دي، دا مې يا له معتبرو استاذانو څخه اورېدلي دي يا مې په

معتمدو كتابونو كي ليدلي دي، نو ځكه دا تړوله د باور دي، د شارح له دغه عبارت څخه دا خبره هم ښکاره کيږي چي نوموړى يو مخلص او متقي انسان دى، ځكه چي هغه د نفس په خلاف كار وكړى، خپل هر څه يې خپلو استاذانو او نورو كتابونو ته منسوب كړل.

"توفيق" په لغت او اصطلاح كي: توفيق په لغت كي د يو چا سره كومك (مرسته) كولو ته وايي، او اصطلاحي معنىٰ يې محشي داسي ليكلې ده: جَعْلُ أَسْبَابِ الْعَبْدِ مُوَافِقًا لِمَا هُوَ خَيْرٌ فِيْ حَقِّهِ عِنْدَ اللهِ، (يعني د اسبابو ګرځول په داسي طريقه سره چي هغه د دغه بنده لپاره خير وي د الله ﷻ په نيز)، كله ناكله يو انسان كار كوي او پر مختګ هم پكښي وكړي، اسباب هم ور سره وي، خو عند الله په هغه كار كي مأخوذ وي، نو د توفيق دغي معنىٰ ته په كتني سره دا هم توفيق نه وي، ځكه چي د توفيق په معنىٰ كي د لما هو خير في حقه عند الله جمله راغلې ده، لهذا د يو چا په ناروا كار كي پرمختګ يا يو داسي پرمختګ چي عند الله د هغه په باره كي تاوان وي هغهٔ توفيق نه دى.

نظم: بعد تحميد خدواند درودِ مصطفىٰ ... نعت آل پاك پيغمبر رسولِ مجتبىٰ

ترجمه: وروسته تر حمد د الله ﷻ [او] وروسته تر درود پر پيغمبر ﷺ ... [او] وروسته تر صفت او مدحي د آل د غوره كړل سوي پيغمبر ﷺ.

متن: أَقُوْلُ اِبْتَدَءَ النَّاظِمُ بَعْدَ قَوْلِهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بِحَمْدِ اللهِ (تَعَالىٰ) لِلْوَجْهَيْنِ.

تشريح: غرض د مصنف رَحِمَهُ الله په دې عبارت "أَقُوْلُ اِبْتَدَأَ النَّاظِمُ بَعْدَ قَوْلِهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بِحَمْدِ اللهِ (تَعَالىٰ) لِلْوَجْهَيْنِ" سره جواب دى له سوال مقدر څخه.

سوال: دا دى چي غرض د ناظم رَحِمَهُ الله خو د عواملو بيان وو، نو شروع د هغه په حمد سره شروع په غير مقصود سره ده، بايد چي هغه داسي نه واى كړي؟

(۱) جواب: شارح رَحِمَهُ الله له مذكوره سوال څخه دوه جوابونه وركوي، يو په دې عبارت سره: إِمَّا أَدَاءً لِلشُّكْرِ الْوَاجِبِ... إلى آخره. حاصل د دغه جواب دا دى چي ناظم رَحِمَهُ الله ځكه په حمد سره شروع وكړه چي د نظم په ويل د عواملو ذكر كول او د هغو علم دا د الله ﷻ له طرفه يو ستر نعمت دى، او پر هر نعمت شكر اداء كول واجب دي، نو د دې واجب شكر لپاره ناظم د خپلو اشعارو په پيل كي حمد ووايي.

(۲) جواب: أَوْ لِئَلَّا يَكُوْنَ مُخَالِفًا لِلتَّنْزِيْلِ...إلخ، د دويم جواب خلاصه دا ده چي ناظم رَحِمَهُ الله وروسته تر بسم الله ځکه حمد راوړی تر څو د کتابُ الله مخالفت را نه سي، همداسي له هغه مشهوره حديث او سلفِ صالحينو څخه مخالفت را نه سي.

فَإِنْ قِيْلَ لَيْسَ هٰهُنَا...إلخ مخکي شارح رَحِمَهُ الله دوه جوابونه ورکړل، پر هغو سوال واردېږي.

سوال: دا دی چي نه دلته شکر اداء سو، او نه ناظم رَحِمَهُ الله له مخالفت څخه خارج سو، ځکه چي هغه خو حمد نه دي ويلی، بلکي خبر يې له حمد څخه ورکړی دی، او خبر ورکول له حمد څخه عينِ حمد نه دی؟

(۱) جواب: شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب ورکوي: قُلْنَا الْإِخْبَارُ عَنِ الْحَمْدِ حَمْدٌ.....إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي خبر له حمد څخه ورکول هم حمد دی، لکه خبر د حسناتو چي ورکول حسنات دي، او په دليل کي يې دا قول د پېغمبر ﷺ وراندي کړی دی چي "څوک د نېکۍ خبر ورکړي، هغه داسي دی لکه نېکي کوونکی"، نو ګواکي ناظم هم حمد ووايي.

(۲) جواب: دويم جواب په دې عبارت سره ورکوي: وَالْإِخْبَارُ عَنِ الشَّيْئِ.....إلخ، خلاصه يې دا ده چي که موږ دا در سره ومنو چي إخبار عن الحمد عينِ حمد نه دی، خو له يو شي څخه خبر ورکول د هغه شي ترجمه وي، نو اول به ناظم رَحِمَهُ الله بسم الله ويلې وي، او وروسته به يې حمد ويلی وي، او که ته د اوايې چي هغه په کتابت کي نه دي ذکر کړی، نو جواب دا دی چي د حمد لپاره کتابت ضروري نه دی، حمد په زړه او ژبه هم اداء کيږي، او په کتابت سره هم اداء کيږي، نو شارح به حمد په زړه يا په ژبه ويلی وي، او دا څه نقصان نه کوي چي په کتابت کي يې نه دي ذکر کړی.

وَالتَّحْمِيْدُ مَصْدَرٌ مِنْ بَابِ حَمَّدَ يُحَمِّدُ...إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د "تحميد" دلفظ تشريح ده کوم چي په بيت کي تېر سو، نو فرمايي چي تحميد له حَمَّدَ يُحَمِّدُ څخه يعني د تفعيل له باب څخه مصدر دی.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله وفرمايل: وَالتَّحْمِيْدُ مَصْدَرٌ، دا خو تعريف د يوشي په خپل نفس سره راغلی، ځکه چي تحميد هم مصدر دی، او دا باطل دي؟

جواب: موږ جواب ورکوو، دا سوال به هلته واردېدلای چي زموږ مراد په تحميد سره مصدر وای، خو داسي نه ده بلکي زموږ مراد په تحميد سره لفظ د تحميد دی.

قوله ودرودِ مصطفیٰ حَاصِلُهُ بعد درودِ مصطفیٰ فَهُوَ عَطْفٌ...إلخ غرض د شارح په دې عبارت سره د نظم د دې جملې: د درودِ مصطفیٰ وضاحت دی، خلاصه یې دا ده چې درود پر تحمید باندې عطف دی، او قاعده دا ده چې کوم حکم د معطوف علیه وي، هغه حکم به د معطوف هم وي، لکه یو څوک چې ووایې: جَاءَنِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو نو دا مجیئت چې څرنګه زید لره ثابت دی، همدارنګه عمرو لره هم ثابت دی، او تر "تحمید" مخکې لفظ د "بعد" راغلی وو، نو دلته به هم هغه ملحوظ وي، نو خلاصه به یې داسې "چې وروسته تر حمد او درود".

سوال: ګرانو طالبانو! محشي یو سوال ذکر کړی دی، او د هغه دوه جوابونه یې ورکړي دي، د سوال خلاصه دا ده چې شارح رَحِمَهُ الله خو وفرمایل چې درود عطف دی پر تحمید، او د عطف لپاره حرفِ عاطف ضروري دی، لیکن دلته په شعر کې خو د معطوف علیه او معطوف په مینځ کې هیڅ حرفِ عاطف نشته؟

(۱) **جواب:** د عطف لپاره منم چې حرفِ عاطف ضروري دی، خو په عربي ژبه کې ضروري دی، او دلته شعر په فارسي ژبه دی فَلَا یَرِدُ مَا یَرِدُ.

(۲) **جواب:** حرفِ عاطف مخکې وو، خو د ضرورتِ شعري (چې سجع د شعر ده) له کبله حذف سو.

تنبیه: دغه فوق الذکر سوال پر هغه نسخه واردیږي چې په هغې کې حرفِ عاطف نه وي، که حرفِ عاطف وي، هلته بیا دغه اعتراض نه واردیږي، زما مخته چې کومه نسخه ده په هغې کې عبارت د نظم داسې دی: بعد تحمید خداوند ودرودِ مصطفیٰ، دغه نسخه دامیر حمزه کتب خانې چاپ ده. والله أعلم

وَالْمُرَادُ مِنَ الدُّرُوْدِ الرَّحْمَةُ وَإِفَاضَةُ الْخَیْرِ مِنَ اللهِ تَعَالىٰ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب دی له سوال مقدر څخه.

سوال: دا دی چې درود خو عبارت دی له صلوٰة څخه، او د صلوٰة دوې حقیقي معناوې دي: ① حقیقي لغوي معنیٰ، هغه دا ده چې "مورِ له الله ﷻ څخه غواړو" یعني دعاء کوو، او له هغه څخه رحمت غواړو، ② دویمه حقیقي شرعي معنیٰ، چې هغه "ارکانِ مخصوصه" دي، لکه تکبیرِ تحریمه، رکوع، سجده.....؛ کله چې و "عبد" (بنده) ته نسبت د صلوٰة وسي، نو کله ناکله اوله حقیقي معنیٰ څني مراد وي، مثال لکه: نُصَلِّیْ عَلىٰ مُحَمَّدٍ، او کله ناکله مراد څني ارکانِ مخصوصه وي، لکه زَیْدٌ صَلّٰی، أَیْ أَدّٰی

الْأَرْكَانَ الْمَخْصُوْصَةَ، او كله چي يې الله ﷻ ته نسبت وسي، نو حقيقي معنیٰ (يعني غوښتل او دعاء كول) ځني مرادول مشكل وي، ځكه چي دعاء د الله ﷻ په حق كي محاله ده، او نه دويمه معنیٰ ورڅخه مرادېدلای سي، بلكي په دې وخت كي به مجازي معنیٰ ورڅخه اخيستل كيږي، او علاقه په مينځ د حقيقي او مجازي معنیٰ كي سببيت دی، ځكه چي مراد له حقيقي معنیٰ څخه اوله معنیٰ ده او هغه سبب دی، او مجازي معنیٰ ده چي رحمت دی، نو سائل وايي چي له دغو دوو معناوو څخه مراد كومه معنیٰ ده، او صلوٰة چا ته منسوب دی؟

جواب: د جواب خلاصه دا ده چي مراد له صلوٰة څخه دلته مجازي معنیٰ ده، او دلته مجاز مرسل استعمال سوی دی، ذكر د سبب سوی دی چي دعاء يا اركان مخصوصه دي او مراد ور څخه مسبب دی چي رحمت دی، ځكه چي دعاء يا ركوع او سجدې دا هم د رحمت اسباب دي.

متن: قوله مصطفیٰ أَصْلُهُ مُصْتَفَيٌ بِالتَّاء...إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د مصطفیٰ د لفظ اعلال دی، خلاصه يې دا ده چي مصطفیٰ اسم مفعول دی، او په اصل كي مُصْتَفَيٌ وو، بيا تاء په طاء سره بدله سوه د يوې صرفي قاعدې په وجه، هغه:

قاعده: دا ده چي كله تاء د افتعال وروسته تريوه حرف له حروف مستعليه مطبقه وو څخه راسي (چي هغه صاد، ضاد، طاء او ظاء دي)، نو هغه به وجوباً په طاء سره بدليږي، نو كله چي په مصطفیٰ كي هم تاء وروسته تر صاد واقع سوه، نو په طاء بدله سوه.

متن: ثُمَّ الْآلُ عَلَىٰ قِسْمَيْنِ...إلخ په نظم كي لفظ د آل راغلی وو، شارح رَحِمَهُ الله د آل وضاحت په دغه مذكوره عبارت سره كوي، خلاصه يې دا ده چي آل پر دوه قسمه دی:

د "آل" قسمونه: آل پر دوه قسمه دی: ① آلِ نسبي، ② آلِ حسبي.

(۱) آلِ نسبي: د علي ﷺ، جعفر ﷺ، عقيل ﷺ، حمزه ﷺ، عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او حارث بن عبد المطلب آل، لنډه دا چي هر هغه قوم چي د هغو لپاره د زكاة اخيستل حرام وي، هغه د نبي ﷺ نسبي آل (نسبي اولاد) دي، او همداسي خلفاء اربعه دي.

(۲) آلِ حسبي: د رسول الله ﷺ آل حسبي هر هغه څوك دی چي مُتقي او پرهېزګاره وي.

ترنظم پوري ستاسو پاته سبق تفصيل ته ضرورت نه لري.

نظم: هست مدح خسرو غازی معز الدین ... حامی دین آفتاب معدلت ظل خدا

ترجمه: دی صفت د باچا غازي مُعِز الدين حسين ... چي ساتونكى د دين، لمر د عدل او سايه (رحمت) د خداى ﷻ دی.

تشريح:

قوله هست.....إِلىٰ قَوْلِه خسرو: په دې عبارت سره شارح رَحِمَهُ الله له يو سوال مقدر څخه جواب وركوي، د سوال خلاصه دا ده چي ناظم رَحِمَهُ الله بايد تر بسم الله او حمد وروسته د عواملو په بحث شروع كړې واى، ځكه چي مقصد د ناظم خو د عواملو بيان دى نه د باچا مدح؟

جواب: يې شارح رَحِمَهُ الله په دغو الفاظو سره وركوي: قوله هست مدح...الخ، يعني بايد مسلمان و مسلمان ته دعاء وكړي، دا يو ښه كار دى، په ځانګړې توګه بيا داسي چا ته چي هغه عادل باچا وي، ځكه چي عادل باچا ډېره غټه مرتبه لري، لكه په يو حديث كي چي هم راغلي دي.

د حديث مفهوم: دا دی چي په ورځ د قيامت به (اووه ۷) كسان الله ﷻ په خپله خاصه سايه كي ساتي، په داسي حال كي چي بله به هيڅ سايه نه وي، يو له هغو اوو كسانو څخه عادل باچا هم دی، نو شارح رَحِمَهُ الله وايي چي دا څه مشكل نه لري چي كه ناظم د باچا مدح بيان كړې وي.

د لغاتو حل:

قوله خسرو لَفْظٌ عَامٌ...إِلىٰ قَوْلِه غازی: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د نظم د لغاتو حل دی، په نظم كي لفظ د خسرو راغلى وو.

"خسرو" چا ته ويل كيږي؟: فرمايي چي لفظ د خسرو يو عام لفظ دی، پر هر باچا يې اطلاق كيږي، د يو معين شخص لپاره عَلَمْ نه دی، او داسي دی لكه لفظ د رَجُلٌ او فُلَانٌ چي پر هر چا يې اطلاق كيږي.

وَفِي الْأَصْلِ لَقَبٌ لِمُلُوْكِ الْفَارِسِ:

د اسم دري قسمونه: په دې سره كرانه طالب جانه! چي محشي رَحِمَهُ الله اسم و دريو اقسامو ته تقسيم كړى دی:

(۱) اسم محظه: هغه نوم ته وايي چي مور او پلار پر خپل اولاد ايښى وي.

(۲) اسمِ لقب: هغه نوم ته وايي چي د يو چا د مدح (ښه والي) او ذم (بداولي) ښكارندويي كوي، د مدح مثال لكه سيد الأنبياء چي د محمد ﷺ لپاره لقب دی، د ذم مثال، لكه د يو بد سړي لپاره چي تَأَبَّطَ

شَرًّا اسم وګرځول سي، د تَأَبَّطَ شَرًّا معنیٰ دا ده چي شر يې په بغل کي نيولی دی(دا د هغه انسان لپاره استعماليږي چي له شر او بد څخه بغير بل کار نه لري).

(۳) اسمِ کنيه: هغه نوم ته وايي چي يو څوک په أب يا إبن سره ونومول سي، لکه رسول الله ﷺ چي په أَبِي الْحَسَنَات سره نومول سوی دی، همدا ډول لکه ابو طالب، ابو لهب، ابن احمد، ابن محمد وغيره، نو کله چي په رجل يا فلان سره اشاره وکړل سي و داسي چا ته چي هغه متکلم او مخاطب ته معلوم وي، نو بيا يې پر يو معلوم کس هم اطلاق کېدلای سي،نو دا لفظ د خسرو همداسي دی چي پر هر باچا يې اطلاق کېدلای سي خو په اصل کي د فارس د باچاهانو لقب دی.

"ملوكُ الفَارس" ته لنډه کتنه: ملوك جمع ده، مفرد يې مَلِك په فتحه د ميم او کسره د لام سره راځي په معنیٰ د باچا سره دی، فَارِس: په کسره د راء سره، د ايران د يو ولايت نوم دی.

د قيصر تحقيق: محشي د قيصر تفصيل داسي ذکر کړی دی چي قيصر په رومي ژبه کي هغه هلک ته ويل کيږي چي د مور تر مرګ وروسته د مور له نس څخه په څيرولو (عمليات) سره پيدا سوی وي، نو ځرنګه چي د قيصر له باچاهانو څخه داول باچا خپل نوم اعنطوس وو او په همدغه ډول پيدا سوی وو، نو ځکه د قيصر لفظ د روم د ټولو باچاهانو لقب وګرځېدی.

مُعَرَّب: داسم مفعول صيغه ده، يعني له عجمي ژبي څخه عربي ته اړول سوی.

قوله غازي... إلیٰ فَإِنْ قِيْلَ: شارح رَحِمَهُ الله دلغاتو تشريح کوي، نو فرمايي چي "غازي" اسم فاعل دی، د غَزَا يَغْزُوْا (نَصَرَ) له باب څخه، په معنیٰ سره "د جهاد او غزا" دی، او که په "ذال" سره وي، نو معنیٰ يې "قوت پيدا کېدل" دي، خو دلته په زاء سره دی، چي معنیٰ يې د "جهاد کوونکی" ده.

د غازي اقسام: غازي په شعريت کي پر دوه قسمه دی؛ ① حقيقي، ② عرفي.

(۱) حقيقي غازي: هغه څوک دی چي د نفس او شيطان مخالفت کوي، او د هغو سره جنګ کوي، لکه په يو حديث شريف کي چي هم ذکر سوي چي کله رسولُ الله ﷺ او د هغه ملګري له جهاد څخه واپس راغلل، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: رَجَعْنَا مِنَ الْجِهَادِ الْأَصْغَرِ إِلَی الْجِهَادِ الْأَكْبَرِ (يعني موږ له کوچني جهاد [يعني د کفارو له جنګ] څخه غټ جهاد [يعني د نفس او شيطان سره مقابلې] ته را وګرځېدو)، نو حقيقي غزا د نفس سره مقابله کول دي.

(۲) **عُرفي غازي**: هغه چا ته ویل کیږي چه هغه د کفارو او د هر هغه چا سره جنګ کوي چې د نبي ﷺ د شریعت مخالف وي.

د "أَبْطَحِي" څېړنه: أبطحی د نبي ﷺ صفت دی ، او أَبْطَحُ مقام ته منسوب دی، په آخر کي یې یاء نسبتیه ده، لکه یو سړی چې په قندهار کي اوسیږي، نو "قندهاري" ورته ویل کیږي، او که په زابل کي اوسیږي، نو "زابلي" ورته ویل کیږي؛ أبطح د مکې معظمې او طائف په مینځ کي یوه شېله ده، او نبي کریم ﷺ ته ځکه ابطحی ویل کیږي چې هغه د أبطح مقام ته نژدې اوسېدلی دی.

د "مُعِز الدین" څېړنه: ګرانو طالبانو! مُعِزُّ الدین د إفعال له باب څخه د اسم فاعل صیغه ده، په اصل کي مُعْزِزٌ وو، لکه مُکْرِمٌ، خو کله چې دوه حرفه له یوه جنس څخه راغلل، نو د متجانسینو په قاعدې سره یوه زاء په بله زاء کي مدغم کړل سوه، نو مُعِزٌّ ور څخه جوړ سو، معنیٰ یې دا ده "دین ته عزت ورکونکی"، شارح رَحِمَهُ الله فرمایي چې پر دې یو سوال واردیږي.

سوال: دا دی چې عزت خو هغه شي ته ورکول کیږي چې هغه محسوس وي لکه انسان یا داسي بل شی، او دین خو غیر محسوس دی.

جواب: فرمایي چې دا مُعِزُّ الدِّیْن په حذف دَ مضاف سره دی، تقدیر د عبارت داسي دی: مُعِزٌّ لِأَهْلِ الدِّیْن، (یعني د دیندارو خلکو عزت کوونکی دی).

قوله حُسَیْن هُوَ إِسْمُ مَحْض إلخ

د "حُسین" د لفظ تحقیق: حُسین اسم محض د باچا دی، او تصغیر د حَسَنَ دی، څرنګه چې تصغیر د مختلفو مقاصدو لپاره راځي، لکه سپکاوی، درناوی، شفقت او داسي نور، نو ځکه شارح رَحِمَهُ الله فرمایي چې دا تصغیر د عزت یا شفقت لپاره دی؛ موږ په پښتو کي هم دا ډول تصغیر په خپل مینځ کي استعمالوو، لکه پلار چې خپل زوی ته وایي: زوریکیه!، حاصل دا چې دلته دا تصغیر یا د شفقت لپاره دی یا د عزت لپاره.

د "سِبط" د لفظ تحقیق: سِبط په کسره د سین سره "لمسي" ته ویل کیږي، هغه که د زوی له خوا څخه وي او که د لور له خوا څخه، خو دلته له امام سبط څخه مراد حسین بن علي کَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ دی، او حسن او حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دواړو ته سِبطین ویل کیږي.

قوله حامی دین إلی قوله آفتاب

حاميُ الدين: دا هم هغــسي دی لکه مُعِزُّ الدین، له دوو کلمو څخه مرکب دی، او حامي له حَمٰی يَحْمِيْ یعني د ضَرَبَ يَضْرِبُ له باب څخه ناقص دی، معنا يې کومک (او مرسته) کول دي، دلته هم هغه سوال کیږي کوم چې په معزالدین کې وسو، چې په "وَفِيْهِ نَظَرٌ" سره شارح رَحِمَهُ الله هغه سابق سوال ته اشاره کړې وه.

سوال: دا دی چې د حامی الدین معنیٰ خو دا ده چې امداد کوونکی د دین، او امداد خو د یو محسوس شي کیږي، او دین غیر محسوس دی، لهذا د ناظم دا قول حامی الدین صحیح نه دی؟

جواب: دا دی چې دلته دین په حذف د مضاف سره دی، تقدیر د عبارت داسي دی: حَامِيْ لِأَهْلِ الدِّيْنِ، فَلَا إِشْكَالَ.

د دین لغوي معنیٰ: دین له دَانَ يَدِيْنُ یعني له ضرب یضرب څخه په معنیٰ د "گردن نهاد" (غاړې ایښوولو) سره راځي.

د دین اصطلاحي معنیٰ: هُوَعَلَمٌ لِلْأَحْكَامِ الْمُنْزَلَةِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ (یعني دین د هغو احکاماتو نوم دی کوم چې پر رسولِ مقبول ﷺ نازل سوي دي).

شارح رَحِمَهُ الله وایي: دین مصدر دی، او دلته په حامي الدین کې په معنیٰ د مفعول سره راغلی دی، یعني الأحکام المنقادة، غاړه ایښوول سوي (او تابع) احکام.

قوله آفتاب معدلت ..... إلی النظم ناظم رَحِمَهُ الله وفرمایل چې باچا داسي دی لکه لمر.

شَبَّهَ النَّاظِمُ السُّلْطَانَ فِي الْعَدْلِ إلخ دغه عبارت جواب دی له یو سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چې ناظم رَحِمَهُ الله د باچا تشبیه د لمر سره ورکړه، او د مُشَبَّه او مُشَبَّه بِه په مینځ کې خو وجه د تشبیه ضروري ده، نو باچا په کوم شي کې د لمر سره مشابه دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي: إِمَّا فِي الْإِسْتِوَاءِ عَلٰى كُلِّ شَيْئٍ، یا خو دغه باچا د لمر سره په دې خبره کې مشابه دی چې څرنګه لمر پر غریب او تولو علی السویه (یو ډول او برابر) بغیر له څه توپیره راخیږي، همدارنګه د دې باچا عدل او سخا هم پر ټوله عوامو بغیر له څه توپیره ول.

دویمه وجه د تشبیه: یا خو باچا د لمر سره ﻟﻰ الظّهور مشابه دی، یعني لکه څرنګه چي لمر پر نادار، غریب او شتمن علی السویه(برابر) راخیږي، همدارنګه د دې باچا عدل هم د ټولو لپاره برابر وو، د نادار او شتمن توپیر به یې نه کوی، داسي وخت نه وو لکه نن صبا چي د نادار ږغ تر یوه ځایه نه رسیږي، او شتمن که هر څه کوي او هر څه وایي هغه پوره کیږي.

قوله ظلّ خدا: دغه عبارت جواب دی له یو سوال مقدر څخه.

سوال: دا دی چي سایه خو جسمداره (جسم لرونکي او صورت لرونکي) شیان لري، او الله ﷻ خو له جسم څخه منزّه دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکړی چي مراد له ظل څخه رحمت دی، لکه مبارک ﷺ چي هم فرمایلي دي: "عادل باچا د خلکو لپاره د خدای ﷻ سایه یعني رحمت وي".

د "خُدا" د لفظ تحقیق: محشي رَحِمَهُ الله فرمایي چي "خُدا" په فارسي ژبه کي د الله ﷻ نوم دی، په معنیٰ د "خود آینده" (یعني خپله راغلي) سره دی، او دا کنایه ده د واجبُ الوجود له ذات څخه، او خُدا له "خود آینده" څخه را اخیستل سوی لفظ دی، او په پښتو کي چي موږ خدای ورته وایو، دا هم د "خود آینده" مخفف دی.

الله ﷻ ته په "خدا" سره ویل: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: جَائِزُالِاطْلَاق، یعني الله ﷻ ته په "خُدا" (خدای) سره ویل په اتفاق د علماؤ رَحِمَهُمُ الله جائز دي، او مخلوق ته بالکل ناجائز دي، هغه که په اضافت سره وي او که بغیر له اضافت څخه وي، د عدمِ اضافت(بې له اضافته) مثال دا دی چي یو سړی ووایي: احمد یا محمد "خدای" دی، او د اضافت مثال دا دی چي یو څوک ووایي: "خدا خانه" (د کور خدای).

لفظ د "خدواند" ته لنډه کتنه: د "خدواند" لفظ هم د بل چا لپاره استعمالول ناجائز او غټه ګناه ده، خو په اضافت سره یې د بل چا لپاره استعمالول جائز دي، لکه سعدي صاحب چي هم په شعر کي په اضافت سره د بل چا لپاره د "خداوند" لفظ استعمال کړی دی.

مصرعه: خداوند خانه خداوند ما ست

ژباړه: د کور مالک زما مالک دی

*****

نظم: بر خلائق واجب و بر بنده زاد فرضِ عین ... چون دعائی شاهزاده سال و مه صبح و مسا

ترجمه: د شعر معنیٰ دا ده چي د باچا مدح پر عامو خلکو واجب ده، او پر ما فرضِ عین ده ... لکه څرنګه چي دعاءلپاره د شاهزاده [چي د دغه باچا زوی دی] پر عامو خلکو اجب ده او پر ما فرضِ عین ده په ټولو وختونو کي (نو ناظم په دې کلام کي د باچا مدح مشابه کړې ده د دغه باچا د زوی د دعاء سره په دا ډول چي څرنګه چي د باچا د زوی لپاره دعاء کول پر عامو خلکو واجب او پر ما فرض عین ده په ټولو وختونو کي، همدغه رنګه د باچا دا مدح هم پر عامو خلکو واجب او پر ما فرضِ عین ده).

تشریح:

ثُمَّ الْوَاجِبُ عَلٰى ثَلٰثَةِ أَقْسَامٍ إلخ دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي ناظم رَحِمَهُ الله وفرمایل چي مدح د باچا پر خلکو اجب ده، نو د هغه له خبري څخه خو داسي معلومیږي چي که خلک د باچا مدح نه وکړي نو ګناهګاریږي، حال دا چي د باچا د مدحي په نه کولو سره څوک نه ګناهګاریږي؟

جواب: نو شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي چي.

د واجب قسمونه: واجب پر درې قسمه دی:

(۱) واجبِ شرعي: هغه دی چي مکلف (مسلمان) یې په نه کولو سره ګناهګاریږي، لکه وِتر، اُضحیه (قرباني) او داسي نور.

(۲) واجبِ استحساني: هغه دی چي کول یې ښه کار وي لکه په مجلس کي پر ګونډو کښېنستل، او مدح د باچا وغیرذٰلك.

(۳) واجبِ عقلي: هغه دی چي د انسان عقل د یو کار د ترک (پرېښوولو) تقاضا کوي، لکه لوړي خوا ته بولي (متیازي) کول، څکه لوړي خوا ته که سړی بولي کوي، نو دا د هغه د جامو د نجاست لامل ګرځي، نو سالمُ العقل انسان له دې کار څخه ځان ساتي.

د جواب اساسي جزء: وَالْمُرَادُ هٰهُنَا الْأَخِيْرَانِ: نو مراد دلته له واجب څخه دغه آخري دوه دي، څکه چي په ترک د مدح د سلطان سره ګناه نه لازمیږي.

وَأَمَّا الدُّعَاءُ لِلسُّلْطَانِ إلخ: دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي د باچا مدح او هغه ته دعاء کول به يو د بل سره څه توپير نه لري، دواړه به واجبِ استحساني يا واجبِ عقلي وي.

جواب: نو شارح رَحِمَهُ الله د دې سوال دفع کوي او فرمايي چي نه! د دواړو په مينځ کي توپير سته، ځکه چي باچا ته دعاء کول واجبِ شرعي دي، په نه کولو يې مسلمان گناهکاريږي، لکه په دې باره کي چي حديث هم محشي ذکر کړی دی: "چي کله باچا عادل وي نو د هغه لپاره د دې عدل أجر (ثواب) دی او پر عوامو يې شکر دی".

نو د شکر يو جزء دا هم دی چي هغه ته د خير او دايمان د سلامتيا دعاء وکړل سي.

قوله *بر بنده زاده فرض عين*: په تشريح کي شارح رَحِمَهُ الله ليکلي دي: الْفَرْضُ عَلٰى نَوْعَيْنِ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دفع د يو سوال ده، خو تر سوال مخکي يوه تمهيد ته ضرورت سته، چي په هغه کي به تاسو ته د "فرض" لغوي او اصطلاحي معنیٰ او اقسام در وپېژندل سي.

"فرض" په لغت او اصطلاح کي: "فرض" په لغت کي "قطع" (پرېکولو) ته وايي، او په اصطلاح کي محشي د "فرض" اصطلاحي معنیٰ داسي کړې ده: "وَفِي الشَّرْعِ عِبَارَةٌ عَنْ حُكْمٍ مُقَدَّرٍ لَا يَحْتَمِلُ الزِّيَادَةَ وَالنُّقْصَانَ مُثْبَتٍ بِدَلِيْلٍ قَطْعِيٍّ لَا شُبْهَةَ فِيْهِ". (يعني فرض په اصطلاح کي عبارت دی له داسي اندازه کړل سوي حکم څخه چي هغه د زياتوب او کمښت هيڅ احتمال نه لري او په قطعي دليل سره ثابت سوی وي).

د "فرض" قسمونه: "فرض" پر دوه قسمه دي: ① فرضِ عين، ② او فرضِ کفايه.

(۱) فرضِ عين: هغه فرضو ته وايي چي د يوه سړي په اداء کولو سره د نورو خلکو له ذمې څخه نه ساقطيږي، لکه لمونځ، زکاة او داسي نور.

(۲) فرضِ کفايه: هغه فرضو ته وايي چي د يوه سړي په اداء کولو سره د نورو خلکو له ذمې څخه ساقطيږي، لکه د جنازې لمونځ او جهاد چي تر څو دښمن غالب نه وي، که دښمن غالب وي نو بيا جهاد فرضِ عين دی.

د فرضِ عين قسمونه: فرضِ عين په خپل کور کي پر دوه قسمه دی: ① فرضِ حقيقي، ② فرضِ اعتباري.

(۱) فرضِ حقيقي: فرضِ حقيقي هغه ته ويل کيږي چي ثبوت يې په آيتِ کريمه او حديثِ نبوي سره راغلی وي، او له حديث څخه هغه حديث مراد دی چي په يقيني توګه تر نبي ﷺ پوري رسېدلی

وي، لکه متواتر یا مشهور وغیر ذٰلك، ځکه چې په أحادو سره د یو شي فرضیت نه ثابتیږي، لکه محشي رَحِمَهُ الله چې هم دې ته اشاره کړې ده.

(۲) فرضِ اعتباري: فرضِ اعتباري هغه ته ویل کیږي چې انسان یې پر ځان د نذر په ډول لازم کړي.

تمهید ختم سو، نو اوس سوال او جواب ته راځو.

وَالْمُرَادُ هٰهُنَا إلخ: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دفع د سوال ده.

سوال: د فرض له دغو اقسامو څخه مراد د ناظم رَحِمَهُ الله کوم فرض دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چې مراد دلته له فرض څخه فرضِ اعتباري دی، یعني پر ناظم د باچا مدح فرض اعتباري په دا ډول ده چې هغه پر ځان نذر منلې ده چې هغه به یې مدح کوي.

د باچا د مدح پر فرضیت دلیل: شارح رَحِمَهُ الله پر دې خبره دلیل ذکر کوي چې د باچا مدح فرض اعتباري ده،. ځکه چې شکر د الله ﷻ فرضِ عین حقیقي دی، ځکه چې الله ﷻ منعمِ حقیقي دی، او د الله ﷻ شکر په آیتِ کریمه سره ثابت دی، لکه الله ﷻ چې فرمايي: وَاشْكُرُوا لِلّٰهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ [سورة البقرة: ۱۷۲]، (تاسي د الله ﷻ شکر پر ځای کړی که مؤمنان یاست)، او په دې هکله محشي بل آیت هم ذکر کړی دی، ونکتفي بذٰلك لضيق المقام.

لهٰذا همدغه ډول د باچا شکر هم پر ناظم رَحِمَهُ الله فرض دی په فرضِ اعتباري سره، ځکه چې هغه منعمِ مجازي دی، ځکه چې ناظم ته یې په خپل پارلمان کي ځای ورکړی دی، یعني هغه یې د ځان د وزیر او مشاور په توګه ټاکلی دی.

له "بِدانکہ" "څخه بیا تر" "حکایت" "پوري دري توجیهات": ګرانو طالبانو! شارح رَحِمَهُ الله له "بدانکہ" څخه بیا تر "حکایت" پوري د "بندہ" په لفظ کي درې (۳) توجیهات بیانول غواړي:

اوله توجیه: دا ده چې په نظم کي چې کوم لفظ د "بندہ" راغلی دی، که مراد له هغه څخه "عبدُ الله" یعني "بنده د الله ﷻ" وي، نو بیا خو هیڅ سوال نسته، ځکه کله چې په عُرف کي بنده ذکر سي، نو مراد ور څخه د الله ﷻ بنده وي.

دویمه توجیه: دا ده چې که مراد له بنده څخه د باچا غلام وي، لکه څرنګه چې د باچا په مشاورینو او مأمورینو کي دا یو رواج دی، نو بیا که ناظم د نوموړي باچا له آزاد کړل سوي غلامانو څخه وي هم امکان لري، په دې کي هیڅ اشکال نسته.

در بیمه توجیه: دا ده چې که مراد له "بنده" شخصه نه بنده د الله ﷻ وي، او نه د باچا آزاد کړل سوی غلام ور شخصه مراد وي، نو خامخا به له "بنده" شخصه مراد مجازي معنیٰ اخیستل کیږي د دې لپاره چې د ناظم په خبره کې درواغ لازم نه سي.

حکایت (قصه)

غرض د شارح رَحِمَهُ الله د دغه حکایت په ذکر کولو سره دلیل دی پر دې خبره چې د بنده اطلاق پر غلام هم کیږي.

د حکایت معنیٰ: یوه ورځ د هارونِ رشید یوه وزیر د امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله په مخ کې ګواهي ورکړه، او امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د هغه ګواهي رد کړه، نو هارونِ رشید پوښتنه ځني وکړه چې څه وجه ده چې تاسو د وزیر ګواهي رد کړه، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ورته وویل چې یو وخت په یوه مجلس کې ما او تا ناست وو، او تا دغه وزیر ته د یو کار امر وکړی، او ده تا ته په جواب کې وویل چې زه ستا بنده یم، نو دا خبره د وزیر به له دوو حالو څخه خالي نه وي، یا به دی صادق وي په خپله خبره کې، او رښتیا به هم دی ستا غلام (بنده) وي، نو د غلام ګواهي خو نه قبلیږي، او یا به دی په خپله خبره کې درواغجن وي په دا ډول چې ستا غلام به نه وي، او د درواغجن ګواهي هم نه قبلیږي؛ نو هارون رشید امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ته وویل چې که زه ګواهي ورکړم هغه به قبوله سي، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ورته وویل چې نه! ستا ګواهي هم نه قبلیږي، هارونِ رشید وویل چې زما ګواهي ولې نه قبلیږي؟، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله وویل چې ته تاركُ الجماعة یې، د جماعت لمانځه ته پر خپل وخت نه حاضریږې، نو هارون رشید وویل چې زه ځکه جماعت ته نه حاضریږم چې د مسلمانانو په کارونو مصروفه یم، نو امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله ورته وفرمایل: لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ، (یعني نسته په هغه کار کې د مخلوق تابعداري چې په هغه کې د الله ﷻ نافرماني راځي)، نو تر دې وروسته هارون رشید امر وکړی چې زما د کور مخ ته دې مسجد جوړ کړل سي چې زه په جماعت سره لمونځ پکښې کوم.

یادونه: په قصه کې دا عبارت "لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوْقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ" حدیث شریف دی.

تنبیه: امام ابو یوسف رَحِمَهُ الله د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ الله شاګرد او د امام محمد رَحِمَهُ الله ملګری وو، د نوموړي اسمِ محضه یعقوب، او د ابراهیم زوی وو، ابو یوسف یې اسم کنیه دی، نوموړی د خلافتِ عباسیه په دور کې قاضي القضاة وو، او د دریو باچاهانو په دور کې یې قضاوت کړی دی چې دریم له هغو څخه هارونُ الرشید وو چې هغه به د نوموړي ډېر درناوی کوی، نوموړی په سنه: ۱۸۲ﻫ کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، روح دې یې ښاد او یاد دې تل وي.

قوله چون... إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د "چون" د لفظ په باره کي د دوو قولونو وضاحت دی:

(۱) **اول قول**: دا دی چي کلمه د "چون" زائده ده، نو کله چي "چون" زائد سي، دعاء به فاعل دواجب سي؛ او ناظم د "شاهزاده" لفظ د باچا د درناوي لپاره رواړی دی چي دا باچا یو غټ شخص دی، ځکه خپله هم باچا دی او پلار یې هم باچا دی، او له یو غټ خاندان څخه دی، نه د دې لپاره چي د باچا حقارت په وکړي چي معنیٰ عموماً باچاهان له دین څخه لیري خلک وي، او دی هم د هغه زوی دی.

نو شارح رَحِمَهُ الله وايي: كَذَا قِيْلَ: یعني یو چا داسي ویلي دي، دا خو اول قول سو.

(۲) **دویم قول**: وَالصَّحِيْحُ أَنَّهُ شَبَّهَ.... إلخ، شارح رَحِمَهُ الله دویم قول ته صحیح ویلي دي، خلاصه یې دا ده چي لفظ د "چون" دلته د تشبیه لپاره دی، یعني ناظم رَحِمَهُ الله دا "چون" د دې لپاره راوړی دی چي د حسین مدح ته تشبیه ورکړي د هغه د زوی د دعاء سره، د چا په کومک (او مرسته) چي دا کتاب تألیف سوی دی.

ضروري تنبیه: ګرانو طالبانو! تاسو ته خو مخکي ذکر سول چي عادل باچا ته دعاء کول واجب دي، چي په دلیل کي محشي حدیث هم ذکر کړی وو، لهذا هغه باچا ته چي د هغه لپاره دا نظم ترتیب سوی دی دعاء واجب سوه، نو شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي همدغه ډول د هغه د پلار مدح هم واجب ده، لکه د هغه د زوی لپاره چي دعاء واجب ده، د باچا د پلار نوم حُسین دی.

فایده: د اول قول په آخر کي شارح رَحِمَهُ الله وفرمایل چي: وَكَذَا قِيْلَ، نو پوه سه! چي هر هغه قول چي په قِيْلَ سره ذکر سي، دا د هغه قول و ضعف ته اشاره وي، ځکه چي قِيْلَ د ماضي مجهولي صیغه ده،یعني قائل یې معلوم نه دی، نو د کومي خبري قائل چي معلوم نه وي، هغه تبعاً هم ضعیفه وي.

دلته کلمه د "چون" د تشبیه لپاره ده: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَكَلِمَةُ "چون" بِمَعْنىٰ كَافِ التَّشْبِيْهِ، یعني دلته کلمه د "چون" د تشبیه لپاره ده، زائده نه ده، لکه په یوه قصیده کي چي هم د تشبیه لپاره راغلې ده، بیت:

کرده ام پرواز بر گلزار کویت چون هزار
چون پرم سنگ جفا بشکست اکنون چون پرم

نو کلمه د "چون" په دې شعر کې په دريو معناوو سره راغلې ده: ① اول "چون" لپاره د تشبيه دی، او دويم "چون" لپاره د شرط دی، او دريم "چون" لپاره د استفهام دی، نو معلومه سوه چي "چون" په معنیٰ د کاف تشبيه سره هم راځي او په معنیٰ د استفهام او شرط سره هم، او د "چون" په دريو معناوو سره راتلل په کتابُ الصبيان کي هم راغلي دي، او په دې ذکر سوي شعر کي هم.

فَعَلٰى هٰذَا يَكُوْنُ الْمَعْنٰى إلخ: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د دويم قول يا احتمال پر اساس د شعر معنیٰ بيانول دي کوم ته چي شارح رَحِمَهُ الله صحيح ويلي وه، نو د دويم قول پر اساس يعني چي په دويم شعر کي له "چون" څخه د تشبيه معنا واخيستل سي، نو د دواړو شعرونو حاصل به دا را ووځي:

"وروسته د الله ﷻ تر ثنا او د نبي ﷺ تر درووه مدح د باچاغازي مُعز الدين حسين چي مرسته کونکی د دين دی او لمر د عدل او رحمت د خدای ﷻ دی پر خلکو واجب او پر بنده زاده (يعني پر ما) فرماض عين دي په مثل د وجوب او فرضيت د دعاء د شاهزاده چي زوی د باچا حسين دی پر خلکو عموماً او پر بنده (ما) خصوصاً".

حاصل د کلام دا سو چي د باچا "حسين" د مدح وجوب داسي دی لکه د هغه و زوی ته پر خلکو د دعاء وجوب، او فرضيت د مدح د باچا حسين داسي دی لکه پر ما باندي د باچا و زوی ته فرضيت د دعاء. والله أعلم

قوله سال ومه صح وما إشَارَةٌ إلخ: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دفع د سوالِ مقدر ده.

سوال: دا دی چي کله ناظم رَحِمَهُ الله "سال" ووايی، او "سال" کال ته وايي، "مه" مياشتي ته، او "ما" مابنام ته، نو په "سال" کي خو "مه" او "ما" دواړه شامل دي، نو ذکر د "مه" او "ما" ته څه ضرورت وو؟

(۱) **جواب:** شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي چي په ذکر کولو د "مه" او "ما" کي و تولو عمر ته اشاره ده.

(۲) **جواب:** يا امکان لري چي ناظم دي "مه" او "ما" د نظم د سجع لپاره راوړي وي.

مهمه فايده: په دې فايدې ځان پوهول ضروري دي، فايده دا ده چي د ضرورتِ شعري په خاطر بعضي داسي شيان راوړل يا داسي ترتيب اختيارول چي صراحتًا د عربي ژبي د قوانينو او قواعدو مخالف وي عربو جائز بلکي مستحسن ګڼلی دی، که څه هم دلته په شعر کي يوه بله توجيه هم وجود لري، هغه دا چي په "مه" او "ما" سره تولو عمر ته اشاره ده.

د لغاتو حل: ﴿القصيدة﴾ د اشعارو مجموعې ته وايي چې لږ تر لږه اووه (۷) اشعار پکښې وي، ﴿مفرحة﴾ د تفعيل له باب څخه د واحده مؤنثه اسم فاعل صيغه ده: خوشحاله کوونکی، ﴿غوث﴾ يعني فريادرس (د خلکو فرياد اورېدونکی)، ﴿ثقلين﴾ دوه عالمه، يعني پېريان او انسانان، ﴿جيلاني﴾ د "جيلان" و طرف ته منسوب دی، او دا لفظ د "گيلان" معرب (يعني له عجمي ژبې څخه و عربي ته د "گاف" په تبديل سره را اړول سوی) دی، او د بغداد د يو کلي (محلې) نوم دی چې د نوموړي زوکړه هلته سوې ده، كذا في حاشية الشمة، ﴿استغراق﴾ يعني غرق کېدل، ټولو ته شاملېدل، مراد يې په شعر کي ټوله عمر دی.

نظم: نصرت و فتح و ظفر و اقبال و جاه و سلطنت ... باد باقی مر ترا تا هست امکان بقا

ترجمه: مرسته او د مشکلاتو حل او پر دښمنانو برلاسی او بخت مرتبه او باچاهي ... دي وي خاص تا لره تر څو چي دا دنيا وجود ولري (يعني تل تر تله).

تشريح:

قوله مر ترا أَوْرَدَ صِيغَةَ الْمُخَاطَبِ... إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دغه متن سره دفع د سوال مقدر ده.

سوال: څه وجه ده چي ناظم په مدح کي د مخاطب صيغه راوړه، او ويې ويل: "ترا" (يعني تا لره) چي د مخاطب صيغه ده، ولې يې د غائب صيغه نه راوړه.

جواب: ناظم ځکه د مخاطب صيغه راوړه چي د حامد (صفت کونکي، حمد ويونکي) د حال سره مناسب دا دي چي محمود (هغه څوک چي حامد يې صفت [حمد] بيانوي) د مخاطب په صيغه سره ذکر کړي.

دليل: شارح رَحِمَهُ الله د دې دعوې د ثبوت لپاره د كَمَا وَقَعَ څخه دليل ذکر کوي، د دليل خلاصه دا ده چي د حضرت علي كَرَّمَ اللهُ وَجْهَه په خطبه کي هم داسي راغلي دي: لَكَ الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ، يعني د هغه په خطبه کي د محمود ستائيه د خطاب په ضمير سره سوې ده، نو ځکه ناظم رَحِمَهُ الله هم د مخاطب صيغه ذکر کړه.

د جواز يوه بله توجيه: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَيَجُوزُ أَنْ يُقَالَ مرورا... إلخ، وايي دا خبره هم جواز لري چي د "مر ترا" پر ځای "مرورا" د غائب په صيغه سره وويل سي (بيا به يې معنیٰ دا وي: خاص هغه لره).

د نظم په دويمه جمله کي خطاب چا ته دی: د اِعْلَمْ...اِلخ په عبارت سره د شارح غرض دوې توجيهات بيانول دي، حاصل يې دا دی چې دا امکان هم سته چې له باد باقی...الخ څخه د دويم تأويل يا قول مطابق (يعني چې په نظم کي د "چون" کلمه د تشبيه لپاره سي) پلار مراد واخيستل سي يا زوی، او د اول تأويل يا قول مطابق (يعني چې کلمه د "چون" زائده وګڼل سي) مخاطب يوازي پلار کېدلای سي نه بل څوک.

نظم: عامل اندر نحو صد باشد چنين فرموده ... شيخ عبد القاهر جرجانی پير هُدیٰ

ترجمه: عوامل په نحو کي سل(۱۰۰) دي همداسي فرمايلي دي ... شيخ عبد القاهر جرجاني (رَحِمَهُ الله) پير د هدايت.

تشريح: شارح رَحِمَهُ الله د "عامل" لغوي او اصطلاحي معنیٰ بيانوي.

"عامل" په لغت او اصطلاح کي: عامل په لغت کي مؤثر (تأثير کونکي) ته وايي، او په اصطلاح کي عامل هغه شي ته ويل کيږي چې کلمه پر يو خاص شکل جوړوي، مثلاً که پر زيد د جَاءَنِیْ عامل داخل سي رفع ورکوي، او که رَأَيْتُ پر داخل سي نصب ورکوي، او که حرفِ جر پر داخل سي يا مضاف اليه وي جر ورکوي وغير ذٰلك، شارح رَحِمَهُ الله فرمايي دا د عام عامل تعريف دی هغه که پر اسماؤ داخل سي او که پر افعالو.

د اسماؤ د عامل تعريف: د کافيې مصنف علامه ابن حاجب رَحِمَهُ الله د اسماؤ د عامل داسي تعريف کړی دی: اَلْعَامِلُ مَا يَتَقَوَّمُ بِهِ الْمَعْنَى الْمُقْتَضِیْ لِلْإِعْرَابِ، د دې تفصيل په کافيه کي ذکر سوی دی، او زموږ مراد دلته اول تعريف دی نه دويم، ځکه چې مراد زموږ مطلق عامل دی.

"نحو" په لغت کي نهه (۹) معناوي لري:

قوله اندر نحو هُوَ فِي اللُّغَةِ.....اِلٰى ثُمَّ: "نحو" په لغت کي په نهو (۹) معناوو سره راځي، چې شارح رَحِمَهُ الله يې په خپل عبارت کي تشريح کړې ده، او خلاصه يې په دا ډول ده:

اوله معنیٰ: نحو په معنیٰ د "قصد" سره راځي، لکه عرب چې وايي: نَحَوْتُ نَحْوًا (يعني ما قصد وکړی په قصد کولو سره).

دويمه معنیٰ: نحو په معنیٰ د "مثل" سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: رَأَيْتُ رَجُلًا نَحْوَكَ (ما ستا په مثل سړی وليدی).

دريمه معنیٰ: په معنیٰ د "صَرف" (ګرځېدلو) سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: نَحَوْتُ بَصَرِيْ إِلَيْكَ، (ما خپل نظر ستا و طرف ته وګرځوی).

څلورمه معنیٰ: او په معنیٰ د "طرف" سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: سِرْتُ إِلٰى نَحْوِ دَارِ فُلَانٍ، (زه د فلانکي سړي د سرای و طرف ته ولاړم).

پنځمه معنیٰ: په معنیٰ د "نوع" سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: أَكَلْتُ ثَلَاثَةَ أَنْحَاءٍ مِنَ الطَّعَامِ (ما دري ډوله خواړه وخوړل).

شپږمه معنیٰ: په معنیٰ د مقدار سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: جَاءَنِي الْجَيْشُ نَحْوُهُمْ أَلْفٌ، (ما ته لښکر راغلی چي مقدار د هغوی زر (۱۰۰۰) وو).

اوومه معنیٰ: په معنیٰ د "قوم" سره هم راځي، لکه د عربو دا قول: نَظَرْتُ إِلٰى نَحْوِ بَنِيْ تَمِيْمٍ (ما وکتل د بنو تميم قوم ته).

اتمه معنیٰ: په معنیٰ د "ساتني" سره هم راځي لکه له سلفو څخه چي رانقل سوي دي: إِذَا جَاءَ النَّحْوِيُّوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ فِيْ حَقِّهِمْ مِنْ جَانِبِ اللهِ تَعَالٰى يَا مَلٰئِكَتِيْ نَحُّوْهُمْ مِنَ النَّارِ كَمَا نَحَوْا كَلَامِيْ عَنِ الْخَطَاءِ، (يعني په ورځ د قيامت چي کله نحويان راسي، الله جَلَّ جَلَالُهُ به ملائکو ته ووايي، اې ملائکو! دوی له اُور څخه وساتئ لکه څرنګه چي دوی ساتلی وو کلام زما له خطاء څخه).

نهمه معنیٰ: او په معنیٰ د "اعراض" سره هم راځي، لکه دا قول د فقهاؤ: ثُمَّ يَنْتَحِيْ عَنْ ذٰلِكَ الْمَكَانِ، (بيا دي اعراض وکړي [يعني ليري دي سي] له هغه ځايه څخه).

د "نحو" وجه تسميه: تَسْمِيَةُ هٰذَا الْعِلْمِ...إلخ، له دې ځايه شارح رَحِمَهُ الله دا بيانول غواړي چي دا فن ولي په "نحو" سره ونومول سو، نو وجه تسميه يې درته بيانوي چي دا فن ځکه په نحو سره ونومول سو چي د نحو يوه معنیٰ "ساتنه" وه، او په دغه فن سره هم د مبتي ذهن له لفظي خطاء څخه ساتل کيږي.

اصطلاحي معنیٰ: وَفِي الْاِصْطِلَاحِ...إلخ، نحو يو داسي علم دی چي د هغه د قوانينو په زده کولو سره د دربو کلمو (اسم، فعل او حرف) د آخر احوال پېژندل کيږي له حيثيته د اعراب او بناء، (يعني په دې

علم سره معرب او مبني) او کيفيت د ترکيب د بعضي کلمو د بعضو سره پېژندل کيږي، (محشي رَحِمَهُ الله فرمايي چي له کيفيت څخه مراد د هغو کلمو مقدّم کول دي چي هغوی حق د تقديم لري لکه مضاف، مبتداء، او کوم چي حق د تأخير لري هغه مؤخّر کول دي، لکه مضاف اليه، خبر او داسي نور).

وَكَذَا فِي الصَّادِقِ يعني د نحوي دا ډول تعريف په "صادق" نومي کتاب کي هم ذکر سوی دی.

قوله صد باشد ..... إِلى قوله شيخ: ناظم رَحِمَهُ الله وويل چي عوامل په نحو کي سل (١٠٠) دي، خو دا په نېز د سيبويه رَحِمَهُ الله دي، لېکن اخفش رَحِمَهُ الله بيا وايي چي يو سل او يو (١٠١) دي؛ اختلاف په عاملِ معنوي کي دی، د سيبويه په نېز عواملِ معنوي دوه دي، يو په مبتداء او په خبر کي، او دويم په مضارع کي، او د اخفش په نېز عاملِ معنوي درې دي، دوه خو هغه دي کوم چي ذکر سول، او درېيم عامل په تابع يعني په صفت، تأکيد، بدل، معطوف او عطفِ بيان کي هم دی.

وَلَمَّا كَانَ...إلخ دا عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي کله خبره اختلافي وه، د يوه مذهب مطابق عوامل (١٠٠) ول، او د بل مذهب مطابق (١٠١) ول، نو بايد چي ناظم دواړه قولونه په نظم کي ذکر کړي وای، حال دا چي ناظم يو مذهب ذکر کړی، بل يې پرېښوو ی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله د مقدّر سوال جواب په دغه عبارت سره ورکوي: وَلَمَّا كَانَ، خلاصه يې دا ده چي کله ناظم ته مذهب د سيبويه اظهر (يعني ښه معلوم، ښکاره او خوښ) وو، نو د سيبويه مذهب يې ذکر کړی، او پر هغه يې اعتماد وکړی.

قوله شيخ عبد القاهر....إِلى النظم إِنَّمَا أَضَافَ، دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي څه وجه ده چي ناظم رَحِمَهُ الله د عواملو نسبت شيخ عبد القاهر رَحِمَهُ الله ته وکړی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي چي د عواملو نسبت يې شيخ ته يو په دې وجه وکړی چي مصنف يې مجهول نه سي، ځکه د يو کتاب مصنف يا د يوې خبري قائل چي معلوم نه وي، هغه ډېر بې اعتماده وي، او بل دا چي د عواملو نسبت يې شيخ ته ځکه وکړی تر څو د قبوليت وړ وګرځي، ځکه چي شيخ عبد القاهر يو بزرگ انسان وو، نو ګونډي خدای جَلَّ جَلَالُهُ د هغه له رويه دا عوامل مقبول وګرځوي.

"شيخ" چا ته ويل کيږي : محشي رَحِمَهُ الله وايي چي شيخ و پير (بزرگ) ته ويل کيږي، خو کله چي په "نحو" يا "بيان" کي شيخ ذکر سي، نو مراد ورڅخه امام عبد القاهر جرجاني رَحِمَهُ الله وي، او نوموړی دعلم النحو تعليم له ابو الفتح بن جني څخه تر لاسه کړی دی.

د "جرجاني" اصل : د جرجاني اصل گرگاني وو، بيا گاف په جيم بدل سو، ځکه چي گاف په عربي ژبه کي نه استعماليږي، همدارنګه نور هم ډېر ځايونه سته چي گاف په جيم بدل سوی وي، لکه لجام چي په اصل کي لگام وو، او نرجس چي په اصل کي نرگس وو، وروسته شارح رَحِمَهُ الله وايي چي جرجان يا يو کلی دی له شيراز څخه، شيراز د ايران يو ښار دی، يا يو کلی دی له استرآباد څخه، او چا بيا ويلي دي چي له خوارزم څخه يو کلی دی.

نظم: معنوی از وی دو باشد جمله دیگر لفظی اند ... باز لفظی شد سماعی و قیاسی ای فتا

ترجمه : معنوي له هغوی (عواملو) څخه دوه دي نور ټول لفظي دي ... بيا لفظي (يعني تقسيم) سول سماعي او قياسي ته اې ځوانه!.

قوله معنوی.....إلیٰ قوله باز لفظی شد: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي دا قول د ناظم رَحِمَهُ الله: از وی دو باشد، دا تقسيم د عواملو ته اشاره ده.

د عامل قسمونه : عامل پر دوه قسمه دی، اول دغه سل (۱۰۰) عوامل تقسيميږي و دوو اقسامو ته چي معنوي او لفظي دي.

(۱) د عاملِ معنوي تعريف : عاملِ معنوي هغه عامل ته ويل کيږي چي د هغه ادراک (معلومات) په زړه سره کيږي، او تلفظ نه په کيږي، لکه په مبتداء او خبر کي، ځکه چي پر مبتداء او خبر رفع وي، او رفع اثر دی، او دا اثر لپاره خامخا يو مؤثر وي، او هغه مؤثر لفظاً نسته، نو خامخا به معنوي وي.

(۲) د عاملِ لفظي تعريف : عاملِ لفظي هغه عامل ته ويل کيږي چي په زړه سره د هغه ادراک هم کيږي او تلفظ هم په کيږي، لکه جوازم او نواصب.... او داسي نور، مثلاً لَمْ يَضْرِبْ، د يَضْرِبْ په آخر کي جزم لَمْ کړی دی،او په دې سره تلفظ هم کيږي، د نواصبو مثال لکه لَنْ يَضْرِبَ.

د عاملِ لفظي قسمونه : قوله باز... يَعْنِيْ أَنَّ اللَّفْظِيَّ عَلیٰ قِسْمَيْنِ، له دې ځای څخه شارح رَحِمَهُ الله تقسيم د لفظي عامل ذکر کوي، نو پوه سه! چي لفظي عامل په خپل کور کي پر دوه قسمه دی: ① سماعي، ② او قياسي.

(۱) **سماعي**: سماعي و هغه عامل ته وايي چي له عربو څخه اورېدل سوی وي، او پر هغه بل شی نه قیاسیږي.

(۲) **قیاسي**: قیاسي و هغه عامل ته وایي چي له عربو څخه اورېدل سوي وي، او بل شی هم پر قیاسیږي.

سوال: فَإِنْ قِیْلَ مَا بَالُ...إلخ، له دې ځای څخه شارح رَحِمَهُ الله یو سوال ذکر کوي، حاصل یې دا دی چي څه وجه ده چي ناظم رَحِمَهُ الله عامل لفظي و دوو قسمونو ته تقسیم کړی، او عاملِ معنوي یې پرېښوو، حال دا چي عاملِ معنوي هم پر دوه قسمه دی، کَمَا هُوَ الظَّاهِرُ؟

(۱) **جواب**: اول جواب شارح رَحِمَهُ الله له قُلْنَا... څخه ورکوي، حاصل یې دا دی چي تقسیم د قسم دا په حقیقت کي تقسیم د مقسم دی، نو ګواکي عواملِ معنوي هم په دې تقسیم کي راغلل، یعني دوی تقسیم سول و سماعي او قیاسي ته، خو دا جواب محشي غیرِ سدید (غیرِ صحیح) ګڼلی دی.

(۲) **جواب**: أَوْ لِأَنَّهٗ...إلخ، د دویم جواب حاصل دا دی چي دا دویم قسم یعني عواملِ معنوي تقسیم نه لري، ځکه چي د دوی اقسام نسته، نو کوم شی چي اقسام نه لري، هغه تقسیم هم نه قبلوي، ځکه عواملِ معنوي قیاسي دي، ځکه چي مبتداء او خبر تر یوې "قاعده کلیې" لاندي راځي.

قاعده کلیه: دا ده چي کُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ، (هر فاعل به مرفوع وي)، نو کله چي عواملِ معنوي تر "قاعده کلیه" لاندي راغلل، نو قیاسي سول.

سوال: مبتداء او خبر خو فاعلان نه دي، نو تر دې قاعدې لاندي به څرنګه راسي؟

جواب: مبتداء او خبر که څه هم حقیقتاً فاعلان نه دي، خو حکماً فاعلان دي، او فعلِ مضارع بیا د دې لاندینۍ قاعدې په وجه پکښي شامله ده.

قاعده: دا ده چي کله فعلِ مضارع له عواملِ جازمه او ناصبه وو څخه خالي وي، هغه به مرفوع وي.

قوله اِیْ نَا.....إلخ: د دې عبارت خلاصه دا ده چي "نَا" و ځوان ته ویل کیږي، دلته په شعر کي "نَا" یواځي د وزنِ شعري د ضرورت په وجه راوړل سوی دی.

نظم: زان نود ویک (۹۱) دان سماعی ہفت دیگر بر قیاس .. آن سماعی سیز ده (۱۳) نوع است بے روی و ریا

ترجمه: له هغو [اته نیوي (۹۸) عواملو] څخه یو نیوي (۹۱) سماعي دي او اووه عوامل پکښې قیاسي دي ... او دا سماعي په خپل کور کې پر دیارلسو (۱۳) نوعو تقسیم سوي دي.

تشریح:

نکته: ګرانو طالبانو! د نظم راسته طرف ته یوه نکته ده چې عبارت یې داسې دی: ای از عوامل لفظیه، غرض د ناکت په دې نکته سره د "ازان" مرجع معلومول دي، نو فرمایي چې مرجع یې عواملِ لفظیه دي، نو د شعر معنیٰ به داسې وي: له هغو اته نیوي (۹۸) لفظي عواملو څخه یو نیوي (۹۱) سماعي دي، اووه (۷) قیاسي دي چې مجموعه یې (۹۸) جوړېږي.

قوله..... إلى إِنَّمَا: د دې عبارت مطلب واضح دی.

سوال: له إِنَّمَا څخه شارح رَحِمَهُ الله دفع د یو سوال مقدر کوي، سوال دا دی چې ناظم رَحِمَهُ الله ولې سماعي عوامل په دیارلسو (۱۳) نوعو کې منحصر کړل، په زیاتو یا کمو نوعو کې یې ولې منحصر نه کړل.

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په وَإِنَّمَا انحصر...إلخ سره جواب ورکوي، خلاصه یې دا ده چې دغه عوامل په اعتبار د عمل سره تقسیم سوي دي: اوولس (۱۷) حروف جاره دي، د ټولو عمل یو دی، نو دا مو یوه نوعه وګرځوله، او حروفِ مُشبّه بالفعل هم په عمل کې متحد دي، نو هغه مو هم یوه نوعه وګرځوله، عَلىٰ هٰذا القِيَاس.

قوله بے روی وریا: یعني بغیر د نوعي له رعایت څخه.. دا عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چې نوع خو د جنس لپاره راځي، لکه حیوان چې جنس دی، انسان، بقر او حِمار یې انواع دي، نو سماعي خو هم د لفظي یوه نوع ده، نو ناظم دغه نوعه یعني سماعي اوولسو انواعو ته څرنګه تقسیموي، څکه چې دا خو تقسیم د نوع دي و انواعو ته، یا په بل عبارت نوع د نوعي سو، او دا صحیح نه دي، لهذا د ناظم دا قول: آن سیز ده نوع است هم صحیح نه دی؟

جواب: محترم معترض صاحب! که ته بیت تر پایه ووایې، ستا سوال به په خپله حل سي، هغه په دا دول چې دلته ناظم د جنسیت او نوعیت خیال نه دي ساتلی، بلکې د نوموړي مطلب دا دی چې تا ته عوامل در وښیي، هغه که په هره طریقه سره وي، لهذا ته یې داسې فرض کړه چې دا سماعي یو جنس دی او ناظم اوولسو انواعو ته تقسیم کړی دی، فلن تعترض إن تفکّرتَ فی النظم.

﴿النوع الاول﴾

(اوله نوعه)

نکته: د "نوع" راسته طرف ته ناکت لیکلي دي: نوع بمعنیٰ گونه، غرض د ناکت په دې نکتې سره د "نوع" د معنیٰ وضاحت دی، نو فرمايي چي نوع په معنیٰ د "ډول او قسم" سره راځي.

نظم: نوع اول هفده حرف جر بود میدان یقین ... کاندرین یک بیت آمد جمله بي چون وچرا

ترجمه: په اوله نوعه کي اوولس (۱۷) حروف جاره دي بغیر له څه شک شخه ... چي په دغه یوه بیت کي راغلي دي ټوله بغیر له "څرنګه" او "ولي" شخه.

تشریح: د حروف جاره وو شمېر: حروف جاره اوولس (۱۷) دي: (۱) با، (۲) تا، (۳) کاف، (۴) لام، (۵) واو، (۶) مُنْذ، (۷) مُذ، (۸) خَلا، (۹) رُبَّ، (۱۰) حَاشَا، (۱۱) مِنْ، (۱۲) عَدَا، (۱۳) فِيْ، (۱۴) عَنْ، (۱۵) عَلٰی، (۱۶) حَتّٰی، (۱۷) إِلیٰ.

د حروف جاره وو اقسام: وَ اعْلَمْ أَنَّهَا عَلٰی ثَلَاثَةِ اَضْرُبٍ.... إلخ: پوه سه! چي حروفِ جاره په خپل کور کي د ذات په اعتبار سره پر درې قسمه دي:

(۱) مطلق حروف: چي نه اسماء وي، نه افعال، لکه مِن، إلیٰ، حتّیٰ، فِي، باء، لام، رُبَّ، واو د قسم، او تاء د قسم.

(۲) چي کله حروف او کله اسماء وي: دویم قسم له حروفِ جاره وو شخه هغه دي چي کله حروف او کله اسماء وي لکه عَن، عَلٰی، کاف، مُنْذ او مُذْ.

(۳) چي کله حروف او کله افعال وي: درېیم قسم د حروفِ جاره وو دا دي چي کله حروف او کله بیا افعال وي لکه: خَلَا، عَدَا او حَاشَا.

مهمه تنبیه: پوه سه طالب جانه! اول قسم نهه (۹) حروف دي مطلقاً، مطلب دا چي نه و دوی ته په هیڅ وخت کي اسماء ویل کیږي، او نه افعال، ځکه چي دوی یوازي د حرفیت معنیٰ ورکوي.
دویم قسم پنځه هغه حروف دي چي دوی خو کله حروف وي، او کله بیا اسماء وي، د حرف والي وجه یې دا ده چي د حرفیت اړخ یې ظاهر دی، او د اسم والي وجه یې دا ده چي کله نا کله دوی د اسم معنیٰ ورکوي، ځکه کله چي پر مِنْ او عَلیٰ باندي عَنْ داخل سي، نو بیا د اسم معنیٰ ورکوي، لکه: جَلَسْتُ مِنْ عَنْ يَمِيْنِكَ، نو دلته عَنْ د عِنْدَ ظرف په معنیٰ سره دی، او ظرف اسم دی، نو مِنْ هم د اسم په معنیٰ سو.

او د عَلیٰ مثال لکه: جَلَسْتُ مَنْ عَلَيْه، أَيْ فَوْقَه، دلته عَلیٰ د فَوْقَ اسم ظرف په معنیٰ سره دی، او فَوْقَ اسم دی، نو عَلیٰ هم د اسم په معنیٰ سو، او کاف تشبیه هم کله په معنیٰ د اسم سره راځي لکه په دغه شعر کي چي راغلی دی کوم چي محشي را نقل کړی دی، شعر:

بِيضٌ ثَلَاثٌ كَنِعَاجٍ جُمٍ ... يَضْحَكْنَ عَنْ كَالْبَرَدِ الْمُنْهَمِ

ژباړه: درې سپیني ښځي چي مشابه وې د هغو هوسیانو سره چي ښکرونه نه لري... داسي یې خندل لکه وریلي سوې ژلۍ (یعني غاښونه یې لکه ژلۍ داسي ښایسته او سپین ول).

نو مطلب دا چي کله پر کاف عَنْ داخل وي، نو دا کاف د "مِثْل" په معنیٰ سره راځي، او "مِثْل" اسم دی، او "مُنْذ او مُذْ" هغه وخت اسماء دي، کله چي په دوی سره حاضره زمانه مراد کړل سي، نو که د دوی مدخول مجرور وو، نو حروفِ جاره دي، او که مجرور نه وو نو اسماء دي، او هغه درې چي خَلَا، عَدَا او حَاشَا دي، نو د دوی مابعد که مجرور وو، نو حروفِ جاره دي، او که منصوب وو، نو افعال دي.

وَاعْلَمْ أَنَّ الْعَوَامِلَ..... إِلىٰ لَمَّا كَانَ الْحُرُوْفُ كَثِيْرَةً غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دوې خبري دي: اوله خبره دا ده چي نوموړی د مطلق عواملِ لفظیه سماعیه وو تقسیم او وضاحت کوي، دویمه خبره تمهید دی لپاره د جواب چي وروسته به راسي.

د عواملِ لفظیه وو قسمونه: پوه سه! چي عواملِ لفظیه سماعیه پر درې قسمه دي، بعضي له عواملِ لفظیه سماعیه وو څخه افعال دي، او بعضي اسماء دي، او بعضي حروف دي، نو فرمایي چي افعال اصل دي په عمل کي، له همدې کبله دوی مقدّم سول، او اسماء او حروف په عمل کي د فعل فرع دي، نو له دې کبله دوی مؤخّر کړل سول، ځکه چي دوی خو یا د فعل سره د مشابهت له کبله عمل کوي، او یا د سماع له کبله عمل کوي، او بیا دغه حروف په خپل کور کي شپږو اقسامو ته تقسیم سوي دي چي اوله نوعه حروفِ جاره دي، دویمه نوعه حروفِ نداء دي، دریمه نوعه حروفِ نفي دي، څلورمه نوعه حروفِ ناصبه دي، پنځمه نوعه حروفِ جازمه دي، شپږمه نوعه حروفِ مُشَبَّه بالفعل دي.

او اسماء عامله هم په خپل کور کي و دریو اقسامو ته تقسیم سوي دي چي اوله نوعه اسماءُ الافعل دي، دویمه نوعه اسماء العدد دي، دریمه نوعه اسماء متضمنه لمعنیٰ الشرط دي.

او افعال عامله هم په خپل کور کي تقسیم سوي دي و څلورو نوعو ته، اوله نوعه افعال قلوب دي، دویمه نوعه افعال ناقصه دي، دریمه نوعه افعالِ مقاربه دي، او څلورمه نوعه افعالِ مدح او ذم دي؛ اول حروف ذکر سوي دي، بیا اسماء او بیا افعال.

وَلَمَّا كَانَ الْحُرُوْف...إلخ دغه عبارت دفع دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي څه وجه ده چي ناظم رَحِمَهُ الله حروف پر افعالو او اسماؤ مقدّم كړل ؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب وركوي: وَلَمَّا كَان...إلخ. خلاصه د جواب دا ده چي حروف كثيرُ الانواع ول، اوعزت تل كثرت لره وي، نو د همدغه كثرت پر اساس حروف تر افعالو او اسماؤ مقدم سول.

د حروف عامله وو دويم تقسيم: حروفِ عامله بيا پر دوه قسمه دي:

(۱) اول قسم هغه دي چي پر دوو شيانو داخليږي، لكه حروفِ مُشبّه بالفعل.

(۲): دويم قسم هغه دي چي پر يوه شي داخليږي، دا بيا پر دوه قسمه دي بعضي له دوی څخه هغه دي چي پر اسم داخليږي، او بعضي هغه دي چي پر فعل داخليږي.

فَمَا يَدْخُلُ عَلَى الْإِسْمِ إلخ دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي كوم حروف چي پر اسم داخليږي، هغه ولي مقدم سول پر هغو حروفو كوم چي پر فعل داخليږي، او هغه حروف چي پر يوه شي داخليږي ولي مقدم سول پر هغو چي پر دوو شيانو داخليږي؟

جواب: خلاصه د جواب دا ده چي اسم اصل دی په نسبت و فعل ته، نو كوم حروف چي پر اسم داخليږي، هغه اصل سول په نسبت و هغو ته چي پر فعل داخليږي، نو ځكه ناظم رَحِمَهُ الله هغه حروف چي پر اسم داخليږي مقدم كړل پر هغو چي پر فعل داخليږي.

د سوال د دويم جزء جواب دا دی چي كوم حروف چي پر يوه شي داخليږي، هغه ځكه تر هغو مقدم سول كوم چي پر دوو شيانو داخليږي، چي واحد په مرتبه كي پر دوو مقدمّ وي، نو ځكه يې د واحد عامل د دوو پر عامل مقدّم كړی.

ثُمَّ مَا يَدْخُلُ عَلَى الْإِسْمِ إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دفع د سوالِ مقدر ده.

سوال: دا دی چي هغه حروف كوم چي پر يوه اسم داخليږي، هغه خو په خپل كور كي بيا پر دوه قسمه دي: ① يو قسم دا دي چي عمل يې اتفاقي وي، ② دويم قسم هغه دي چي عمل يې اختلافي وي، نو هغه حروف چي عمل يې اتفاقي وي ولي مقدم سول پر هغو چي عمل يې اختلافي وي؟

جواب: خلاصه د جواب دا ده چي ناظم رَحِمَهُ الله ځكه اتفاقي عمل والا حروف مقدم كړل چي اتفاق تر اختلاف اصل او ښه دی.

فَاعْلَمْ أَنَّ الْحُرُوْفَ الْجَارَّةَ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د حروفِ جاره وو وضاحت دی، نو فرمایي چي حروفِ جاره د خپل ذات په اعتبار سره حروف دي، اسماء او افعال نه دي.

سوال: دا دی چي مخکي تا وويل چي پنځه له دغو حروفو څخه داسي دي چي کله نا کله اسماء وي او کله نا کله حروف وي، او درې داسي دي چي کله حروف وي، او کله افعال، او دلته دي بيا وويل چي دغه اوولس (۱۷) حروفِ جاره ټوله حروف دي، اسماء او افعال نه دي، نو ستا د دغو دواړو خبرو په مینځ کي تعارض راغلی؟

جواب: د ذات په اعتبار سره دغه اوولس (۱۷) حروف، حروف دي، خو بعضي وختونه د يو عارض له کبله اسماء يا افعال ځني جوړېږي، او عارض لره هيڅ اعتبار نسته.

وَعَدَدُهَا سَبْعَةَ عَشَرَ حَرْفًا إلخ: له دې ځای څخه شارح رَحِمَهُ الله د حروفِ جاره وو په شمېر کي دوه مذهبه بيانوي.

د حروفِ جاره وو په شمېر کي يو اختلاف: د حروفِ جاره وو په عدد(شمېر) کي اختلاف دی، د جمهورو په نېز اوولس (۱۷) دي، او د (کافيې د مصنف) ابن حاجب رَحِمَهُ الله په نېز اتلس (۱۸) دي، ابن حاجب رَحِمَهُ الله واوِ رُبَّ حرفِ جر بولي، او جمهوريې نه بولي.

وَمَدْخُوْلُهَا إِسْمٌ إلخ: له دې ځای څخه شارح رَحِمَهُ الله د حروفِ جاره وو مدخول بيانوي او فرمايي چي مدخول د حروفِ جاره وو اسم دی حقيقتاً يا حکماً، د حقيقتاً مثال لکه زَيْدٌ، او د حکماً مثال لکه قَامَ زَيْدٌ لِيُصَلِّيَ، پر فعل خو حرفِ جر نه سي داخلېدلای، او يُصَلِّيَ فعل دی، نو دلته حرفِ جر حکماً پر داخل دی، ځکه چي لِيُصَلِّيَ د لِلصَّلٰوةِ په تأويل سره اړول کيږي.

د حروفِ جاره وو نور نومونه: دغه حروف خو په حروفِ جاره وو سره مشهوره دي، لېکن حروفِ اضافت، حروفِ ربط او حروفِ معاني هم ورته ويل کيږي.

د دغو نومونو وجه تسميه: (۱) حروفِ اضافت ځکه ورته ويل کيږي، چي بعضي له دوی څخه د اضافت په وخت کي مقدّر کيږي، لکه غُلَامُ زَيْدٍ، أَیْ غُلَامٌ لِزَيْدٍ، نو دلته تسميه د کل په اسم د جزء سره راغله. (۲) حروفِ ربط (روابط) ځکه ورته ويل کيږي چي دوی د کلماتو په مینځ کي ربط پيدا کوي، لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ، زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ، زَيْدٌ فِي الدَّارِ. (۳) او حروفِ معاني ځکه ورته ويل کيږي چي دوی هر يو ځان ته (بېله) معنیٰ لري، مثلاً باء د الصاق لپاره راځي، او لام د اختصاص لپاره راځي، وغير ذٰلك.

دا هغه څه وو چې محشي صاحب ليکلي وه.

د حروفِ جاره وو وجه تسميه: د دغو حروفو وجه تسميه په حروفِ جاره وو سره شارح رَحِمَهُ الله خپله ليکلې ده: وَإِنَّمَا سُمِّيَتْ...إلخ، د شارح رَحِمَهُ الله د عبارت خلاصه دا ده چې دا حروف يې په حروفِ جاره وو سره ځکه مسمیٰ کړل چې په خپل مدخول کي د دوی عمل جرّ دی، او دغه جر اثر د حرفِ جر دی، نو دلته تسميه د مؤثر (يعني د دغو حروفو) په اسم د اثر (يعني جر چې عمل د دغو حروفو دی) سره وسول.

سوال: معترض وايي چې نه منم! دا خبره چې و دغو حروفو ته حروفِ جاره ويل تسميه د مؤثر ده په اسم د اثر سره، ځکه چې اثر د دغو حروفو جر دی، او جر د دوی لپاره د اسم په توګه نه دي وضع سوی، بلکې د دوی لپاره "جاره" نوم وضع سوی دی، او دا د اثر اسم نه دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب ورکوي: أَيْ بِإِسْمٍ مُشْتَقٍّ مِنَ الْأَثَرِ فَلَا يَرِدُ أَنَّ الْجَارَّةَ...إلخ، حاصل د جواب دا دی چې زموږ دغه عبارت په حذف د صفت سره دی، او تقدير د عبارت داسې دی: بِإِسْمٍ مُشْتَقٍّ مِنَ الْأَثَرِ يعني دا تسميه د مؤثر ده (کوم چې دغه حروف دي) په هغه اسم سره چې هغه مشتق له اثر څخه (يعني د اثر له اسم څخه) وي، او په دې کي هيڅ شک نسته چې د دغو حروفو اسم چې "جاره" دی مشتق دی د دوی د اثر له اسم څخه، ځکه چې د دوی د اسم اثر جرّ دی، فلا يرد ما يرد.

د حروفِ جاره وو دويمه وجه تسميه: په حروفِ جاره وو سره د دې حروفو دويمه وجه تسميه دا ده چې د جرّ معنیٰ ده "کشول"، نو دوی هم د افعالو معناوې خپلو مدخول ته کشوي، لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ، په دې مثال کي باء حرفِ جر د مَرَرْتُ معنیٰ کش کړې ده و خپل مدخول يعني زيد ته، نو په دې وجه دوی ته "حروفِ جاره" ويل کيږي.

د حروفِ جاره وو په عمل کي يو اختلاف: د حروفِ جاره وو په عمل کي اختلاف دی په مينځ د جمهورو او د يو بل مذهب کي (کوم چې په قِيْلَ سره ذکر سوی دی)، او دې اختلاف ته شارح رَحِمَهُ الله په دې الفاظو سره اشاره کړې ده: وَاعْلَمْ أَنَّ عَمَلَهَا...إلخ، خلاصه يې دا ده چې د جمهورو په نيز د دغو حروفو عمل سماعي دی، يعني پر بل چا قياس نه دی، بلکې له عربو څخه اورېدل سوی دی چې دا

حروف د جرّ عمل کوي، او د يو بل چا مذهب بيا دا دی چي عمل د دوی له مضاف څخه په استعاره (خواست) را نقل سوی دی، ځکه چي دوی د مضاف سره مشابهت لري په دې کي چي پر دوی هم د مضاف په څير تنوين او قائم مقامه د تنوين يعني نونِ د تثنيې او جمعې نه راځي، نو له همدې کبله دوی ته د جرّ عمل له مضاف څخه په استعاره راوړل سوی دی، او مضاف مضاف اليه ته جر ورکوي، لکه غُلَامُ زَيْدٍ، نو دوی هم خپل مدخول ته جر ورکوي، لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ.

نکته: د "۲۳" صفحې په دويمه ليکه کي تر وَفِيْهِ بَحْثٌ لاندي ناکت ليکلي دي: أی فی مذهب قول القيل، غرض د ناکت د فِيْهِ د ضمير مرجع معلومول دي، نو مرجع د فِيْهِ د ضمير "مذهب" دی، يا "قول د قيل" دی، او شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي په دې کي بحث دی.

د قِيْلَ پر قائل يو سوال: شارح رَحِمَهُ الله د قيل پر قائل يو سوال را نقل کوي، او فرمايي: وَفِيْهِ بَحْثٌ لِأَنَّهُ لَوْ كَانَ...إلخ، نوموړی فرمايي چي که عمل د حرف جر د مضاف سره د مشابهت له کبله وي، نو موقوف سو عمل د حرفِ جر پر مضاف باندي، او مضاف چي د جر عمل کوي دا هم په دې وجه کوي چي د هغه سره حرفِ جر مقدر وي، لکه موږ چي مخکي ووېل چي د غُلَامُ زَيْدٍ تقدير داسي راځي: غُلَامٌ لِزَيْدٍ، نو د مضاف عمل بيا موقوف سو پر حرفِ جر باندي، نو دا "دَور" سو، او "دور" باطل دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي او فرمايي: قُلْنَا هٰذَا...إلخ، خلاصه يې دا ده چي دغه سوال هغه وخت واردېږي کله چي موږ دا خبره ومنو چي د مضاف عمل د حرف جر په تقدير سره دی، يعني د حرف جر په واسطې سره دی، دا سوال خو د سيبويه د مذهب په صورت کي واردېږي، امّا د جمهورو په نيز مضَاف عامل دی بغير د حرفِ جر له واسطې څخه، نو د جمهورو د مذهب مطابق هيڅ سوال نه واردېږي.

د شارح رَحِمَهُ الله تبصره: شارح رَحِمَهُ الله د دواړو مذهبونو په مينځ کي تبصره کوي او فرمايي چي عمل د مضاف که پر سماع حمل کړل سي، لکه څرنګه چي جمهور وايي نو "دَور" بيا نه راځي، او دا اولیٰ دي.

﴿النوع الثاني﴾

(دويمه نوع)

نظم: واو و یاء و همزه و آلا آیا و اَی هَیا .. ناصب اسم اند این هفت حرف پنج ازان بهر ندا

ترجمه: واو یاء.....إلخ ... نصب ورکونکي و اسم ته دي دغه اووه حروف پنځه له دغو څخه لپاره د نداء (آواز) دي.

تشريح: پوه سه! چي له دیارلسو (۱۳) انواعو څخه دا دویمه نوعه ده، په دې نوعه کي اول حرف "واو" دی، دویم حرف "یاء" ده، دریېم حرف "همزه" ده، پنځم حرف "آلا" دی، پنځم حرف "آیا" دی، شپږم حرف "آی" دی، او اووم حرف "هَیَا" دی، دا ټوله حروف اسم ته نصب ورکوي، او په دغو حروفو کي پنځه حروف د نداء (آواز) لپاره دي، چي اول "یا" ده، مثلاً یو څوک بل چا ته دآواز کولو په وخت کي داسي وايي: یَا عَبْدَ الله، دویم "آی" دی، دریېم "هَیَا" دی، او پاته دوه حروف یعني "واو" او "آلا" د نداء لپاره نه دي، بلکي "واو" خو پر مفعول داخلیږي او په معنیٰ د "مَعَ" سره راځي، او "هَیَا" لپاره د تحضیض (پارولو) راځي.

وَ سُمِّيَ هٰذَا النَّوْعُ إلخ: او دغه نوعه په حروفِ نواصب، حروفِ نداء، او حروفِ معاني سره هم نومول سوې ده، په "حروفِ نواصب" سره ځکه نومول سوې ده چي په دې نوع کي هغه حروف دي چي اسم ته نصب ورکوي، او په "حروفِ نداء" سره ځکه نومول سوې ده چي په دې حروفو سره بل چا ته نداء (آواز) کیږي، او "حروفِ معاني" ځکه ورته ویل کیږي چي دوی هر یو ځان ته (بېله) معنیٰ لري.

د حروف نداء په عمل کي یو اختلاف: وَفِيْ عَمَلِهَا خِلَافٌ...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د یو اختلاف وضاحت دی، هغه دا دی چي بعضي وايي چي دغه حروف خپل مدخول ته نصب ورکوي حقیقتاً، او بعضي وايي چي نصب ورکونکي هغه افعال دي چي تر دغو حروفو مخکي ذکر وي، لکه اِسْتَوَى الْمَاءُ وَالْخَشَبَةَ، نو دلته خَشَبَةَ ته اِسْتَوٰى فعل نصب ورکړی دی بنا بر مفعولیت، او یا به دغه فعل معناً موجود وي لکه مَا شَانُكَ وَعَمْرًوا، اصل عبارت يې داسي دی: مَا تَصْنَعُ وَعَمْرًوا، نو دلته وَعَمْرًوا ته دا تَصْنَعُ معنوي فعل نصب ورکړی دی، او دلته هم عَمْرًوا بنا بر مفعولیت منصوب دی.

تنبیه: د اول مذهب مطابق دِاسْتَوَی الْمَاءُ وَالْخَشْبَةَ په مثال کې خَشْبَةَ ته نصب دغه واو ورکړی دی، او د دویم مذهب مطابق نصب وَالْخَشْبَةَ ته فعل اِسْتَوَی ورکړی دی، ځکه چې اِسْتَوٰی فعل دی، الْمَاءُ فاعل دی، واو په معنیٰ د مَعَ سره دی، الْخَشْبَةَ مفعول معه دی، بنا بر مفعولیت منصوب دی.

په دویم مثال کې هغه مثال چې فعل لفظاً ذکر نه وي بلکې تر دغه واو مخکې مقدر وي لکه مَا شَأنُكَ وَعَمْرًا، د دې عبارت اصل داسې دی: مَا تَصْنَعُ وَعَمْرًا، نو دلته هم د اول مذهب مطابق عَمْرًا په واو سره منصوب دی، او د دویم مذهب مطابق واو په معنیٰ د مَعَ سره دی، او عَمْرًا د تَصْنَعُ فعل مفعول دی، لهذا عَمْرًا بنا بر مفعولیت منصوب دی؛ شارح رَحِمَهُ الله یوازې د "واو" مثال راوړی دی، همدغه اختلاف په نورو حروفِ نداء کې هم واقع دی، وقِسْ علیٰ هٰذا.

تبصره: وَهُوَ الأَصَحُّ فَإِضَافَة...إلخ، شارح رَحِمَهُ الله دلته پر دې خبره تبصره کړې ده چې دویم مذهب أصح دی، خو د شارح رَحِمَهُ الله پر دې تبصرې یو سوال واردیږي.

سوال: دا دی چې محترمه! تا وویل چې دویم مذهب أصح دی چې عمل فعل کوي، نو بیا دغو حروفو ته "نواصب" ولې ویل کیږي؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي: فَإِضَافَةُ النَّصْبِ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چې اضافت د نصب و دغو حروفو ته په دې وجه دی چې دوی واسطه دي په مینځ د عامل او معمول کې، که څه هم حقیقتاً نواصب افعال دي.

﴿النوع الثالث﴾
(دريمه نوع)

نظم: إِنَّ با أَنَّ كَأَنَّ لَيْتَ لٰكِنَّ لَعَلَّ ... ناصبِ اسم اند ورافع در خبر ضد مَا و لَا

ترجمه: إِنَّ سره د أَنَّ...إلخ ... نصب وركونكي و اسم ته دي او رفع وركونكي و خبر ته دي ضد د مَا او لَا دي.

تشريح: دغه حروف مُشبّه بالفعل دي، عمل يې دا دی چي اسم ته نصب وركوي او خبر ته رفع وركوي، مثال لكه إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، په دې مثال كي زَيْدًا اسم د إِنَّ دی، نصب يې وركړی دی، او قَائِمٌ يې خبر دی، رفع يې وركړې ده، وقِس علىٰ هٰذا: كَأَنَّ زَيْدًا قَائِمٌ.

ناظم وويل چي دوی ضد د مَا او لَا دي، ځكه چي مَا او لَا اسم ته رفع وركوي اوخبر ته نصب وركوي، لكه مَا زَيْدٌ قَائِمًا.

نكته: ناكت تر دې عبارت أَيْ النَّوْعُ الثَّالِثُ لاندي دا نكته ليكلې ده: وجه تقديم...الخ، غرض د ناكت په دې نكتې سره جواب د يو سوالِ مقدر دی.

سوال: څه وجه ده چي ناظم حروفِ مُشبّه بالفعل تر مَا او لَا مقدّم كړل.

جواب: ناكت رَحِمَهُ الله په دې نكتې سره جواب وركوي: وجه تقديم...الخ، خلاصه د نكتې دا ده چي حروف مشبه بالفعل تر مَا او لَا ځكه مقدم كړل سول چي دوی د فعلِ متصرف سره (كوم چي فعل مطلق دی) د مشابهت له كبله عمل كوي، او مَا او لَا د فعل غيرِ متصرف (لَيْسَ) سره د مشابهت له كبله عمل كوي، او فعل متصرف پر فعل غير متصرف مقدم وي، نو له همدې كبله حروفِ مشبّه بالفعل تر مَا او لَا مقدّم سول.

وَ سُمِّيَ هٰذَا النَّوْعُ: محشي د شارح رَحِمَهُ الله پر دې قول يو سوال او جواب را نقل كړي دي، ستاسو د استفادې لپاره به هغه دلته هم ذكر كړو.

سوال: دا دی چي حروف مشبّه خو شپږ (۶) دي، نو بايد چي شارح جمع قِلت استعمال کړې وای، ځکه چي د جمع قِلت اطلاق له دريو (۳) څخه بيا تر لسو (۱۰) پوري کيږي، او شارح دلته جمع کثرت استعمال کړې ده، چي هغه لفظ د "حروف" دي، د جمع قِلت څلور اوزان (۴) دي: ① اَفْعَالٌ لکه اَقْوَالٌ. ② اَفْعِلَةٌ لکه اَعْوِنَةٌ. ③ فِعْلَةٌ لکه غِلْمَةٌ. ④ اَفْعُلٌ لکه اَکْلُبٌ.

جواب: ستا خبره صحيح ده، او مناسب هم دغه وه چي شارح جمع قِلت استعمال کړې وای، خو هغه ځکه جمع کثرت استعمال کړې ده چي مخکي هغه له حروف جاره او حروف ناصبه وو څخه تعبير په جمع کثرت سره کړی وو، نو اوس يې دا ښه نه وګڼل چي په خپلو طريقو کي تغير راولي، سره د دې چي يوه جمع د بلي پر ځای استعمالېدلای سي، لکه په شرح جامي کي چي راغلي دي: وَقَدْ يُسْتَعَارُ اَحَدُهُمَا لِلْاٰخَرِ مَعَ وُجُوْدِ ذٰلِكَ الْاٰخَرِ، لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي لفظ د ثَلٰثَةَ قُرُوْۤءٍ راغلی دی، او قُرُوْۤءٌ جمع کثرت دی پر وزن د فُعُوْل دی، او اطلاق يې پر ثلثة سوی دی، سره د دې چي جمع قلت يې اَقْرَاء راځي، نو له دې څخه د جمع کثرت پر ځای د جمع قلت د استعمال جواز معلوميږي، فلا يرد ما يرد.

د حروف مُشبّه بالفعل وضاحت: شارح رَحِمَهُ الله په وَاعْلَمْ اَنَّهَا...اِلخ سره د حروف مشبه بالفعل وضاحت کوي، نو فرمايي چي دغه حروف بذواتها حروف دي، افعال او اسماء نه دي، عمل يې نصب دی چي مبتداء ته نصب او خبر ته رفع ورکوي، او مدخول يې مبتداء او خبر دي، او شمېر يې شپږ (۶) دي.

او نوم يې مشبّه بالفعل دی، ځکه چي دغه حروف د فعل سره لفظاً هم مشابه دي او معناً هم.

د فعل سره د حروف مُشبّه بالفعل لفظاً مشابهت: لفظاً په ثلاثيت، رباعيت، خماسيت، ادغام او په اتصال د کاف خطابي کي ورسره مشابه دي.

په ثلاثيت کي په دې توګه چي څرنګه فعل ثلاثي راځي لکه ضَرَبَ، همدغسي حروف مشبّه بالفعل هم ثلاثي راځي، لکه اِنَّ چي په اصل کي اِنْنَ وو، او څرنګه چي فعل رباعي راځي لکه دَحْرَجَ، همدغسي دا حروف هم راځي، لکه لَعَلَّ چي په اصل کي لَعَلْلَ وو وغيرذلك؛ په ادغام کي مشابهت په دې توګه چي کله په فعل کي دوه حرفه له يوه جنس څخه راسي نو ادغام کيږي، همداسي که په حرف مشبّه بالفعل کي دوه حرفه له يوه جنس څخه راسي نو هم به ادغام کيږي، د فعل مثال لکه مَدَّ چي په

اصل کې مُدْدُوْ، يو دال په بل کې مُدْغم شو، د حروفِ مشبه بالفعل مثال لکه اِنَّ، لَعَلَّ وغير ذلك، په اتصال د ضميرِ خطابي کې مشابهت په دې توګه دی چې څرنګه د فعل سره کاف د خطاب متصل کيږي لکه ضَرَبَكَ زَيْدٌ، همداسې د حروفِ مشبه بالفعل سره هم متصل کيږي لکه اِنَّكَ لَعَلَّكَ وغير ذلك، همدارنګه د نونِ وقايه په اتصال کې هم مشابهت ور سره لري، يعنې څرنګه چې د فعل په آخر کې نون د وقايې متصل کيږي، همداسې د حروفِ مشبه بالفعل سره هم متصل کيږي، د فعل مثال لکه ضَرَبَنِيْ زَيْدٌ، د ضَرَبَنِيْ نون نونِ وقايه دی، د حروفِ مشبه بالفعل مثال لکه اِنَّنِيْ وغير ذلك.

د فعل سره د حروفِ مشبه بالفعل معنا مشابهت: وَاَمَّا معنیً فَلِاَنَّ مَعَانِيَهَا...الخ، شارح رَحِمَهُ الله له دې ځای څخه د حروفِ مشبه بالفعل معنا مشابهت بيانوي، خلاصه يې دا ده چې د دغو حروفو معناوې د افعالو د معناوو په څېر دي.

محشي رَحِمَهُ الله يو سوال او جواب را نقل کړی دی.

سوال: دا دی چې شارح رَحِمَهُ الله خو وايي چې د دغو حروفو معناوي داسې دي لکه د افعالو معناوې، دا خبره يې صحيح نه ده، ځکه چې افعال په فهم د معنیٰ کې بل چا ته ضرورت نه لري، او دغه حروف په فهم د معنیٰ کې ضم د بلې کلمې ته ضرورت لري، نو شارح رَحِمَهُ الله څرنګه دا وينا کوي چې: مَعَانِيَهَا مَعَانِي الْاَفْعَالِ؟

جواب: موږ جواب ورکوو چې د شارح په عبارت کې تسامح ده، مراد دا دی چې مَعَانِيَهَا مُسْتَلْزِمٌ لِمَعَانِي الْاَفْعَالِ، يعنې د دوی معاني مستلزم دي معاني د افعالو لره، ځکه کله چې اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ ذکر شي، نو له دې څخه د حَقَّ اَیْ ثَبَتَ قِيَامُ زَيْدٍ معنیٰ معلوميږي.

د اِنَّ او اَنَّ خبرونه: پوه شه! چې اِنَّ او اَنَّ د جملې اسميې د معنیٰ د ثبوت لپاره راځي، لکه اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، د دې معنیٰ ده: حُقِّقَ قِيَامُ زَيْدٍ، او لکه بَلَغَنِيْ اَنَّ زَيْدًا مُنْطَلِقٌ، د دې معنیٰ ده: بَلَغَنِيْ ثُبُوْتُ اِنْطِلَاقِ زَيْدٍ، (يعنې ما ته د زيد د تللو خبر را ورسېدی).

د لغاتو حل: په ۲۴ صفحه کې لفظ د نون وقايه راغلی وو. ﴿وقايه﴾ په لغت کې "ساتنې" ته ويل کيږي، د کتاب هغو دوو ډبلو کاغذانو ته هم ځکه "وقايه" ويل کيږي چې د هغو په واسطه د کتاب صفحې خوندي کيږي، او په اصطلاح کې د کلمې د ساتنې او حفاظت په معنیٰ راځي، او دغه نون د وقايې هم کلمه له تغير څخه ساتي، ﴿حققت﴾ "ما ثابت کړی"، د تفعيل له باب څخه د واحد متکلم صيغه ده "ثبوت او ثابتول"، ﴿شبهت﴾ "ما مشابه کړی"، او د کاف تشبيهي هم دغه معنیٰ ده، ﴿استدركت﴾ "ما د مخکنې کلام ادراک وکړی"، او لٰكِنَّ هم د دغه معنیٰ لپاره راځي، لکه غَابَ زَيْدٌ لٰكِنَّ عَمْرًا حَاضِرٌ، ﴿تمنيت﴾ "ما هيله وکړه"، لَيْتَ هم د دغه معنیٰ لپاره راځي، لکه لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ (کاش زيد حاضر وای)، ﴿ترجيت﴾ "ما هيله وکړه"، او لَعَلَّ هم د دغه معنیٰ لپاره راځي، لکه لَعَلَّ زَيْدًا حَاضِرٌ.

د لَيْتَ او لَعَلَّ توپير: د يادونې وړ ده چې د لَيْتَ او لَعَلَّ په مينځ کې لږ فرق سته، هغه دا چې لَيْتَ په ممکناتو او غير ممکناتو دواړو کې استعماليږي، د ممکن مثال لکه لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ، د غير ممکن مثال لکه لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ.

او لَعَلَّ صرف په ممکناتو کې استعمليږي نه په غير ممکناتو کې، لکه لَعَلَّ زَيْدًا حَاضِرٌ ويل صحيح دي، خو لَعَلَّ الشَّبَابَ يَعُوْدُ ويل صحيح نه دي، دا توپير مو بايد په ياد وي!.

د حروف مشبه بالفعل نور نومونه: وَ تُسَمّٰى اَيْضًا...الخ، شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چې دې حروفو ته حروفُ النّواسخ هم ويل کيږي، ځکه کله چې دوی پر مبتداء او خبر داخل سي، نو د هغو مخکنی عمل نسخ کوي، مثلاً مبتداء هم مرفوع وي، خبر هم، کله چې دغه حروف ورباندي داخل سي، نو له مبتداء څخه رفع نسخ کړي نصب ور کړي، او له خبر څخه مخکنی رفعه ختمه کړي نوې رفع ور کړي، د مثال په توګه اول زَيْدٌ قَائِمٌ وي، کله چې اِنَّ پر داخل سي، نو اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ ويل کيږي؛ او حروفُ الدّواخل هم ورته ويل کيږي ځکه چې دوی پر مبتداء او خبر داخليږي، او حروفِ معانٍ هم ورته ويل کيږي، ځکه چې دوی پر خپلو معانيو دلالت کوي.

سوال: کله چي دغه حروف د فعل سره په مذکوره شیانو کي مشابهت لري، نو ولي دوی له فعل څخه په عمل کي مخالف دي، چي و اسم ته نصب ورکوي او خبر ته رفع؟

جواب: د فعل لپاره دوه عملونه دي، يو اصلي او بل فرعي، او مشبّه به (کوم چي فعل دی) اصل وي تر مشبّه (کوم چي دغه حروف دي)، نو فرعي عمل (يعني تقديم د منصوب پر مرفوع) يې و فرعي (يعني دغو حروفو) ته ورکړی، او اصلي عمل (يعني تقديم د مرفوع پر منصوب) يې و اصل (يعني فعل) ته ورکړی، نو اوس هيڅ اعتراض نه وارديږي ځکه چي فرعي عمل فرع ته ورکړل سو، او اصلي عمل اصل ته ورکړل سو، طَابَقَ النَّعْلُ بِالنَّعْلِ.

سوال: شارح رَحِمَہُ اللہ يو سوال را نقل کړی دی، فرمايي: فَإِنْ قِيلَ إِذَا كَانَ مَعَانِ...إلخ، خلاصه يې دا ده چي کله د دغو حروفو معاني د افعالو په څير دي، نو مناسب دا ده چي دوی ته حروفُ الافعال وويل سي، لکه اسماءُ الافعال ته چي اسماءُ الافعال ځکه ويل کيږي چي د دوی معنیٰ د فعل ده، نو بايد دغه حروف هم په حروفُ الافعال سره ونومول سي؟

جواب: قُلْنَا...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي د دې دواړو تر مينځ توپير سته، هغه دا چي د اسماءُ الافعال سره د افعالو معنیٰ وضعاً لازمه وه، او د حروفِ مشبه بالفعل سره وضعاً د افعالو معنیٰ غيرِ لازمه ده، بلکي د کلام له سياق او معنیٰ څخه معلوميږي، نو له همدې کبله دغو حروفو ته حروفُ الافعال نه وويل سوه.

سوال: فَإِنْ قِيلَ وُجُودُ الْمُشَابَهَةِ...إلخ، حاصل د سوال دا دی چي د دغو حروفو مشابهت خو د مطلق فعل سره دی، هغه که فعل لازمي وي او که متعدي، نو کله چي د دغو حروفو د مطلق فعل سره مشابهت ثابت سو، نو دا حروف د فعل لازمي سره هم مشابه سول او د فعل متعدي سره هم مشابه سول، لېکن تاسو دغو حروفو ته عمل د فعل متعدي ورکړی چي هغه عمل دی په دوو شيانو کي، په دا ډول چي يوه ته به نصب ورکوي او بل ته به رفع ورکوي، او د فعلِ لازمي عمل مو نه ورکړی چي هغه عمل دی په يوه معمول کي، په دا ډول چي هغه و خپل معمول ته رفع ورکړي، نو دا خو ترجيح بلا مرجح ده؟

جواب: قُلْنَا الْأَمْرُ كَذَالِكَ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي دا حروف که څه هم د مطلق فعل سره مشابهت لري، هغه که فعل لازمي وي او که متعدي، لېکن د فعل معتدي سره هم د دغو حروفو داسي مشابهت سته چي هغه يې د فعلِ لازمي سره نسته، او هغه خاص مشابهت دا دی چي څرنګه فعلِ

متعدي د دوو شيانو تقاضا کوي چي يو شی به ورته فاعل وي او بل به ورته مفعول وي، همدارنګه دا حروف هم د دوو شيانو تقاضا کوي چي يو شی به ورته اسم وي او بل به ورته خبر وي.
او هغه مشابهت چي دغو حروفو د فعل سره په ثلاثيت، رباعيت، خماسيت، نونِ وقايي او اتصال د کاف خطابي کي درلود، هغه مشابهت لازمي او متعدي ټولو فعلونو ته شامليدی، خو دغه د دوو شيانو تقاضا دا د فعلِ متعدي سره د دغو حروفو يو خاص مشابهت دی، نو د همدغه خاص مشابهت له کبله دوی د فعلِ متعدي د عمل مستحق سول، لهذا دا ترجيح بلا مرجح نه سوه، بلکي ترجيح مع المرجح سوه.

﴿النوع الرابع﴾
(څلورمه نوع)

قوله ضد مَاولَا أي النَّوْعُ الرَّابِعُ: پوه سه! چي له مذکوره انواعو څخه دغه څلورمه نوعه ده، په دې کي د مَا او لَا سره اړوند موضوعات بيانيږي.

نو شارح رَحِمَهُ الله د وَاعْلَمْ أَنَّهُمَا حَرْفَانِ څخه د مَا او لَا په هکله معلومات درکوي، نو فرمايي چي مَا او لَا هم حروف دي.

نکته: تر وَاعْلَمْ أَنَّهُمَا لاندي ناکت دا نکته ليکلې ده: أي مَا و لَا، غرض د ناکت د أَنَّهُمَا د ضمير مرجع ښوول دي، نو پوه سه! چي أَنَّهُمَا راجع دی مَا او لَا ته.

د مَا او لَا مدخول: د مَا او لَا مدخول مبتداء او خبر دي، او عمل د مَا او لَا نصب او رفع دي، او شمېر يې دوه دي.

د مَا و لَا نور نومونه: ① مَا و لَا نافيه، ②مَا و لَا مشابه بِلَيْس، ③ حروفِ نواسخ، ④ حروفِ نواخل، ⑤ حروفِ معاني.

يو نحوي تحقيق: ګرانه طالب جانه! شارح رَحِمَهُ الله ليکلي دي: حَرْفَا النَّوَاسِخِ حَرْفَا الدَّاوَخِلِ حَرْفَا الْمَعَانِيْ، بايد پوه سو چي حَرْفَا اسم تثنيه دی، مفرد يې حَرْفٌ راځي، جمع يې حُرُوْفٌ راځي، حَرْفَا النَّوَاسِخِ په اصل کي حَرْفَانِ وو، کله چي شارح رَحِمَهُ الله حَرْفَانِ مضاف کړی نواسخ ته، نو نون په اضافت سره ساقط سو، وجه يې دا ده چي اضافت تقاضا د اتصال کوي، او نون تقاضا د انفصال کوي، او

دواړه نه سي سره جمع کېدای، نو نون په اضافت سره ساقط سو، حَرْفَا النَّوَاسِخِ ور څخه جوړ سو، لکه مُسْلِمَا الْبِصْرِ، مُسْلِمُوا الْبِصْرِ، فَتَفَكَّرْ وتَدَبَّرْ.

وجه تسمیه: شارح رَحِمَهُ الله لیکلي دي: وَجْهُ تَسْمِيَتِهِمَا...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د دغو حروفو وجه تسمیه بیانول دي، نو فرمایي چي دغو حروفو ته مشبه بِلَيْسَ ځکه ویل کیږي چي دوی د لَيْسَ سره په نفي کي مشابهت لري، یعني څرنګه چي لَيْسَ خپل مدخول له مثبت څخه منفي ته اړوي، همداسي دا حروف هم دغه عمل کوي.

حروف النواسخ: ځکه ورته وایي چي دوی د مبتداء او خبر هغه مخکنی اعراب نسخ کوي چي رفع ده.

حروف الدّواخل: ځکه ورته وایي چي دوی پر مبتداء او خبر داخلیږي.

حروف المعاني: ځکه ورته وایي چي دوی د نفي معنیٰ لري.

سوال: مَا و لَا حروف دي او لَيْسَ فعل دی، نو حرف به د فعل سره څه مشابهت ولري؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي چي د فعل سره په نفي کي دوی مشابهت لري؛ مَا و لَا ته اصلي عمل (یعني تقدیم د مرفوع پر منصوب) په خواست سره راوړل سو.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله یو سوال او جواب را نقل کړی دی، خلاصه یې دا ده چي شارح رَحِمَهُ الله وایي چي و دغو حروفو ته اصلي عمل د لَيْسَ څخه په خواست راوړل سو. لَيْسَ دوه (۲) عملونه لري، یو اصلي دی، هغه دا دی چي مرفوع د لَيْسَ به مقدم وي پر منصوب د لَيْسَ، او بل فرعي عمل دی، هغه دا دی چي منصوب د لَيْسَ به مقدم وي پر مرفوع د لَيْسَ، لهذا کله چي مَا و لَا ته د لَيْسَ اصلي عمل ورکړل سو، نو پر دې اساس تسویه د فرع راغله د اصل سره، او دا خو ممنوع دي، ځکه چي فرع خو کښته وي تر اصل، نو دلته تاسو څرنګه دواړه سره برابر کړل.

(۱) **جواب**: موږ جواب ورکوو چي ممنوع زیاتوالی د فرع پر اصل دی، او تسویه د فرع د اصل سره ممنوع نه ده.

(۲) **جواب**: هو! موږ منو چي تسویه د فرع د اصل سره صحیح نه ده، خو دلته موږ ځکه وکړه تر څو د مَا و لَا مشابهت د حروفِ مشبه بالفعل سره را نه سي، ځکه که مو فرعي عمل (تقدیم د منصوب علی

المرفوع) ورکړي وای، نو مشابهت به يې د حروفِ مشبّه بالفعل سره راغلی وای، نو ځکه موږ اصلي عمل (تقديم د مرفوع على المنصوب) ورکړی.

د مَا و لَا په باره کي دوه مذهبونه: ثُمَّ اعْلَمْ...إلخ، پوه سه! چي د مَا و لَا په هکله دوه مذهبونه دي: ① داهلِ حجاز مذهب، ② د بنو تميم مذهب.

(۱) د اهلِ حجاز مذهب: دا دی چي عمل مَا و لَا کوي، اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي، او په دې هکله قرآن کريم هم د اهلِ حجازو د مذهب مطابق دی، الله ﷻ فرمايي: مَا هٰذَا بَشَرًا [سورة يوسف: ۳۱]، دلته هٰذا د مَا اسم دی چي محلاً مرفوع دی، او بَشَرًا خبر دی چي لفظاً منصوب دی، که چيري لفظ د مَا عمل نه وای کړی، نو بيا به مَا هٰذا بَشَرٌ ويل سوي وای، او هٰذَا به د خبريت پر اساس محلاً مرفوع وای، نو کله چي بَشَرٌ مرفوع نه سو بلکي منصوب سو، نو معلومه سوه چي بَشَرٌ د مَا لپاره اسم دی، او مَا عمل پکښي کړی دی؛ حجازيين مَا و لَا په عمل کي پر لَيْسَ قياسوي.

(۲) د بنو تميم مذهب: بنو تميم مَا و لَا ته عمل نه ورکوي، د دوی دليل دا دی چي شرط لپاره د عمل کولو اختصاص د عامل دی د هغي نوعي سره چي دا عامل د هغه نوعي په افرادو کي عمل کوي، يعني که يو عامل په اسم کي عمل کوی، نو هغه به يوازي پر اسم داخليږي، پر فعل به نه داخليږي، لکه حروفِ جاره، او مثلاً که يو عامل د فعل په افرادو کي عمل کوی، نو هغه عامل به خاص وي تر فعل پوري، لکه حروف نواصب او جوازم، او مَا و لَا نه د فعل سره خاص دي، نه د اسم سره، بلکي پر دواړو داخليږي، او شرط لپاره د عمل کولو اختصاص د عامل دی د هغي نوعي سره چي د هغې په افرادو کي دا عامل عمل کوي، نو کله چي په مَا و لَا کي دا شرط نسته، نو دوی عمل هم نه سي کولای، وَالتَّفْصِيْلُ فِي الْمُطَوَّلَاتِ.

﴿النوع الخامس﴾

(پنځمه نوع)

نظم: اَنْ وَلَنْ پس کَیْ اِذَنْ این چار حرف معتبر — نصب مستقبل کنند این جمله دائم اقتضاء

ترجمه: اَنْ او لَنْ بیا کَیْ اِذَنْ دغه څلور معتبر حروفه .. نصب مضارع ته ورکوي د دغو ټولو تل دا تقاضا وي.

تشریح: پوه سه! شارح رَحِمَهُ الله د اِعْلَمْ اَنَّ الْاَصلَ څخه د حروفِ ناصبه وو تفصیل بیانوي چي خلاصه يې دا ده:

د دې حروفو په هکله یوه اتفاقي خبره: د دې حروفو په هکله یوه اتفاقي خبره دا ده چي اصل په دغو څلورو (۴) حروفو کيَ کلمه د اَنْ ده، او په دې خبره کي هیڅ اختلاف نسته، ځکه چي دا د اَنَّ سره مشابهت لري، کوم چي له حروفِ مشبه بالفعل څخه دی، او مشابهت يې د اَنَّ سره د همزې په فتحه کي دی، نو اَنَّ حرف دی له حروفِ مشبّه بالفعل څخه، او حروفِ مشبه بالفعل اسم ته نصب ورکوي، لهذا دغه اَنْ به کوم چي د اَنَّ سره مشابه دی هم و فعل ته نصب ورکوي.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله خو وویل: لِمُشَابَهَتِهَا یعني اَنْ د اَنَّ سره د مشابهت له کبله عمل کوي، او اَنَّ بیا خپله د فعل سره د مشابهت له کبله عمل کوي، یعني اَنَّ استعاره وکړه له فعل څخه، اوس بیا اَنْ استعاره کوي له اَنَّ څخه، دا خو استعاره له مستعیر څخه سوه، او دا صحیح نه ده؛ او په دې اړه طالبان یو متل هم وایي چي "استعاره له مستعیره داسي ده لکه سپی چي دوډۍ غواړي له فقیره"؟

جواب: دا دی چي استعاره له مستعیره هغه وخت جائز نه ده کله چي مستعیر (خواست کونکی) داسي نه وي لکه مستعار (له چا څخه چي خواست کیږي)، نو دلته خو مستعیر د مستعار سره د کامل مشابهت له کبله داسي دی لکه مستعار، نو څرنګه چي استعاره له مستعار څخه (چي فعل دی) جائز وه، همداسي له مستعیر څخه (چي اَنَّ دی) هم جائز سوه.

سوال: بناغلې! تا خو وویل چي اَنْ د اَنَّ سره د مشابهت له کبله عمل کوي، او اَنَّ اسم ته نصب ورکوي، نو باید چي اَنْ هم اسم ته نصب ورکولای نه و فعل ته؟

جواب: د دې مقدر سوال جواب شارح رَحِمَهُ الله په خپله ورکوي او فرمايي: وَاَنَّ مِنَ الحُرُوْفِ المُشَبَّهَةِ بِالفِعْلِ...اِلخ، د جواب خلاصه دا ده چې مشبه به يعني اَنَّ اصل دی، او هغه اسم ته نصب ورکوي، او مشبه کوم چې اَنْ دی، که چيرې هغه هم په اسم کې عمل وکړي، نو تسويه به راسي په مينځ د فرع او د اصل کې، او دا ښه کار نه دی، نو په دې وجه موږ انحطاط (کښته والی) د فرع وکړی تر اصل پورې، او اَنْ ته مو په فعل کې عمل ورکړی.

په لَنْ، کَيْ او اِذَنْ کې يو اختلاف: د اَنْ مسئله خو بيان سوه، او د دغه نورو دريو حروفو په عمل کې د جمهورو او امام خليل اختلاف دی، دواړه مذهبونه به تاسو ته بيان سي.

د جمهورو مذهب: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: فَذَهَبَ بَعْضُهُمْ...اِلخ، دلته مراد له بعضو څخه جمهور دي، لکه څرنګه چې ناکت هم اشاره ورته کړې ده، نو جمهور وايي چې دغه درې آخري حروف هم په خپله مضارع ته نصب ورکوي، يعني ضم د بلې کلمې ته ضرورت نه لري، او دا عمل يې د اَنْ سره د مشابهت له کبله دی، او مشابهت د دغو دريو حروفو د اَنْ سره په استقباليت کې دی، يعني کله چې اَنْ مصدريه پر فعل مضارع داخل سي، نو له مضارع څخه به استقبالي معنىٰ مراد وي، همداسې که له دې دريو حروفو څخه يو حرف پر فعل مضارع داخل سي، نو مراد به له هغه څخه فعلِ مستقبل وي، نو د دې مشابهت له کبله دا حروف په عمل کې پر اَنْ مصدريه ور حمل کيږي.

د امام خليل مذهب: وَ ذَهَبَ بَعْضُهُم...اِلخ او د امام خليل مذهب دا دی چې دغه درې حروف خپله (بنفسها) په فعل مضارع کې عمل نه کوي، بلکې په تقدير د اَنْ سره عمل کوي.

د اختلاف نتيجه: د اختلاف نتيجه زموږ په دې قول کې ښکاره کيږي لَنْ يَّضْرِبَ، د اول مذهب پر اساس دغه مضارع منصوب ده په کلمه د لَنْ سره، او د دويم مذهب پر اساس دغه مضارع منصوب ده په تقدير د اَنْ سره، ګواکې تقدير د عبارت داسې دی: لَنْ اَنْ يَّضْرِبَ، يعني اَنْ ور سره مقدر دی، او د دغه اَنْ په مرسته سره دغه لَنْ عمل کړی دی.

دغه حروف د ذات په اعتبار سره حروف دي اسماء او افعال نه دي، شمېر يې څلور دی. عمل يې نصب دی، او محل د نصب يې مضارع ده، مدخول د دغو حروفو نه دی، ځکه چې مدخول خو يې کله نا کله

ماضي هم وي، مګر په ماضي کې څه عمل نه کوي، ځکه چي ماضي خو مبني وي.

د حروفُ النواصبو نور نومونه: دغه حروف مشهور په حروفُ النواصب سره دي، حروفُ المعاني او حروفُ المصدر هم ورته ويل کيږي.

وجه تسميه: حروفُ النواصب ځکه ورته ويل کيږي چي مضارع ته نصب ورکوي، او حروفُ المعاني ځکه ورته ويل کيږي چي پر خپلو معانيو دلالت کوي، او حروفُ المصدر ځکه ورته ويل کيږي چي خپل مدخول د مصدر په تأويل سره اړوي.

سوال: محترمه! تا خو وويل چي و دغو حروفو ته حروفُ المصدر هم ويل کيږي ځکه چي دوی خپل مدخول د مصدر په تأويل سره اړوي، نو خپل مدخول خو د مصدر په تأويل سره يوازي أنْ اړوي، لهذا پر دا نورو دريو د حروفُ المصدر اطلاق کول صحيح نه دی؟

جواب: د مذکوره مقدر سوال جواب شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره ورکوي: وَ حُرُوْفُ الْمَصْدَرِ فَيَكُوْنُ تَسْمِيَةُ الْكُلِّ بِاسْمِ الْجُزْءِ، د جواب خلاصه دا ده چي دلته که څه هم دغه نور درې حروف خپل مدخول په تأويل د مصدر سره نه اړوي، خو د دوی تسميه په حروف مصدر سره دا تسميه د کُل ده په اسم د جزء سره، او تسميه د کل په اسم د جزء سره جائز ده.

﴿النوع السادس﴾

(شپږمه نوع)

نظم: إنْ ولَمْ ولَمَّا ولام امر ولاء نهي نيز اين ... پنج حرف جازم فعلند ہر يک بي دغا

ترجمه: إنْ او لَمْ او لَمَّا او لام د امر او لاء د نهي همدغسي دغه ... پنځه حروف جزم ورکونکي و فعل ته دي هر يو بې له شکه.

تشريح:

اِعْلَمْ أَنَّ هٰذِهِ الْحُرُوْفَ...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د حروف جازمه وو وضاحت دی، چي خلاصه يې په دا ډول ده:

د اِنْ او د پاته څلورو حروفو په مینځ کي فرق: دا دي چي اِنْ په دوو فعلونو کي عمل کوي، او پاته څلور حروف چي لَمْ، لَمَّا، لامِ امر او لاءِ نهي دي، دا بیا په یوه فعل کي عمل کوي، د اِنْ مثال چي په دوو فعلونو کي یې عمل کړی وي لکه اِنْ تَضْرِبْ، اَضْرِبْ. اوله صیغه د واحد مذکر مخاطب فعل مضارع معلوم ده، په اصل کي مرفوع تَضْرِبُ وه، کله چي اِنْ پر داخل سو، نو د جزم عمل یې پکښي وکړی، اِنْ تَضْرِبْ شرط سو، او اَضْرِبُ صیغه د واحد متکلم ده، په اصل کي مرفوع وه، خو اوس د شرط لپاره جزاء واقع سوه، نو ځکه مجزومه سوه، نو اِنْ په دوو فعلونو کي د جزم عمل وکړی.

د پاته څلورو حروفو مثالونه: پاته څلور حروف کوم چي یوازي په یوه فعل کي د جزم عمل کوي، لکه لَمْ یَضْرِبْ، مخکي د لَمْ تر دخول، یَضْرِبُ وو، د لامِ امر مثال لکه لِیَضْرِبْ، مخکي تر دخول د لامِ امر یَضْرِبُ وو، او د لَمَّا مثال لکه لَمَّا یَضْرِبْ په اصل کي یَضْرِبُ وو، د لاءِ ناهیه مثال لکه لَا تَضْرِبْ، په اصل کي تَضْرِبُ وو.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله یو سوال را نقل کوي، او فرمایي: فَاِنْ قُلْتَ...اِلخ، خلاصه د سوال دا ده چي که ته سوال وکړې چي کلمه د اِنْ حرف دی، او حرف خو دومره ورتیا نه لري چي په دوو فعلونو کي د جزم عمل وکړي؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي او فرمایي: قُلْنَا...اِلخ، خلاصه د جواب دا ده چي دا یوه سماعي خبره ده، عقل او قانون لره په دې کي څه ځای نسته.

یو بل قول: شارح رَحِمَهُ الله یو بل قول هم د اِنْ په هکله را نقل کړی دی، خو د ده په نېز د اعتبار وړ نه دی، ځکه چي په صیغه د قِیْلَ سره یې ذکر کړی دی، او بیا یې جواب هم ورکړی دی، نو شارح رَحِمَهُ الله فرمایي وَقِیْلَ اِنَّ اِنْ یَعْمَلُ...اِلخ، خلاصه یې دا ده چي یو چا داسي ویلي دي چي اِنْ یوازي په شرط کي عمل کوي، بیا مجموعه د اِنْ او شرط دواړه په جزاء کي عمل کوي.

وَنَحْنُ نَقُوْلُ...اِلخ، شارح رَحِمَهُ الله د قِیْل قائل ته جواب ورکوي او فرمایي چي اِنْ چي څرنګه په شرط کي عمل کوي، همداسي یې په جزاء کي هم عمل کوي، او که ته عقل جنګوې، نو موږ دا وایو چي دا یو سماعي کار دی، عقل لره په دې کي څه دخل نسته.

سوال: ته خوايې چې دا حروف جازمه دي، او د جزم لغوي معنیٰ پرېکول دي، نو آيا دا حروف هم يو شی پرېکوي او که څنګه؟

جواب: هو! موږ منو چې د جزم لغوي معنیٰ پرېکول دي، خو دلته زموږ مراد اصطلاحي معنیٰ ده، او اصطلاحي معنیٰ د جزم پرېکول د حرکت او يا د حرف دي، نو دا حروف هم قطع د حرف يا حرکت کوي، د حرف پرېکول له هغو صيغو څخه کوي چې په آخر کې يې حرفِ علت وي، لکه اِنْ تَرْمِ، چې په اصل کې تَرْمِیْ وو، او د حرکت مثال لکه اِنْ تَضْرِبْ وقِس علیٰ هٰذا.

سوال: څه وجه ده چې دا حروف د فعل سره خاص سول؟

جواب: ځکه چې دا حروف خو به يا د نفي لپاره وضع سوي وي لکه لَمْ او لَمَّا، دا دواړه د فعل سره تعلق لري، او يا به د طلب لپاره وضع سوي وي لکه لامِ امر، او يا به د ترکِ طلب لپاره وي لکه لاءِ ناهيه، او يا به لپاره د تعلق د يو شي وي لکه اِنْ شرطيه، او دا ټولي معناګاني صرف په افعالو کې پيدا کيږي، نو ځکه دا حروف د افعالو سره خاص سول.

سوال: لَمْ، لَمَّا او لامِ امر او لاء ناهيه خو په يوه فعل کې د جزم عمل کوي او لفظ د اِنْ په دوو فعلونو کې د جزم عمل کوي، نو بايد چې د اِنْ لپاره مستقله نوع انتخاب سوې وای؟

جواب: ستا خبره صحيح ده خو ناظم رَحِمَهُ الله يوازي دې ته کتلي دي چې دوی ټوله د جزم په عمل کې سره شريک دي، نو ځکه يې د ټولو لپاره يوه نوع انتخاب کړه، او دې ته يې نه دي کتلي چې دوی په يوه فعل کې جزم کوي او که په دوو کې.

اِعْلَمْ اَنَّ الْاَصْلَ...اِلخ: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دغه عبارت سره د حروفِ جوازمو توپير بيانول دي، نو پوه سه! چې اصل په دغو حروفو کې اِنْ دی، ځکه چې وضع د اِنْ د جزم لپاره راغلې ده، او دا نور بيا فقط د اِنْ سره د مشابهت له کبله عمل کوي، وضع يې د جزم لپاره نه ده، او مشابهت د دوی د اِنْ سره په دې کې دی چې څرنګه اِنْ د فعل سره خاص دی، يوازي پر فعل داخليږي، او پر اسم نه داخليږي، همداسي دا نور حروف هم د فعل سره خاص دي، پر اسم نه داخليږي، او د دا نورو حروفو وضع واضع د جزم لپاره نه ده کړې، نو له همدې کبله دوی فرع سول او اَنْ اصل سو.

د حروفِ جوازمو نور نومونه: څرنګه چي د حروفِ جوازمو مشهوره نوم جوازم دی، خو نور نومونه هم لري: ① حروف المعاني، ② حروف النقل.

وجه تسميه: حروفِ جوازم ځکه ورته ويل کيږي چي دوی په مضارع کي د جزم عمل کوي، حروفِ معاني ځکه ورته ويل کيږي چي دوی پر خپلو معناګانو دلالت کوي، او حروفِ نقل ځکه ورته ويل کيږي چي مضارع له يوه حال څخه بل حال ته نقل کوي، مثلاً پر يَضْرِبُ چي کله لَمْ داخل سي، نو لفظاً تغير خو يې دا دی چي اول فعل مضارع مرفوع وه، اوس مجزومه سوه، معناً نقل يې دا دی چي مخکي د يَضْرِبُ معنیٰ دا وه چي "يو سړی وهل کوي يا به يې وکړي"، کله چي لَمْ پر داخل سو، نو له حال او استقبال څخه يې ماضي ته نقل کړه، او له مثبت معنیٰ څخه يې منفي معنیٰ ته واړوله، همدا وجه ده چي دغو حروفو ته حروفُ النقل هم ويل کيږي؛ يو مثال خو ما تاسو ته بيان کړی، نور نو تاسو له خپل فکر څخه کار واخلئ، اجراء او تمرين وکړئ تر څو ستاسو ذهني او فکري قوت هم پراخه سي، او کوم څه چي په خپل فکر کي جوړ او زده کړل سي هغه ډېر ارزښتناکه وي تر هغه چي له بل څخه زده کړل سي.

سوال: ناظم رَحِمَهُ الله خو حروفِ جوازم او د هغو عمل موږ ته بيان کړی، نو د "لِيْ دِعَا" لفظ راوړلو ته څه ضرورت وو، ځکه چي د دې لفظ معنیٰ ده "بې شکه"، لهذا دا لفظ عبث دی، او هر عبث کار حرام دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په خپله جوب ورکوي، فرمايي: أَوْرَدَ لِمُجَرَّدِ الْقَافِيَةِ، دا لفظ خو به هغه وخت عبث وای چي هيڅ مقصد يې نه لرلای، لېکن دلته خو ناظم د بيت د وزن او قافيې د رعايت په خاطر راوړی دی، لهذا عبث نه سو، فلا اعتراض.

ضروري يادونه: ګرانو طالبانو! په دې شرحه کي موږ ډېر دا کوښښ کړی دی چي د کتاب عبارت په پوره توګه حل سي، او نکتې مو صرف نظر ګرځولي دي، وجه يې دا ده چي د نکتې غرض له ورايه معلوميږي، نو موږ ضروري نه وګڼل چي هره نکته او د هغې غرض بيان کړو، خو بيا هم ځيني نکتې مو بيان کړې دي، هغه هم په دې خاطر چي تاسو ور سره بلد (اشنا) سی، مثلاً د (۲۹) صفحې په دويمه ليکله کي ناکت تر فَلِمُشَابَهَتِهَا لاندي ليکلي دي: أَيْ إِنْ، نو غرض د ناکت له دې څخه دا دی چي په مشابهتها کي د هاء ضمير و إِنْ ته راجع دی ، يعني په دې نکته کي د ناکت غرض د هاء د ضمير مرجع ښوول دي.

نکته: تر فَلِمُشَابَهَتِهَا لاندې ناکت دغه نکته هم ليکلې ده: أى فإنما تجزم لمشابهتها، غرض له دې څخه د شارح د عبارت وضاحت دی، شارح خو مختصراً ووېل: فَالْأَرْبَعَةُ الْبَاقِيَةُ فَلِمُشَابَهَتِهَا، نو د "إنْ سره د مشابهت له کبله" اوس طالبُ العلم په فکرکي وو چي د دې مطلب څه دی!؟ نو ناکت يې وضاحت وکړی، چي دا نور څلور د اَنْ سره د مشابهت له کبله د جزم عمل کوي، نو اوس د عبارت مطلب ښه واضح سو.

نکته: بيا ناکت ترعَدَدُهَا لوړ يوه نکته ليکلې ده: اى الحروف المذكورة، غرض د ناکت په دې نکته سره د هاء د ضمير مرجع معلومول دي، نو ناکت درته وښوول چي د عَدَدُهَا ضمير راجع دی و مذکوره حروفو ته.

د نکتې دغه مطلب په بل تعبير: اوس نو طالب جانه! ته داسي هم ويلای سې چي له دغې نکتې څخه دي سوال او جواب جوړ کړل سي، نو هغه به په دا ډول وي.

سوال: سوال کيږي چي کله ضمير راسي، نو د هغه لپاره مرجع ضروري وي چي دا ضمير ورته راجع سي، نو د عَدَدُهَا ضمير څه شي دی؟

جواب: ناکت جواب ورکوي چي د هاء د ضمير مرجع الحروف المذكورة دي.

طالبانه سوال: محترمه! تا خو ووېل چي د عددها ضمير راجع دی الحروف ته، نو د راجع او مرجع په مينځ کي مطابقت په افراد، تثنيه او جمع کي ضروري وي، مطلب دا که مرجع مفرد وو، نو د مفرد ضمير به ورته راجع وي، او که تثنيه وو، نو د تثنيې ضمير به ورته راجع وي، او که جمع وو، نو د جمع ضمير به ورته راجع وي، لېکن دلته د هاء ضمير مفرد دی، او الحروف جمع دی، نو دلته خو هيڅ مطابقت نسته؟

جواب: هو! مطابقت ضروري دی، خو دلته هم مطابقت سته، هغه په دا ډول چي مورد له الحروف څخه تعبير په المذكورة سره کوو، نو د هاء ضمير حرف ته په اعتبار د مذكورة د لفظ راجع دی، او مذكورة مفرد دی، او راجع يعني هَاء هم مفرد دی، فطابق النعل بالنعل.

﴿النوع السابع﴾

(اوومه نوع)

نظم: مَنْ مَتٰی مَهْمَا و اَنّٰی اَیُّ اِذْمَا حَیْثُمَا جَازِمِ فِعْلَنْد اَیْنَ نه اسم بُ مَا اَیْنَمَا

ترجمه: مَنْ، مَتٰی، مَهْمَا او اَنّٰی، اَیُّ اِذْمَا او حَیْثُمَا ... جزم ورکونکي دي فعل لره دغه نهه (۹) اسمونه سره د مَا او اَیْنَمَا.

تشریح:

مَنْ د څه لپاره دی؟: پوه سه! چې مَنْ صرف د ذوي العقولو (د عقل د خاوندانو) لپاره استعماليږي، لکه مَنْ يُكْرِمْنِيْ اُكْرِمْهُ، أي اِنْ يُكْرِمْنِيْ زَيْدٌ اُكْرِمْهُ.

مَا د څه لپاره دی؟: پوه سه! چې مَا د غير ذوي العقولو لپاره استعماليږي غالباً. لکه مَا تَشْتَرِ اَشْتَرِيْهِ، اَيْ اِنْ تَشْتَرِ الثَّوْبَ اَشْتَرِ الثَّوْبَ.

اَيُّ د څه لپاره دی؟: اَيُّ صرف د ذوي العقولو لپاره استعماليږي، او د ده سره اضافت لازم دی، لکه اَيُّهُمْ يَضْرِبْنِيْ اَضْرِبْهُ، اَيْ اِنْ يَضْرِبْنِيْ زَيْدٌ اَضْرِبْهُ.

مَتٰی د څه لپاره دی؟: مَتٰی د وخت لپاره استعماليږي، لکه مَتٰی تَذْهَبْ اَذْهَبْ، اَيْ اِنْ تَذْهَبِ الْيَوْمَ اَذْهَبِ الْيَوْمَ.

اَيْنَمَا د مکان لپاره دی: لکه اَيْنَمَا تَمْشِ اَمْشِ، اَيْ اِنْ تَمْشِ اِلَى السُّوْقِ اَمْشِ اِلَى السُّوْقِ.

اَنّٰی هم د مکان لپاره دی: لکه اَنّٰی تَكُنْ اَكُنْ، اَيْ اِنْ تَكُنْ فِي الْبَلْدَةِ اَكُنْ فِي الْبَلْدَةِ، وَاِنْ تَكُنْ فِي الْمَسْجِدِ اَكُنْ فِي الْمَسْجِدِ.

مَهْمَا د څه لپاره دی؟: مَهْمَا هم د مَتٰی په شان د وخت لپاره دی، لکه مَهْمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ، اَيْ اِنْ تَذْهَبِ الْيَوْمَ اَذْهَبِ الْيَوْمَ، وَاِنْ تَذْهَبْ غَدًا اَذْهَبْ غَدًا.

حَيْثُمَا د مکان لپاره دی: لکه حَيْثُمَا تَقْعُدْ اَقْعُدْ، اَيْ اِنْ تَقْعُدْ فِي الْقَرْيَةِ اَقْعُدْ فِي الْقَرْيَةِ، وَاِنْ تَقْعُدْ فِي السُّوْقِ اَقْعُدْ فِي السُّوْقِ.

إِذْمَا دَ څه لپاره دي؟ : إِذْمَا د غيرِ ذوي العقولو لپاره راځي، لكه إِذْمَا تَفْعَلْ اَفْعَلْ، اَي إِنْ تَفْعَلِ الْخِيَاطَةَ اَفْعَلُ الْخِيَاطَةَ، وإِنْ تَفْعَلِ الزِّرَاعَةَ اَفْعَلُ الزِّرَاعَةَ.

اِعْلَمْ أَنَّ هٰذِهِ الْأَسْمَاءَ...إِلخ: غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د دغو اسماؤ د عمل كولو يو شرط بيانول دي.

د اسماءِ جازمه وو د عمل كولو شرط : دغه اسماء په يوه شرط د جزم عمل كوي، هغه دا چې دوى به په معنىٰ د اِنْ شرطيه سره وي، لكه شارح رَحِمَهُ الله چې په دې عبارت سره اشاره ورته كړې ده: حَالَ كَوْنِهَا مُشْتَمِلَةً عَلٰى مَعْنٰى اِنْ، نو كله چې په معنىٰ د اِنْ سي، نو بيا به په دوارو فعلونو كي د جزم عمل كوي، لكه شارح رَحِمَهُ الله چي فرمايلي دي: وَمَتٰى كَانَتْ مُشْتَمِلَةً عَلٰى مَعْنٰى اِنْ فَحِيْنَئِذٍ تَجْزِمُ الْفِعْلَيْنِ بيا شارح رَحِمَهُ الله د اِنْ معنىٰ بيانوي، نو فرمايي چي معنىٰ د اِنْ "سببيت د اول دى لپاره د ثاني"، لكه مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ. (يعني څوک چي ته وهې هغه زه وهم)، نو دلته د دويم ضَرْب لپاره اول ضَرْب سبب دى، يعني زما وهل موقوف او مشروط دي ستا پر وهلو.

خلاصه د كلام دا سوه چي دغه اسماء هغه وخت عمل د جزم كولاى سي، كله چي دوى په دوو فعلونو كي د شرط او جزاء معنىٰ پيدا كړي، ځكه چي د مُشْتَمِلْ (شاملېدونكي) سره د مُشْتَمَلْ د حكم يو والى ضروري دى، يعني كله چي دغه اسماء مشتمِل سي معنىٰ د اِنْ لره، نو دوى مشتمِل سول، او اِنْ مشتمَل سو، او د مشتمِل او مشتمَل د حكم اتحاد (يو والى) ضروري دى، نو ځكه به بيا دوى عمل كوي.

دغه نهه (٩) اسمونه څه وخت عمل كوي : په دې مكله شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَإِنْ لَمْ تَكُنْ...إلخ، د عبارت خلاصه دا ده چي كله دغه اسماء معنى د اِنْ لره مشتمل نه وي. يعني چي كله په دوى كي معنىٰ د اِنْ شرطيه نه وي، نو عمل نه كوي. او بيا دوى په عمل نه كولو كي داسي دي لكه جامد اسماء. مثلاً لكه زَيْد، عَمْرو، خَالِد؛ دوى چي عمل كوي صرف د اِنْ شرطيه سره يې د مشابهت په زور كوي، په نورو وختونو كي بيا عمل نه سي كولاى. مثلاً په هغه صورت كي چي دوى استفهاميه واقع سوي وي نو عمل نه كوي. لكه: مَنْ اَبُوْكَ. يا موصوله واقع سوي وي، لكه مَنْ جَاءَنِيْ اَكْرِمْهُ. دا اسماء هم له دغه

مذکوره نهو (۹) اسماؤ څخه دي، خو څرنګه چي دلته دوی د شرط معنیٰ لره متضمن نه دي، نو ځکه عمل نه کوي، دا د محشي رَحِمَهُ الله نظر دی. [صفحه: ۲۹، حاشیه: ۴۴]

سوال: شارح رَحِمَهُ الله يو سوال رانقل کړی دی، فرمايي: فَإِنْ قِيْلَ كَيْفَمَا وَإِذَا...إلخ، خلاصه د سوال دا ده چي کیفما او إذا هم په مضارع کي جزم کوي، لکه كَيْفَمَا تَذْهَبْ اَذْهَبْ، وإِذَا تَقُمْ اَقُمْ، نو ناظم رَحِمَهُ الله ولي هغه ذکر نه کړل؟

جواب: قُلْنَا إِنَّ الْجَزْمَ...إلخ، شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي، خلاصه يې دا ده چي د عربو په کلام کي د دوی جزم شاذ دی، او په عامه توګه نه دي راغلی، او شاذوالی په كَيْفَمَا کي ځکه سته چي د کیفما کلمه د شرط او جزاء برابروالی غواړي، او د شرط او جزاء برابروالی متعذر دی، لکه كَيْفَمَا تَقْرَءْ اَقْرَءْ، او استواء د ترائتينو خو نه سي کېدلای، نو په دې وجه جزم د کیفما وجود نه لري، او که يې لري، هغه بيا شاذ دی، په عام ډول نه دي راغلی.

او د إذا شاذوالی په دې ډول دی چي إذا د يقيني کار لپاره استعماليږي په مستقبله زمانه کي، او کلمات د شرط بيا د ابهام لپاره وضع سوي دي، او د ابهام او يقين په مينځ کي تضاد دی، يو تر بله نه سره جمع کيږي، مثلاً موږ دغو نهو (۹) اسماؤ ته له دې کبله عمل ورکړی چي دوی د إِنْ سره مشابهت لري، نو إذا ته به موږ څرنګه عمل ورکړو چي دی د كلماتُ الشرط سره عموماً تضاد لري، نو له دې کبله عمل د إذا په مضارع کي نسته، او نه يې کولاسي، او که وي، يا يې وکړي، نو هغه شاذ دی، او شاذ لره هيڅ اعتبار نسته.

د دې سبق خلاصه: ګرانو طالبانو! استاذ عموماً پر خپل شاګرد شفقت لري، نو ستاسي استاذ شارح رَحِمَهُ الله هم خپل شفقت څرګندوي، هغه په دا ډول چي ستاسي دا تېر سبق يو وار بيا د خلاصې په ډول درته ذکر کوي، او فرمايي: وَاعْلَمْ...إلخ، يعني پوه سه! چي دغه نهه (۹) الفاظ کوم چي ذکر سول اسماء دي، افعال او حروف نه دي، او شمېر يې نهه (۹) دي، او عمل يې جزم دی خو موقوف دی پر اشتمال يعني که دوی معنیٰ د إِنْ شرطيه لره مشتمل ول، نو دوی عمل کولای سي، کنې عمل نه سي کولای، تفصيل يې مخکي تېر سو، او محل د جزم يې فعل مضارع ده.

د اسماءِ جوازم نور نومونه او وجه تسمیه: د دغو مذکور اسماؤ درې نومونه دي: ① اسماء جوازم، ځکه چې دوی په مضارع کې جزم کوي، ② اسماء الاستفهام، ځکه چې دوی د استفهام معنیٰ ورکوي، ③ کلمات الشرط والجزاء، ځکه چې دوی پر شرط او جزاء داخلیږي (په هغه وخت کې چې د اِنْ شرطیه معنیٰ ولري).

قوله بامَا اَیْنَمَا: په نظم کې د "با" لفظ راغلی وو، شارح رَحِمَهُ الله د هغه وضاحت کوي فرمایي چې دلته "با" په معنیٰ د "مَعَ" سره دی، نو معنیٰ د بیت دا سوه: "سره د مَا او اَیْنَمَا"، **وَقَدْ وَرَدَ بِهِ النَّظْمُ:** شارح رَحِمَهُ الله پر دې خبرې چې باء په فارسي کې په معنیٰ د مَعَ سره راځي، دا نظم په دلیل کې وړاندې کوي، بیت:

خورده همان به که بیاران خوری

خاک بر ان به که تنها خوری

ژباړه: خوراک هغه ښه دی چې د یارانو سره یې خورې ... او کوم چې یوازې خورې تر هغه خاورې (هم) ښې دي.

د استدلال طریقه: یې دا ده چې دلته د "بیاران" په لفظ کې هم باء په معنیٰ د مَعَ سره ده: "بیاران" یعني "مع یاران".

﴿النوع الثامن﴾
(اتمه نوع)

نظم: ① نوع هشتم ناصبِ اسم منکر چار اسم ... نصب بر تمیز باشد آن منکر هر کجا

② اولین لفظ عَشَرَ باشد مرکب با اَحَد ... همچنین تا تِسْعَ وَ تِسْعِیْنَ می شمر این حکم

ترجمه:

① اتمه نوعه اسم منکر ته څلور اسمونه نصب ورکوي ... او دا اسم منکر به منصوب بنا بر تمیز وي په هره ماده کې.

② اول [له دې څلورو اسمونو څخه] د عَشَرَ لفظ دی چې مرکب کړل سي د اَحَدَ سره [یعني عَشَرَ هغه وخت اسم منکر ته نصب ورکولای سي چې کله د اَحَدَ سره یو ځای سي، یوازې نصب نه سي ورکولای] ... همدغه ډول تر نه نیوي (۹۹) پورې وشماره دغه حکم [یعني تر (۹۹) پورې اسم منکر

ته عدد نصب ورکوي]۔

تشریح: اتمه نوع له دیارلسو انواعو څخه په بیان د هغو اسماؤ کي ده چي هغوی د نصب عمل کوي په اسم نکره کي، یعني اسمِ نکره ته نصب ورکوي، او نصب د دې اسمِ نکره به بناء بر تمیز وي، په دا ډول چي دا اسم نکره به منصوب او تمیز وي لپاره دبل شي، او دا نصب ورکونکي څلور اسمونه دي: ① اسمِ عدد، او دا عبارت دی له اَحَدَ عَشَرَ څخه نیولې بیا تر تِسْعَةَ وَ تِسْعُوْنَ پوري، او دې ته "عددِ اوسط" هم وایي، ② دویم اسم له دغو څلورو څخه "کَمْ" دی، ③ دریيم اسم له دغو څلورو څخه "کَاَیِّنْ" دی، ④ څلورم اسم "کَذَا" دی؛ د اول مثال لکه اَحَدَ عَشَرَ رَجُلاً، په دې مثال کي رَجُلًا اسم منکر (یعني نکره اسم) دی، او اَحَدَ عَشَرَ نصب ورکړی دی، بناء پر دې چي دا رَجُلًا تمیز دی لپاره د اَحَدَ عَشَرَ، د دویم مثال لکه کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، په دې مثال کي رَجُلًا اسم منکر دی، او کَمْ نصب ورکړی دی بناء پر دې چي رَجُلًا تمیز دی لپاره د کَمْ، د دریيم مثال لکه: کَاَیِّنْ رَجُلًا عِنْدَكَ، په دې مثال کې هم رجلًا اسم منکر دی او کَاَیِّنْ نصب ورکړی دی بناء پر تمیز (یعني دا رجلًا تمیز دی لپاره د کَاَیِّنْ)، د څلورم مثال لکه کَذَا رَجُلًا عِنْدَكَ، نو په دې مثال کي رجلًا اسم منکر دی، او کَذا نصب ورکړی دی بناء پر تمیز.

اسمِ منکر" ته لنډه کتنه: ګرانه طالب جانه! پوه سه چي اسم پر دوه قسمه دی: ① اسمِ معرفه، دا هغه اسم دی چي پر معیّن ذات دلالت کوي، لکه زید، عَمرو او داسي نور. ② اسمِ نکره، داهغه اسم دی چي پر غیرِ معیّن ذات دلالت کوي، او په شعر کي له اسمِ منکر څخه مراد هم دغه اسمِ نکره دی.

د تمیز تحقیق: تمیز مصدر دی، لغوي معنیٰ یې "بېلول دي په مینځ د دوو شیانو کي"، او تمیز ته مفسّر، ممیّز او مبیّن هم ویل کیږي.

او په اصطلاح کي تمیز هغه اسم ته ویل کیږي چي له ذات مذکوره یا مقدّره څخه رفع د هغه ابهام کوي کوم چي په اصلي وضع کي ثابت وي.

وَاَعْلَمْ اَنَّ هٰذَا النَّوْعَ...إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د دې نوعي وجه تسمیه ده په "اسماءِ عدد" سره، نو وجه تسمیه د دغي نوعي په "اسماءِ عدد" سره دا ده چي دا نوع مشتمله ده پر "اسماءِ عدد" باندي، نو په دې وجه "داسماءِ عدد نوع" ویل کیږي.

داسمِ عدد درې مرتبې: شارح رَحِمَهُ الله داسمِ عدد لپاره درې مرتبې ذکر کړي دي:

(۱) عدد اقل: د اسماء عدد اوله مرتبه دا ده چې دوی به مفردات وي، او د بل شي سره به مرکب نه وي، او دا له واحد څخه بیا تر عَشَرَۃ پورې دي، نو دغه لس (۱۰) اسماء عدد مفردات دي، د بل شي سره مرکب نه دي.

(۲) عدد اوسط: د اسماء عدد دویمه مرتبه دا ده چې دوی به فقط مرکّب وي. یعنې په دوی کې به ترکیب وي، خو بغیر له حرف څخه به وي، او دا اسماء عدد له اَحَدَ عَشَرَ څخه بیا تر تِسْعَةَ عَشَرَ پورې دي، او دوی مرکب دي بغیر له عطف څخه، لکه اَحَدَ عَشَرَ.

(۳) عدد اکبر: دریمه مرتبه د اسماء عدد دا ده چې دوی به مرکب وي په واسطه د حرفِ عطف سره، او دا له اَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ څخه بیا تر تِسْعٌ وَتِسْعُوْنَ پورې دي، نو په اَحَدٌ وَعِشْرُوْنَ کې اَحد د عِشْرُوْنَ سره د حرفِ عطف (واو) په واسطه مرکب دی.

د ممیز سره د مفرداتو د استعمال طریقه: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: فَالْمُفْرَدَاتُ لَا تَكُوْنُ إِلَّا مُضَافَةً...إلخ، مفردات به وخپل مُمَيِّز ته مضاف وي. خو دا مُمَيِّز به جمع وي، لکه ثَلَاثَةُ رِجَالٍ، اَرْبَعَةُ رِجَالٍ بیا تر عَشَرَةُ رِجَالٍ پورې، نو په ثلاثة رجالٍ کې اسم عدد ثَلَاثَة دی، معدود (یعنې ممیز) یې رِجال دی، او اسم عدد یعنې ثلاثة ورته مضاف دی، او معدود (یعنې ممیز) یې مضاف الیه دی.

د "مجموع" تعریف: ګرانو طالبانو! ستاسو په دې سبق کې لفظ د "مجموع" راغلی دی، چې مراد ورڅخه جمع ده، او جمع دې ته وایي چې پر دریو (۳) یا تر دریو پر زیادت عدد دلالت وکړي، او جمع بیا پر دوه قسمه ده: ① جمع لفظاً، دا هغه جمع ته ویل کیږي چې د لفظ څخه مفرد لري، لکه رِجَالٌ چې مفرد یې رَجُلٌ راځي، ② جمع معناً، دا هغه جمع ته ویل کیږي چې د لفظ څخه مفرد نه لري، لکه قَوْمٌ یا رَهْطٌ؛ نو کله چې تاسو د جمع په اقسامو پوه سواست، نو ناکت رَحِمَهُ الله وایي چې مراد له جمع څخه مطلقاً جمع ده، هغه که لفظاً وي او که معناً، یعنې که دغه اسماء عدد مفردات وو، او د مطلق جمع سره مرکب وو، نو دا اسماء عدد به ورته مضاف وي، د لفظي جمع مثال لکه ثَلَاثَةُ رِجَالٍ، د معنوي جمع مثال لکه ثَلَاثَةُ رَهْطٍ.

سوال: سوال واردیږي چې شارح رَحِمَهُ الله خو اسماء اعداد پر دریو مرتبو (اقسامو) تقسیم کړل، او د

مفرداتو د مثالو ابتداء يې له دريو (۳) څخه وکړل، واحد او تثنيه يې ذکر نه کړل، سره د دې چې واحد او تثنيه هم له مفرداتو څخه دي، نو د دې څه وجه ده؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي فرمايي: وَاِنَّمَا اِبْتَدَءَ...اِلخ، د جواب خلاصه دا ده چې شارح رَحِمَهُ الله واحد او تثنيه ځکه ذکر نه کړل چې هغه بغير له تميز څخه ذکر کيږي، داسې نه ويل کيږي چې اَحَدُ رَجُلٍ او اِثْنَانِ رَجُلَانِ، بلکې تميز ذکر کيږي او مُمَيِّزمتروک وي، له دريو څخه وروسته عدد او تميز ځکه سره ذکر کول کيږي چې دا عدد پر مقدار دلالت وکړي، او دا تميز پر جنس دلالت وکړي، لکه ثَلَاثَةُ رِجَالٍ، ثَلَاثَة دلالت پر مقدار کوي، او رِجَال دلالت پر جنس کوي، او په رجل او رجلان کې تميز پر مقدار هم دلالت کوي او پر جنس هم، نو ځکه د جنس (مُمَيِّز) جلا ذکر کولو ته ضرورت نه وي.

وَاِنَّمَا اخْتَارُوا الْاِضَافَةَ...اِلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چې تاسو خو مفرد اعداد خپل تميز ته مضاف کړل، چې د هغه په وجه دوی خپل مضاف اليه (تميز) ته جر ورکوي، او تميز له منصوباتو څخه دی، نو يو شی له خپل اصل څخه اړول دا د قانون مخالفت دی، او د قانون مخالفت ناجائز کار دی، نو بايد چې مفرد اعداد مو تميز ته نه وای مضاف کړي، نو تميز به مجرور نه وای بلکې منصوب به وای، او اصل هم د تميز لپاره نصب دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَاِنَّمَا اخْتَارُوْا...اِلخ، خلاصه د جواب دا ده چې مفرد اعداد کثيرُ الاستعماله دي، او کوم شی چې کثير الاستعماله وي هغه تقاضا د خفت کوي، او خفت په دې طريقه سره راتلی چې عدد مضاف کړل سي و تميز ته، او تميز يې مضاف اليه او مجرور کړل سي، نو دا يو ضرورت وو چې موږ عدول له اصل څخه (چې نصب دی) و خلافُ الاصل ته (چې جر دی) وکړی، نو د ضرورت له کبله عدول خلافُ الاصل ته غيرِ ناجائز نه بلکې جائز کار دی، لکه څرنګه چې دا يوه مشهوره مقوله هم ده: اَلضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ. (ضرورتونه ممنوع کارونه روا کوي).

ضروري يادونه: محترمو طالبانو! د نبوي باغچې ګلانو! دغه القاب ستاسو سره د يو ځانګړې او زيات محبت په خاطر استعمالوم چې هغه په ژبه نسم بيانولای، د يوې مهمې قاعدې وطرف ته ستاسو توجه راړوم، هغه دا چې کله په عبارت کې د "اِنَّمَا" کلمه ذکر سي، نو تاسو بايد پوه سئ چې مابعد عبارت

له يو سوالِ مقدر ځخه جواب دی، او د تمرين په توګه تاسو دا کتاب "شمه" مطالعه کړی، نو پوه به سئ چي دا خبره حقيقت لري. "صديقي عفى عنه".

وَإِنَّمَا اخْتَارُوا التَّمِيْزَ جَمْعًا...إلخ دغه عبارت جواب دی له يو سوالِ مقدر ځخه.

سوال: دا دی چي څه وجه ده چي نحاتو لپاره د ثلاثة ځخه تر عشرة پوري تميز جمع انتخاب کړی، مفرد به يې انتخابولای، ځکه چي په مفرد کي عموماً حروف تر جمع کم وي، او کوم شی چي مختصر وي او پر مطلب دلالت هم کوي هغه ډېر ښه وي تر هغه چي اوږد او زيات وي، لکه په حديث شريف کي چي هم راځي: خَيْرُ الْكَلَامِ مَا قَلَّ وَ دَلَّ وَلَمْ يُمِلَّ، (ښه کلام هغه دی چي مختصر وي او پر مطلب دلالت وکړي او (مخاطب) ستړی نه کړي، أو كما قال عليه السلام) ؟

جواب: تاسو ښه خبره وکړه!، خو د دغو اعدادو لپاره چي نحاتو جمع تميز انتخاب کړی دا يو خاص هدف لري، هغه دا چي د ثلاثة او اربعة بيا تر عشرة پوري مميَز معناً (له وجهي د دلالت د دوی پر افرادو) جمع وو، نو نحاتو وغوښتل چي د تميز (عدد) موافقت راسي د خپل مميَز (معدود) سره، نو ځکه يې تميز جمع راوړی، والموافقة خير من المخالفة.

وَإِنَّمَا اخْتَارُوا التَّأْنِيْثَ لِلْمُذَكَّرِ...إلخ غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره جواب دی له يو سوالِ مقدر ځخه.

سوال: دا دی چي تاسو ولي دلته اختلاف غوره کړی دی، په دې توګه چي معدود مذکر وي، تاسو عدد مؤنث راوړی، لکه په ثلاثة رجال کي رجال معدود او مذکر دی، تاسو د هغه لپاره عدد ثلاثة مؤنث راوړی دی، او موافقت په مينځ د عدد او معدود کي اولیٰ دی تر مخالفت.

همدارنګه تاسو د مؤنث معدود لپاره مذکر عدد راوړی دی، لکه ثلاث نِسْوَةٍ، معدود مؤنث دی، تاسو د هغه لپاره عدد ثلاث مذکر راوړی دی، نو اصل خو د تميز او مميز په مينځ کي موافقت دی په تذکير او تانيث کي، نه مخالفت؟

جواب: د جواب خلاصه دا ده چي کله موږ د مفرداتو لپاره تميز جمع فرض کړو (تر څو د عدد او معدود موافقت راسي) نو جمع په تأيل د جماعة سره اخلو، نو بيا دغه جمع که څه هم لفظاً مذکره وي،

خو معناً بيا مؤنثه وي، نو ځکه عدد مؤنث راوړو، تر څو د تمیز او ممیز په مینځ کي موافقت راسي، که څه هم لفظاً مخالفت سته، خو هغه ته اعتبار نسته، ځکه چي مقصود خو معنىٰ وي.

رجال معدود لفظاً مذکر دی، خو چي په تأويل د جماعة سره واخیستل سو، نو عدد او معدود په تأنيث کي سره موافق سول، فلا اعتراض.

سوال: پر شارح رَحِمَهُ الله يو سوال واردیږي چي ته وایې چي کله معدود یا ممیَز مذکر وي، نو موږ عدد یا تمیز مؤنث راوړو تر څو د عدد او معدود په مینځ کي موافقت راسي په تأنيث کي، دا خو به در سره ومنو چي دا مو ښه کار کړی دی، خو باید د معدود مؤنث او د هغه د عدد په مینځ کي مو هم موافقت کړي وای، يعني کله چي معدود مؤنث وي نو عدد به مو د هغه لپاره مؤنث راوړی، مثلا تاسو وایاست ثلاث نِسْوة، باید ثلاثة نِسوة مو ویلای، او فوق الذکر جواب مو کمزوری دی، ځکه چي د مخکني سوال د يوه جزء لپاره خو جواب جوړېدای سي، لېکن د دغه جزء لپاره بيا جواب نه سي جوړېدای.

جواب: د دې سوال لپاره داسي جواب ورکولای کیږي چي کله د مذکر معدود لپاره مؤنث عدد راوړل سو، نو اوس که د مؤنث معدود لپاره هم عدد مؤنث راوړل سي، نو لازم به سي التباس په مینځ د مذکر او مؤنث کي، نو د التباس د ختمولو په خاطر موږ د مؤنث معدود لپاره عدد مذکر راوړو.

سوال: تاسو خو وویل چي موږ د مذکر معدود لپاره عدد مؤنث راوړو، نو دغه قاعده مو په دې آیت سره ماته ده: مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا [سورة الانعام: ١٦٠]، په دې آیت کي معدود (لفظ د أَمْثَال) مذکر دی، نو باید عدد "عَشَرَةٌ" راوړل سوي وای؟

جواب: دا دی چي أَمْثَال که څه هم لفظاً مذکر دی، خو د معنىٰ په لحاظ سره مؤنث دی، ځکه چي أَمْثَال عبارت دی له حَسَنَات څخه، او حَسَنَات مؤنث دي، او چي کله معدود مؤنث وي، نو عدد مذکر راوړل کیږي، فلاإشكال.

قاعده: د مرکب عدد تمیز به منصوب وي، او مراد له مرکبا تو څخه هغه مرکبات دي چي د حرفِ عطف له واسطې څخه بغیر ترکیب پکښې راغلی وي، او دا له أَحَدَ عَشَرَ څخه بيا تر تِسْعَةَ عَشَرَ پوري دي، نو د دوی تمیز به منصوب او مفرد وي، لکه أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا، إِثْنَىٰ عَشَرَ رَجُلًا.

په مرکب عدد کې د تميز د منصوبوالي وجه: شارح رَحِمَهُ الله د مرکب عدد د تميز د نصب وجه بيانوي او فرمايي: وَاِنَّمَا اِخْتَارُوا التَّمِيْزَ...اِلخ، خلاصه يې دا ده چې نحاتو د مرکب عدد لپاره تميز ځکه منصوب راوړی، او مضاف اليه (مجرور) يې نه کړی، تر څو درې کلمې کالکلمة الواحدة نه سي، ځکه که اَحَدَ عَشَرَ مضاف سي و تميز ته، نو داسي به ويل کيږي: اَحَدَ عَشَرَ رَجُلٍ، نو درې اسمونه به يو اسم وګرځي، ځکه چې مضاف او مضاف اليه د شدّتِ اتصال له کبله داسي وي لکه يوه کلمه، ځکه چې اَحَدَ عَشَرَ دوې کلمې دي، يوه کلمه تميز دی، او ټولي درې کلمې دي، نو دا ټولي يوه کلمه ګرځول صحيح نه دي.

سوال: اِنَّمَا جَعَلُوْا...اِلخ، دغه عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه، سوال دا دی چې څه وجه ده چې تميز مفرد راوړل کيږي، نه تثنيه او جمع؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله په اِنَّمَا سره جواب ورکوي. خلاصه د جواب دا ده چې تميز منصوب وي، او نصب خفيف دی په نسبت و رفع او جر ته، او مفرد بيا خفيف دی په نسبت و تثنيې او جمع ته، نو د مفرد مناسبت د نصب سره په خفت کي زيات وو تر تثنيې او جمع، نو له همدې کبله تميز مفرد راوړل سو، تثنيه او جمع نسو.

وَاِنَّمَا اخْتَارُوْا...اِلخ دا عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: څه وجه ده چې په مرکباتو کي هم عدد د معدود په خلاف (خلافُ القياس) راوړل سوی دی مثلاً رَجُلًا معدود او مذکر دی، او عدد ثَلَاثَةٌ وَعِشْرُوْنَ دی، يعني ثَلَاثَةَ مؤنث راوړل سوی دی، بايد چې ثَلَاثٌ وَعِشْرُوْنَ راوړل سوی وای، نو د عدد او معدود په مينځ کي به موافقت راغلی وای؟

جواب: دا دی چې په مرکباتو کي موږ ځکه عدد د معدود خلاف راوړی، چې موافقت د فرع راسي د خپل اصل سره، اصل خو مفردات دي، ځکه چې مرکبات جوړ له مفرداتو څخه دي، که لس نه وي نو يوولس نه سي جوړېدلای، نو کوم قانون چې په مفرداتو کي جاري وو هغه مو په مرکباتو کي هم جاري کړی؛ په مفرداتو کي قانون دا وو چې که معدود مذکر وي، نو عدد به مؤنث راوړل کيږي، لکه ثلاثة رجالٍ واربعة رجالٍ وغير ذٰلك، او فرع تل د خپل اصل موافق روارل کيږي تر څو د موافقت لپاره يو مانع را نه سي، نو ځکه موږ داسي وکړه، فلا إشكال.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله يو سوال را نقل کوي او فرمايي: فَإِنْ قِيْلَ فَعَلٰى هٰذا ...إلخ، خلاصه يې دا ده چې که يو څوک سوال وکړي چې تاسو واياست چې مونږ په مرکباتو کي عدد د معدود خلافُ القياس راوړو تر څو د فرع او اصل په مينځ کي موافقت راسي، نو مناسب خو دا وه چې په مرکب عدد مثلاً ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلاً کي اول دواړه جزؤنه ثَلَاثَةَ عَشَرَةَ په تأنيث سره ويل سوي وای لکه په مفرداتو کي چې ثَلَاثَة په تأنيث سره راغلی دی، نو په دې صورت کي به د اصل سره د فرع موافقت راغلی وای.

جواب: قُلْنَا قَيْدُ مَا لَمْ يَمْنَعْ مَانِعٌ ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چې مونږ مخکي هم دا خبره کړې وه چې فرع به د اصل سره موافقه وي، خو په هغه صورت کي چې څه مانع نه وي، لېکن دلته مانع سته. او هغه دا دی چې ثَلَاثَةَ هم مؤنث دی، نو اوس که عَشَرَ هم په تاءِ تأنيث سره وويل سي، نو اجتماع د علامتينو د تأنيث به راسي په داسي دوو الفاظو کي چې هغه لکه يوه کلمه (کلمة واحدة) داسي دي، او په کلام د عربو کي چې څرنګه په يوه کلمه کي اجتماع د علامتينو د تأنيث بدکار دی، همدارنګه په هغو دوو کلمو کي چې هغه د شدّتِ اتصال له کبله لکه يوه کلمه داسي وي هم بد کار دی، فلا اعتراض.

وَلَمْ يَجْعَلْ عَلَى الْعَكْسِ ...إلخ دا عبارت له يو سوالِ مقدر څخه جواب دی.

سوال: دا دی چې ولي مو عکس نه وکړی، په دا ډول چې اول جزء (ثلاثة) به مو مذکر راوړلای، او دويم جزء (عشرة) به مو مؤنث راوړلای، په دې صورت کي هم له اصل څخه د فرع مخالفت نه راتلی او نه اجتماع د علامتينو د تأنيث راتله، نو څه وجه چې تاسو تأنيث د اول جزء سره خاص کړی؟

جواب: تأنيث د اول جزء اولیٰ دی په نسبت د دويم جزء ته، هغه ځکه چې مخاطب د کلام له ابتداء څخه لا په تأنيث پوه سي، نو د کلام په نوعيت سره ابتداءً د مخاطب خبرول غوره دي تر دې چې وروسته هغه خبر کړل سي، له همدې کبله عکس نه وکړل سو.

د تأنيث علامې: د تأنيث علامې درې (۳) دي: ① تاء لکه په طَلْحَةٌ کي، ② الفِ مقصوره، لکه په حُبْلٰى کي، ③ الف ممدوده لکه په حَمْرَاء کي.

سوال: تاسو خو مخکي وويل چې په کلام د عربو کي اجتماع د علامتينو د تأنيث په داسي دوو کلمو کي چې هغه لکه يو کلمه داسي وي بد ګڼل کيږي، زه به يې در وښيم چې حکماً به يوه کلمه وي، او

اجتماع د علامتینو د تأنیث به پکښې راغلې وي، لکه اِحْدىٰ عَشَرَةَ اِمْرَأَةً، په لفظ د اِحْدىٰ کي علامه د تأنیث الف مقصوره دی، او په دویم جزء عَشَرَةَ کي تاء د تأنیث ده، او داسي ځای به هم در وښیم چي په حقیقتاً یوه کلمه کي به اجتماع د علامتینو د تأنیث راغلې وي، لکه په حُبْلَیَاتٌ او ضُرْبَیَاتٌ کي، چي مفرد یې حُبْلیٰ او ضُرْبیٰ راځي، په دې کي یوه علامه د تأنیث الف مقصوره دی، او بله علامه د تأنیث تاء ده، نو معلومه سوه چي اجتماع د دوو علامو د تأنیث په یوه کلمه کي یا په کالکلمة الواحدة کي څه بد کار نه دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: قُلْنَا اَنَّ الْمُرَادَ...اِلخ، خلاصه یې دا ده چي د تأنیث له دوو علامو څخه زموږ مراد د تأنیث داسي دوې علامې دي چي هغه له یوه جنس څخه وي، لکه په یوه کلمه یا په کالکلمة الواحدة کي چي دوې تاء ګاني یا دوه الفانِ مقصوره یا دوه الفانِ ممدوده جمع سي، نو دا بد کار دی، امّا که د علامو جنس سره مختلف وي، نو بیا هیڅ ممانعت نسته، او په مذکوره مثالونو کي خو اجتماع د داسي دوو علامو راغلې ده چي د هغو جنس سره مختلف دي، مثلاً هغه الفِ مقصوره او تاء دي، فلا اشکال.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله یو سوال را نقل کوي، وایي: فَاِنْ قِیْلَ فَعَلٰی هٰذا فِيْ ثِنْتَیْ عَشَرَةَ...اِلخ، خلاصه یې دا ده چي تا خو وویل چي په یوه کلمه یا په کالکلمة الواحدة کي اجتماع د دوو علامو د تأنیث له یوه جنس څخه ممنوع ده، او که علامې مختلف الجنس وي بیا ممنوع نه ده، خو زه به داسي مثال در وښیم چي اجتماع د دوو علامو د تأنیث به وي، او علامې به له یوه جنس څخه هم وي، او په کالکلمة الواحدة کي به وي، لکه په ثِنْتَا عَشَرَةَ اِمْرَأَةً کي چي یوه تاء د ثِنْتَا ده، او بله تاء د عَشَرَةَ ده، او دا په داسي دوو کلمو کي ده چي هغه کالکلمة الواحدة دي، نو ستا مخکنی جواب صحیح نه دی چي اجتماع د علامتینو د تأنیث چي علامې له یوه جنس څخه وي ممنوع ده؟

جواب: په مذکوره مثال ثِنْتَا عَشَرَةَ اِمْرَأَةً کي دوې علامې له یوه جنس څخه نه دي، بلکي له دوو جنسونو څخه دي، ځکه چي په ثِنْتَانِ کي تاء د تأنیث نه ده، بلکي بدل راغلې ده له داسي یاء څخه چي هغه لپاره د تأنیث ده، ځکه چي ثِنْتَانِ په اصل کي ثِنْیَانِ وو، یاء په تاء بدله سوه، نون د اضافت له کبله

حذف سو، ثِنْتَا سو، لهذا دلته اجتماع د علامتينو د تأنيث له يوه جنس څخه نه ده، بلکي له دوو جنسونو څخه ده.

سوال: فَإِنْ قِيْلَ لِمَ خَالَفَ...إلخ، د سوال خلاصه دا ده چه څه وجه ده چي په هغه عدد کي چي معدود يې مؤنث وي د ترکيب حال مخالف دی د افراد له حال څخه، په دا ډول چي د افراد په حال کي به د مؤنث معدود لپاره عدد مذکر راوړل کېدی، مثال لکه ثَلَاثُ نِسْوَةٍ، نو نِسْوَة مؤنث معدود دی، او عدد يعني ثَلَاث مذکر راوړل سوی دی، او د ترکيب په حال کي چي معدود مؤنث وي، نو تاسو عدد مذکر نه راوړی، بلکي عدد هم مؤنث راوړی، لکه ثَلَاثَ عَشَرَةَ اِمْرَأَةً، دلته معدود مؤنث دی، او عدد يعني اول جزء(ثَلَاثَ) که څه هم مذکر راوړل سوی دی، خو دويم جزء (عَشَرَةَ) مؤنث راوړل سوی دی، نو د ترکيب حال د افراد له حال څخه په څه وجه مخالف دی.

جواب: قُلْنَا تَذْكِيْرُ الْعَدَدِ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده، چي د مؤنث معدود لپاره تذکير د عدد ځکه انتخاب سوی دی چي فرق حاصل سي د مذکر او مؤنث په مينځ کي، په دا ډول چي معدود مذکر وي، نو عدد به مؤنث راځي، او چي معدود مؤنث وي، نو عدد به مذکر راځي، او په مرکب عدد کي خو د مذکر او مؤنث په مينځ کي په اول جزء سره فرق سته، په دا ډول چي معدود مذکر وي، نو په مرکب عدد کي به اول جزء مؤنث کېږي، لکه ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا، ثَلَاثَةَ عَشَرَ مرکب دی او معدود مذکر دی چي رَجُلًا دی، او د عدد اول جزء مؤنث کړل سوی دي، او کله چي معدود مؤنث وي، نو په مرکب عدد کي به اول جزء مذکر راځي، لکه ثَلَاثَ عَشَرَةَ اِمْرَأَةً، دلته معدود اِمْرَأَةً مؤنث دی، نو عدد مذکر راغلی دی، او اول جزء پکښې مذکر دی چي ثَلَاثَ دی، نو کله چي په مرکب عدد کي د مذکر او مؤنث په مينځ کي په اول جزء سره فرق راغلی، نو له دې څخه هيڅ مانع نه وو چي په مرکب عدد کي د مؤنث معدود لپاره دويم جزء مؤنث راوړل سي.

د دغه اسماؤ عمل په خپل معمول کي په سماع سره ثابت دی، او اسماءِ عدد د ذات په اعتبار سره نه افعال دي او نه حروف، عمل يې نصب دی، مدخول يې اسم نکره دی، او عدد يې څلور دی.

د "اسماءِ عدد" نور نومونه او وجه تسميه: دغو اسماؤ ته اسماءِ عدد ځکه ويل کيږي، چي دوی پر عدد دلالت کوي، که څه هم ټوله يې نه کوي، خو دا تسميه د کل ده په اسم د جزء سره، او اسماءِ نواصب هم ورته ويل کيږي ځکه چي دوی خپل مدخول ته نصب ورکوي، او اسماءُ الْمُبَيِّز هم ورته ويل کيږي، ځکه چي دوی تميز غواړي، او ناکت هم دغه وجه تسميه ذکر کړې ده.

نظم: باز ثاني کَمْ چو استفهام باشد ني خبر ... ثالث ایشان کَأَیِّنْ رابع ایشان کَذا

ترجمه: بیا دویم (له اسماءِ اربعه وو څخه) لفظ د کَمْ دی خو کله چې استفهامیه وي، خبریه نه وي ... دریم له اسماء اربعه وو څخه لفظ د کَأَیِّنْ دی څلورم له اسماء اربعه وو څخه لفظ د کَذا دی.

تشریح: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: کَمْ وَ هُوَ عَلٰی قِسْمَیْنِ...إلخ، غرض یې په دې عبارت سره د "کَمْ" تفصیل دی.

د "کَمْ" اقسام: "کَمْ" پر دوه قسمه دی: ① "کَمْ" استفهامیه، ② "کَمْ" خبریه.

(۱) "کَمْ" استفهامیه: کله چې "کَمْ" متضمن وي د استفهام معنیٰ لره، نو هغه ته کَمْ استفهامیه ویل کیږي، لکه کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، (یعني څو کسان دي ستا سره)، نو دلته "کَمْ" د استفهام معنیٰ د ځان سره په غېږ کې اخیستې ده، نو په دې وجه کَمْ استفهامیه ورته ویل کیږي.

(۲) "کَمْ" خبریه: که لفظ د "کَمْ" متضمن نه وو د استفهام معنیٰ لره، نو دا "کَمْ" بیا خبریه دی، لکه کَمْ رَجُلٍ عِنْدِیْ (څومره ډېر کسان دي زما سره).

تنبیه: "کَمْ" که استفهامیه وي او که خبریه تقاضا د کلام د صدارت کوي، "کَمْ" استفهامیه ځکه صدارت د کلام غواړي چې د کلام له ابتداء څخه لا معلومه سي چې دا کلام د کوم نوعیت دی، او کم خبریه ځکه صدارت د کلام غواړي چې هغه پر کثرت دلالت کوي، تر څو د کلام له شروع څخه لا معلومه سي چې دا کلام د کوم نوعیت دی.

د "کَمْ" عمل: کَمْ استفهامیه اسمِ منکر ته نصب ورکوي، ځکه چې هغه د ده لپاره تمیز واقع کیږي، او تمیز منصوب وي، لکه کَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ، او کَمْ خبریه بیا خپل مدخول ته جر ورکوي، او هغه ته خپل تمیز مضاف الیه واقع کیږي، او مجرور وي، لکه کَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُهُ، او د کَمْ خبریه تمیز جمع هم راتلای سي، لکه کَمْ رِجَالٍ لَقِیْتُهُمْ.

د "کَمْ" استفهامیه او "کَمْ" خبریه فرق: د کَمْ استفهامیه او خبریه په مینځ کې خو معنًا فرق بیان سو، او د لفظ په اعتبار سره هم دوی توپیر سره لري، او د دوی لفظي توپیر په معمول سره معلومیږي،

هغه په دا ډول چې تميز د کَمْ استفهاميه به لازماً منصوب وي، او د کَمْ خبريه تميز به لازماً مجرور وي، که مفرد وي او که جمع، نو که تميز يې منصوب وو، نو پوه سه چې دا "کَمْ" استفهاميه دی، او که مجرور وو نو پوه سه چې خبريه دی.

فايده: خو بايد پوه سو چې پورتنی توپير موږ هغه وخت کولای سو چې د "کَمْ" پر تميز "مِنْ" جاره نه وي، که "مِنْ" جاره وو، نو بيا دا توپير د لفظ په اعتبار سره نه سي کېدلای، بلکې موږ به د مقام له تقاضا څخه دا توپير معلوموو، که مقام دا تقاضا لرل چې دا "کَمْ" استفهاميه دی، نو استفهاميه دی، او که يې دا تقاضا لرل چې خبريه دی، نو بيا خبريه دی.

فَالْاِسْتِفْهَامِيَّةُ نَاصِبَةٌ لِلتَّمِيْزِ حَمْلًا عَلَى الْمُرَكَّبَاتِ شارح رَحِمَهُ الله وايي چې تميز د کَمْ استفهاميه ځکه، منصوب کړل سو، چې دغه د کَمْ استفهاميه تميز محمول دی د مرکباتو پر تميز، او د مرکباتو تميز منصوب وي، نو له همدې کبله دا هم منصوب کړل سو.

د عدد درې مرتبې دي: أقل، أوسط او أکثر، نو د أوسط عدد تميز مفرد منصوب راځي او هغه له (۱۱) څخه بيا تر (۹۹) پوري دی، أقل او أکثر طرفين دي، پر هغو يې ځکه حمل نه کړی تر څو ترجيح بلا مرجح را نه سي، او د أوسط عدد په صورت کي هيڅ ترجيح بلا مرجح نه راځي، نو ځکه تميز د کَمْ استفهاميه مفرد منصوب سو، مجرور او جمع نه سو.

بِخِلَافِ الْخَبَرِيَّةِ فَإِنَّهَا لَمْ تُحْمَلْ...إلخ دغه عبارت دفع دی له سوال مقدر څخه.

سوال: دا دی چې تميز د کَمْ خبريه دي هم د مرکباتو پر تميز حمل کړل سي او منصوب دي کړل سي، حال دا چې د کَمْ خبريه تميز کله نا کله منصوب وي، هغه په داسي صورت کي چې د "کَمْ" او د هغه د تميز په مينځ کي فاصل وي، لکه کَمْ عِنْدِيْ رَجُلًا، چې فاصل د دوی په مينځ کي "عِنْدِيْ" راغلی دی، او تميز يې منصوب دی، او چې فاصل نه وي بيا مفرد مجرور يا جمع مجرور وي، لکه کَمْ رَجُلٍ عِنْدِيْ، کَمْ رِجَالٍ عِنْدِيْ، نو څه وجه ده چې تميز د کَمْ خبريه پر تميز د مرکباتو حمل نه کړل سو؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي، د جواب خلاصه دا ده چې کَمْ خبريه پر عدد اوسط نه سي حمل کېدلای، ځکه چې کَمْ خبريه د عدد اکثر لپاره راځي، لهذا هغه د عدد اوسط سره هيڅ مناسبت نه لري، له

همدې کبله پر مرکباتو حمل نه کړل سو، بیا که د کَمْ خبریه تمیز مفرد وو او که جمع، د هغه لپاره اضافت وټاکل سو، ځکه چي کَمْ خبریه کثیر الاستعمال دی، او کثرتِ استعمال د خفت تقاضا کوي، او خفت په اضافت کي دی، ځکه چي په اضافت سره تنوین ساقطیږي، او دا خبره چي د کَمْ خبریه تمیز به مضاف الیه مجرور وي، دا په هغه صورت کي ده چي د کَمْ خبریه او د هغه د تمیز په مینځ کي فاصل نه وي، که فاصل وو، نو په هغه صورت کي به منصوب وي، د دریو سره حالاتو تفصیل یې په سوال کي وګورئ!.

﴿النوع التاسع﴾
(نهمه نوع)

① نه بود اسماءِ افعال وکزان شش ناصب اند ... دُوْنَكَ بَلْهُ عَلَيْكَ حَيَّهَلْ[1] باشد و هَا
② پس رُوَيْدَ باز رافعِ اسم را هَيْهَاتَ دان ... باز شَتَّانَ است وسَرْعَانَ یاد گیر این بیتها

ترجمه:

① اسماءِ افعال نهه (۹) دي او له دوی څخه شپږ (۶) ناصبه دي ... [چي هغه دا دي:] دُوْنَكَ، بَلْهَ، عَلَيْكَ حَيَّهَلْ او هَاء.

② بیا رُوَيْدَ [او] بیا هَيْهَاتَ اسم ته رفع ورکونکي وګڼه ... بیا شَتَّانَ او سَرْعَانَ دي په یاد کړه دغه شعرونه.

تشریح: اسماءِ افعال نهه (۹) دي، او په خپل کور کي پر دوه قسمه دي: اول قسم هغه اسماء افعال دي چي خپل مدخول ته نصب ورکوي، او دویم قسم هغه دي چي رفع ورکوي، نو هغه اسماءِ افعال چي خپل مدخول ته نصب ورکوي، شپږ (۶) دي: ① دُوْنَكَ، ② بَلْهَ، ③ عَلَيْكَ، ④ حَيَّهَلْ، ⑤ هَاء، ⑥ رُوَيْدَ.

او هغه اسماءِ افعال چي خپل مدخول ته رفع ورکوي، دري (۳) دي: ① هَيْهَاتَ، ② شَتَّانَ، ③ سَرْعَانَ.

[1] دا لفظ د "ل" په فتحه سره هم راغلی دی یعني: حَيَّهَلَ، معنی یې ده: ژر شه! هله!.

د اسماءِ افعالو وجه تسمیه: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي وَإِنَّمَا سُمِّيَتْ...إلخ، چې دغو نهو (۹) اسماؤ ته اسماءِ افعال ځکه ویل کیږي چې دوی اسماء دي، خو په دوی کې د افعالو معنیٰ سته، ځکه چې دغه ټوله اسمونه یا په معنیٰ د امر سره دي یا په معنیٰ د ماضي سره.

اول شپږ په معنیٰ د امر سره دي، او آخري دري په معنیٰ د ماضي سره دي، او امر او ماضي دواړه فعلونه دي، نو کله چې په دوی کې د افعالو معنیٰ سته، نو ځکه اسماءِ افعال ورته وویل سول.

اسماءِ افعال غیرِ معدود دي: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: فَكُلُّ اِسْمٍ اشْتَمَلَ...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره دا بیانول دي چې اسماءِ افعال غیرِ معدود (بې شمېره یعني ډېر) دي، ځکه هر هغه اسم چې په هغه کې د فعل معنیٰ وي، هغه اسمِ فعل دی؛ او ناظم رَحِمَهُ الله چې د هغو شمېر نهه (۹) ښوولی دی، دا یې د شهرت پر اساس ویلي دي، کنې اسماءِ افعال خو غیرِ معدود دي، ځکه چې هر د فعل معنیٰ لرونکی اسم، اسمِ فعل دی، لکه نَزَالِ او تَرَاكِ چې اسماءِ افعال دي، په معنیٰ سره د أَنْزِلْ او أُتْرُكْ.

همدارنګه حروفُ النداء ټوله اسماءِ افعال دي، ځکه چې په دوی کې هم د فعل معنیٰ ده په نېز د ابو علي، او د حروفُ النداء په ډول نور حروف هم اسماءِ افعال دي، لکه صَهْ چې معنیٰ یې ده: أُسْكُتْ، او لکه مَهْ چې معنیٰ یې ده: أُتْرُكْ.

د اسماءِ افعال قسمونه: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چې د ناظم رَحِمَهُ الله دا قول: كزان شش ناصبند اِشَارَةٌ إِلَى أَنَّهَا عَلَى قِسْمَيْنِ...إلخ، د دې عبارت خلاصه دا ده چې اسماءِ افعال بیا په خپل کور کې پر دوه قسمه دي:

اول قسم: هغه اسماءِ افعال دي چې خپل مدخول ته نصب ورکوي، دا هغه اسماءِ افعال دي چې په معنیٰ د "امر" سره وي، او دوی ځکه نصب ورکوي چې دوی د متعدي فعل په معنیٰ سره دي، لهذا د دوی نصب بناء بر مفعولیت دی، ځکه چې مدخول د دوی لپاره مفعول وي، لکه په رُوَيْدَ زَيْدًا کې زَيْدًا ځکه منصوب دی چې رُوَيْدَ په معنیٰ د أَمْهِلْ زَيْدًا سره دی، نو أَمْهِلْ به فعل سي، أَنْتَ ضمیر پکښې مستتر دی، هغه به یې فاعل سي او زَيْدًا به یې مفعول سي.

دویم قسم: هغه اسماءِ افعال دي چې خپل مدخول ته رفع ورکوي، او دوی ځکه خپل مدخول ته رفع ورکوي چې په معنیٰ د فعلِ لازمي سره راځي، او رفع د دوی بناء بر فاعلیت ده، لکه هَيْهَاتَ زَيْدٌ، په معنیٰ

د بَعْدَ زَيْدٌ سره دی، نو بَعْدَ فعل سو، زَيْدٌ يې فاعل سو، نو مدخول د دوی بناء بر فاعليت مرفوع دی.

اسماءِ افعال د زمانې سره تعلق لري: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَاعْلَمْ اَنَّهَا.. إلخ چې اسماءِ افعال د زمانې سره تعلق لري، او په دوی کي هغه اسماءِ افعال چې ناصبه دي يعني په معنىٰ د امر سره دي، هغه د مستقبل زمانې سره تعلق لري، او هغه اسماء افعال چې رافعه دي يعني چې په معنىٰ د فعل ماضي سره دي، هغه د ماضي زمانې سره تعلق لري.

لٰكِنَّ هٰذَا الْاِقْتِرَانَ... إلخ دغه عبارت جواب دی له يو سوال څخه.

سوال: ته وايې چې دغه اسماءِ افعال به په دريو زمانو کي د يوې زمانې سره مقترن وي، او تعريف د اسم دا دی چې هغه به پر خپله معنىٰ دلالت کوي، او په دريو زمانو کي به د يوې زمانې سره مقترن نه وي، نو تعريف د اسم پر دغو اسماؤ نه صادقيږي؟

جواب: تعريف د اسم به هغه وخت پر دغو اسماءِ افعال نه صادقېدلای که دوی په دريو زمانو کي د يوې زمانې سره په اوله وضع سره مقترن وای، حال دا چې داسي نه ده، بلکي دوی په دريو زمانو کي د يوې زمانې سره مقترن دي په دويمه وضع سره، او موږ چې په تعريف د اسم کي وايو چې هغه به مقترن نه وي په دريو زمانو کي د يوې زمانې سره، نو هلته زموږ له اقتران څخه مراد اقتران په اوله وضع سره دی، فلا اشکال.

د اسماء افعال يو بل نوم: اسماءِ افعال د ذات په اعتبار سره نه افعال دي او نه حروف، بلکي اسماء دي، او مشهوره عدد يې نهه (۹) دی، که څه هم غيرِ مشهور عدد يې غيرِ معدود (بې اندازې) دی، او دوی پر مفرد اسم داخليږي، عمل يې د نصب او رفع دی.

او دوی ته اسماءِ منقوله هم ويل کيږي، ځکه چې دوی له اولي وضع څخه (چې عدمِ اقتران دی د زمانې سره) و دويمي وضعي ته (چې اقتران دی د زمانې سره) نقل سوي دي.

النوع العاشر
(لسمه نوع)

① نوع عاشر سيزده فعلند كه ايشان ناقص اند ... رافع اسم اند ناصب در خبر چون مَا و لَا
② كَانَ صَارَ اَصْبَحَ اَمْسٰى وَاَضْحٰى ظَلَّ بَاتَ ... مَافَتِئَ مَا دَامَ مَا اِنْفَكَّ لَيْسَ باشد از قفا
③ مَا بَرِحَ مَا زَالَ افعالى كزينها مشتق اند ... هر كجا بينى همين حكم است در جمله روا

ترجمه: ① لسمه نوعه [هغه] ديارلس (۱۳) فعلونه دي چي هغوى افعالِ ناقصه دي ... [او] رفع ورکونکي دي و اسم ته [او] نصب ورکونکي دي و خبر ته لکه مَا او لَا.

② صَارَ، اَصْبَحَ، اَمْسٰى، او اَضْحٰى، ظَلَّ، بَاتَ ... مَافَتِئَ، مَادَامَ، مَااِنْفَكَّ لَيْسَ...

③ [او] مَا بَرِحَ، مَازَال [او] هغه افعال چي له دغو څخه مشتق دي ... هر ځاى چي يې ووينې همدغه حکم دی په ټولو کي روا[يعني ټوله همدغه عمل کوي چي اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي].

تشريح: کله چي ناظم رَحِمَهُ الله فارغه سو د اسماءِ عامله وو له بيان څخه، نو شروع يې وکړه بيان د افعالِ عامله وو.

د افعالِ ناقصه وو وجه تسميه: وَاِنَّمَا سُمِّيَت...اِلخ، دغو افعال ته افعال ناقصه ځکه ويل کيږي چي دوى ناقص دي، او داسي نه دي لکه نور افعال چي يوازي د فاعل په ذکر کولو سره کلام تام سي، بلکي دوى منصوب ته هم محتاج دي، يعني دوى دوو لفظو ته محتاج دي چي يو به يې اسم وي او بل به يې خبر، لکه كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا.

اِعْلَمْ اَنَّ النَّاقِصَ عَلٰى نَوْعَيْنِ...اِلخ دا عبارت جواب دی له سوالِ مقدر څخه.

سوال: دا دی چي دغو افعالو ته ناقصه ويل صحيح نه دي، ځکه چي ناقص خو هغه چا ته ويل کيږي چي پر لام کلمه يې حرفِ علت وي، خو د دغو افعالو پر لام کلمه خو موږ هيڅ حرفِ علت نه وينو؟

(۱) **جواب:** شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي، د جواب خلاصه دا ده چي ناقص پر دوه قسمه دی.

د ناقص اقسام: ناقص پر دوه قسمه دی: ① ناقصِ لفظي، دا هغه ناقص ته ويل کيږي چي پر لام کلمه يې حرفِ علت وي، لکه رَمٰى يَرْمِيْ، ② ناقصِ معنوي، او دا بيا هغه ناقص دی چي په نسبت کي

یې نقصان وي، هغه په دا ډول چې مخاطب فایده نه سي ځني اخیستلای، لکه کَانَ زَیْدٌ، نو تر څو چې قَائِمًا یا ضَاحِکًا یا مَاشِیًا او داسي نور ور سره ذکر نه سي تر هغه وخته مخاطب نه په پوهیږي چې زید څه کړي دي؟؛ او دلته هم مراد له ناقص څخه دغه دویم قسم یعني ناقصِ معنوي دی.

(۲) **جواب**: دویم جواب یا توجیه دا ده چې شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: أَوْ نَقُوْلُ...إلخ، یعني نسبت د افعالِ ناقصه وو چې چا ته سوی وي، په حقیقت کي هغه ته نه وي سوی، نو په دې وجه دوی ته افعالِ ناقصه وایي، ځکه چې په ظاهر خو د دوی نسبت اسم ته سوي وي، مګر په حقیقت کي د خبر داسي مصدر ته سوي وي چې هغه مضاف وي و اسم د کَانَ ته، یعني تقدیر د کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا داسي دی: کَانَ قِیَامُ زَیْدٍ، نو دلته کَانَ فعلِ ناقص دی، زَیْدٌ یې اسم دی، قَائِمًا یې خبر دی، او د قَائِمًا مصدر قِیَامٌ راځي، چې هغه مضاف دي و اسم د کَانَ یعني زَیْد ته.

او افعالِ تامه هغه ته ویل کیږي چې په ظاهر او باطن دواړو کي یې یوه شي ته نسبت سوی وي، لېکن ناقصه هغه دي چې د دې پر خلاف وي.

وَلِهٰذَا لَا يُسَمَّى الْمَرْفُوْعُ...إلخ شارح رَحِمَهُ الله فرمایي چې له همدې کبله د دوی مرفوع ته فاعل او د دوی منصوب ته مفعول نه ویل کیږي، بلکي شبهِ فاعل او شبهِ مفعول ورته ویل کیږي، تر څو ژبه له خطاء څخه وژغورل سي، ځکه که د دوی اسم رښتیا هم فاعل وای، یا دوی افعال تامه وای، نو د دوی مرفوع به فاعل او د دوی منصوب به مفعول بلل کېدای، نو کله چې نه بلل کیږي، نو پوه سه چې دوی د معنیٰ په لحاظ سره افعالِ ناقصه دي.

د افعالِ ناقصه وو قسمونه: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: وَ اعْلَمْ اَنَّهَا ... إلخ، یعني پوه سه! چې افعالِ ناقصه پر درې (۳) قسمه دي:

اول قسم: هغه افعالِ ناقصه دي چې په اول کي یې کلمه د "مَا" نه وي، او دا اته (۸) افعال دي چې ټوله محشي د مثالونو سره ذکر کړي دي، لکه کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا...إلخ.

دویم قسم: چې په اول کي یې "مَا" نافیه وي، او دا څلور افعال دي، لکه مَا زَالَ زَیْدٌ عَالِمًا...إلخ

دریم قسم: چې په اول کي یې "مَا" مصدریه وي، او هغه یو دی، بیا شارح رَحِمَهُ الله فرمایي چې د هر یوه احکام په غټو کتابونو کي سته، که غواړی چې ویې ګوری، نو هغو ته مراجعه وکړئ!.

یادونه: شارح رَحِمَهُ الله په خپل کتاب کې ځکه له ډېرو تفصیلاتو او اوږدو بحثونو څخه ډډه کړې ده چې دا کتاب د ابتدائي طالبانو لپاره دی، لهذا نوموړي د ابتدائي طالبانو قابلیت ته په کتنې سره د دوی د ذهن مطابق دا کتاب لیکلی دی، نو باید چې موږ دلته د کافیې او جامي درسونه تطبیق نه کړو، لکه څرنګه چې ابتدائي طالب اول قرآن یادوي، بیا یې په قرار قرار سره احکام زده کوي، او پر ځان یې عملي کوي، نو هر کار باید په خپل چوکاټ کې وکړل سي. "صدیقي عفی عنه"

خلاصه: ستاسي مشفق استاذ شارح رَحِمَهُ الله د تېر سبق خلاصه بیانوي او فرمایي: وَاعْلَمْ اَنَّهَا...اِلخ، چې دغه افعال ناقصه د ذات په اعتبار سره افعال دي، اسماء او حروف نه دي، او شمېر یې د اخفش رَحِمَهُ الله په نېز دیارلس (۱۳) دی، او د سیبویه رَحِمَهُ الله په نېز غیر محدود(زیات) دي، او دوی پر جمله اسمیه داخلیږي، او جمله اسمیه هغې جملې ته ویل کیږي (لکه څنګه چې محشي رَحِمَهُ الله وایي) چې اول جزء یې اسم وي، او دویم جزء یې که اسم وي او که فعل، خو چې اول جزء یې اسم وي هغې ته جمله اسمیه ویل کیږي، نو زَیْدٌ قَائِمٌ هم جمله اسمیه ده، او زَیْدٌ ضَرَبَ هم جمله اسمیه ده؛ او جمله فعلیه هغې جملې ته ویل کیږي چې اول جزء یې فعل وي، لکه ضَرَبَ زَیْدٌ، او عمل د افعال ناقصه وو دا دی چې دوی اسم ته رفع او خبر ته نصب ورکوي، لکه کَانَ زَیْدٌ قَائِمًا.

د افعالِ ناقصه وو نور نومونه او وجه تسمیه: دې افعالو ته افعالِ نو سخ هم ویل کیږي، نواسخ جمع د ناسخ ده، چې معنیٰ یې ده: "ختمونکی، نسخ کونکی"، او وجه د تسمیه یې ناکت لیکلې ده چې نواسخ ځکه ورته وایي چې دوی کله پر جمله اسمیه (مثلاً پر زَیْدٌ قَائِمٌ) داخل سي نو د خبر رفع نسخ کوي(ختموي)، نصب ورکوي.

او دغو افعالو ته دواخلُ المبتداء والخبر هم ویل کیږي، وجه تسمیه یې ښکاره ده چې دوی پر مبتداء او خبر داخلیږي.

﴿النوع الحادي عشر من العوامل السماعية﴾
(يوولسمه نوع له عواملِ سماعيه وو څخه)

نظم: ديگر افعالِ مقارب در عمل چون ناقصند ... هست آن كَادَ كَرُبَ اَوْشَكَ ديگر عسیٰ

ترجمه: نور افعالِ مقاربه په عمل كي په څير د افعالِ ناقصه وو دي ... [او] دي هغه: كَادَ، كَرُبَ، اَوْشَكَ او بل عَسٰى.

تشريح: له مذكوره انواعو څخه يوولسمه نوع د افعالِ مقاربه وو په بحث كي ده.

د افعالِ مقاربه وو وجه تسميه: دغو افعالو ته افعالِ مقاربه ځكه ويل كيږي چي دوی نژدې كوي خبر و اسم ته لكه عَسَىٰ زَيْدٌ اَنْ يَّخْرُجَ، نو عَسَىٰ فعل دی له افعالِ مقاربه وو څخه، زَيْدٌ يې اسم دی، اَنْ يَّخْرُجَ يې په تأويل د مصدر سره خبر دی، نو معنیٰ يې دا سوه "ژر دی چي زيد به ووځي"، نو عَسَىٰ خبر و اسم ته نژدې كړی، نو له دې كبله دوی ته افعالِ مقاربه ويل كيږي.

سوال: موږ د كتاب په پېل كي وويل چي د كومو عواملو عمل چي متحد (يو ډول) وي، هغه يوه نوع بلل كيږي، نو سائل وايي چي د همدې قاعدې په خاطر بايد افعالِ ناقصه او افعالِ مقاربه يوه نوع سي، ځكه چي د دوی دواړو عمل متحد دی چي و اسم ته رفع او خبر ته نصب وركوي، نو بايد دواړه په يوه نوع كي ذكر سي؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جوراب وركوي او وايي: وَاعْلَمْ اَنَّ عِدَّتَهَا...اِلخ، خلاصه يې دا ده چي دوی بېله نوع بلل دا د اخفش رَحِمَهُ الله په نېز دي، امام اخفش رَحِمَهُ الله دوی بېله نوع بولي، لېكن د امام سيبويه رَحِمَهُ الله په نېز دواړه افعالِ ناقصه دي، يو تر بله توپير نه سره لري، ځكه چي دوی په مدخول كي هم سره متحد دي، او په عمل كي هم سره متحد دي، لهذا كله چي دوی په عمل كي سره متحد سول، نو واړه يوه نوع گڼل كيږي، لكه څرنگه چي د كتاب په پېل كي وويل سوه چي هغه عوامل چي عمل يې متحد وي، هغه يوه نوع دي.

لِاتِّحَادِهِمَا فِي الْعَمَلِ وَالْمَدْخُوْلِ...اِلخ دا د سيبويه دليل دی، او د شارح رَحِمَهُ الله ميلان هم د سيبويه رَحِمَهُ الله مذهب ته دی، ځكه چي د هغه د مذهب دليل يې ذكر كړی دی، كه څه هم مختاره د ناظم رَحِمَهُ

الله په نيز د اخفش رَحِمَهُ الله مذهب دى؛ مګر د سيبويه مذهب ضعيف دى، ځکه چي اتحاد د عمل اتحاد د نوعي هغه وخت واجبوي چي د دواړو مدخول هم متحد وي، او که مدخول يې سره بېل وو، نو بيا اتحاد د نوع ضروري نه دى، او دلته که څه هم د افعال ناقصه وو او افعال مقاربه وو عمل متحد دى، خو مدخول يې سره بېل دى، ځکه چي د افعال ناقصه وو مدخول جمله اسميه وي، مګر خبر يې اکثره وخت جمله نه وي، او د افعال مقاربه وو مدخول که څه هم جمله اسميه وي، خو خبر يې اکثره وخت جمله وي، لهذا افعال ناقصه او مقاربه که څه هم په عمل کي سره متحد سول، خو په مدخول کي سره بېل سول.

پوه سه!: چي دوى افعال دي، اسماء او حروف نه دي.

د افعال مقاربه وو شمېر: د افعال مقاربه وو شمېر چي ناظم رَحِمَهُ الله څلور (۴) ذکر کړى دى، دا يې د شيخ عبد القاهر جرجاني رَحِمَهُ الله مذهب ذکر کړى دى، کنې د بعضو په نيز جَعَلَ، طَفِقَ او أَخَذَ هم له افعال مقاربه وو څخه دي.

د افعال مقاربه وو نور نومونه او وجه تسميه: افعال مقاربه وو ته اسماءِ مُنسلخه هم ويل کيږي، ځکه چي دوى له زمانې څخه خالي کړل سوي وي، يعني د دوى زمانې سره هم تعلق نه لري.

﴿النوع الثاني عشر﴾

(دوولسمه نوع)

نظم: رافعِ اسماءِ جنس افعالِ مدح و ذم بود — چار باشد نِعْمَ بِئْسَ سَاءَ ديگر حَبَّذَا

ترجمه: رفع ورکونکي و اسمِ جنس ته افعالِ مدح او ذم دي ... [او هغه] څلور دي نِعْمَ، بِئْسَ، سَاءَ، او بل حَبَّذَا.

تشريح: له مذکوره انواعو څخه دوولسمه نوع د افعالِ مدح او ذم په بيان کي ده.

وجه تسميه: وَإِنَّمَا سُمِّيَتْ... إلخ، وجه تسميه يې ښکاره ده چي دغو افعالو ته افعالِ مدح او ذم ځکه ويل کيږي چي په دوى کي ځيني د مدح (ستاينې) لپاره او ځيني د ذم (بدى) لپاره دي.

"حَبَّذَا" ولي بېل ذکر سو: محشي رَحِمَهُ الله وايي حَبَّذَا ځکه له نورو افعالو څخه بېل ذکر سو چي حَبَّذَا د مدح لپاره نه دي وضع سوى، لکه څرنګه چي نِعْمَ وضع سوى دى بلکي حَبَّذَا د محبت د مبالغې (يعني په محبت کي د زياتوب ښوولو) لپاره وضع سوى دى.

د "نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ" **تركيب**: نِعْمَ فعلِ مدح، الرَّجُلُ فاعل، فعل سره د فاعله دا به خبرِ مقدم سي، زَيْدٌ مخصوص بالمدح دا به مبتداءِ مؤخره سي.

دويم تركيب: نِعْمَ فعلِ مدح، الرَّجُلُ يې فاعل، فعل سره د فاعله دا به جمله فعليه سي، او زَيْدٌ چي مخصوص بالمدح دی دا به خبر سي د مبتداءِ محذوف لپاره چي هُوَ ضمير دی، او راجع دی و زَيْدٌ ته.

وَ اعْلَمْ اَنَّهُ يَشْتَرِطُ...إلخ شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي د افعالِ مدح او ذم لپاره دوه (۲) شيان ضروري دي: ① چي اول شی مخصوص بالمدح دی، نو په فاعل د افعالِ مدح او ذم كي دا شرط دي چي يا به په خپله مُعرّف باللام وي په الف لامِ عهدِ ذهني سره، لكه نِعْمَ الرَّجُلُ زَيْدٌ، نو نِعْمَ فعلِ مدح دی، الرَّجُلُ يې فاعل دی، او معرّف دی په الف لامِ عهدِ ذهني سره، او همدغسي په بِئْسَ الرَّجُلُ زَيْدٌ كي دی.

او كه د دوی فاعل په الف لامِ عهدِ ذهني سره معرّف نه وي، نو بيا به مضاف وي و داسي اسم ته چي هغه به په الف لامِ عهدِ ذهني سره معرّف وي، لكه نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَيْدٌ، نِعْمَ فعلِ مدح دی، او فاعل يې صَاحِبُ دی، او هغه خپله معرفه نه دی، بلكي مضاف دی و داسي اسم ته چي هغه معرفه دی په الف لام عهدِ ذهني سره. چي الْقَوْمِ دی.

نو خلاصه دا سوه چي فاعل د افعال مدح او ذم به اسمِ جنس وي او يا به خپله په الف لامِ ذهني سره معرفه وي، يا به مضاف و معرف باللام ذهني ته وي، د دې وجه شارح رَحِمَهُ الله دا ليكلې ده:

وَ إِنَّمَا اِشْتَرَطَ اَنْ يَكُوْنَ...إلخ او دا چي دا فاعل به اسمِ جنس وي، يا معرّف باللامِ الذهني به وي، يا به مضاف و معرّف باللام الذهني ته وي، دا ځكه چي كله يو وار يو شی په جنس سره ذكر سي، لكه په نِعْمَ الرَّجُلُ او بِئْسَ الرَّجُلُ كي چي رَجُل عام دی، ټولو انسانانو ته شامل دی، او بيا د مخصوص بالمدح په طريقه په خصوص سره ذكر سي چي زَيْد دی، نو تكرار پيدا سي، او د تكرار په صورت كي په كامل ډول د يو شي مدح يا ذم كېدلای سي، نو ځكه شارح رَحِمَهُ الله وايي چي دا شرط دي چي فاعل به اسمِ جنس او معرّف باللام الذهني وي.

فاعل به يې معرّف وي: دا شرط ځكه ولګول سو چي د افعالِ مدح او ذم فاعل به معرّف باللام الذهني وي چي موافقت يې راسي د مقصود سره، مثلا په نِعْمَ الرَّجُلُ يا بِئْسَ الرَّجُلُ كي د فاعل رَجُل په

الف لام عهدِ ذهني سره معرّف کېدل ځکه ضروري دي چې هغه مدح یا ذم هم معروفه ده کوم چې د متکلم په ذهن کې ده، او فاعل به هم معرّف سي په الف لامِ ذهني یا و هغه اسم ته په اضافت سره چې هغه معرفه وي په الف لامِ ذهني سره، نو د مقصود چې مدح یا ذم دی موافقت به راسي په تعریف کې د مخصوص بالمدح یا ذم سره چې رَجُل دی.

سوال: فَإِنْ قِيْلَ إِذَا تَقَرَّرَ...إلخ، سوال دا دی چې کله دا فیصله وسوه چې د فاعل الف لام به عهد ذهني وي، نو بیا دا ویل چې فاعل معرفه دی دا به څنګه صحیح سي، ځکه چې کوم شی په الف لامِ عهد ذهني سره معرفه وي هغه ته معرفه نه ویل کېږي، ځکه چې الف لامِ عهدِ ذهني په قوت د "نکره" کې دی؟

جواب: قُلْنَا الْأَمْرُ كَذٰلِكَ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چې هو! خبره خو همداسې ده لکه ته چې وایې، خو دغه فاعل (کوم چې په الف لامِ ذهني سره معرّف دی) ځکه په معرّف سره ونومول سو چې دی صورتاً د هغه معرّف سره مشابه دی کوم چې په الف لامِ خارجي سره معرّف وي، نو په الف لامِ خارجي سره چې کوم شی معرّف وي، هغه خو معرّف بلل کېږي، نو ده ته هم موږ د هغه سره د مشابهت له کبله معرّف وویل.

سوال: تاسو خو وویل چې افعالِ مدح او ذم څلور دي، دا خبره مو صحیح نه ده، ځکه چې له افعالِ مدح او ذم څخه مراد هر هغه فعل دی چې د مدح یا ذم معنیٰ ورکوي، او په څلورو کې د هغو حصر صحیح نه دی، ځکه چې له هغو څخه ماسوا نور هم داسې افعال سته، لکه مَدَحْتُ اللُّؤْلُوَ عَلَى الصَّفَاءِ، او ذَمَمْتُ الشَّيْطَانَ عَلَى الرَّجْمَاءِ، نو په دې مثالونو کې لفظ د مدح او ذم هم له افعالِ مدح او ذم څخه دی؟

جواب: وَالْمُرَادُ مِن...إلخ شارح رَحِمَهُ الله د دې مقدر سوال جواب ورکوي، خلاصه یې دا ده چې زموږ مراد له افعالِ مدح او ذم څخه هغه افعال دي چې هغه د مدح او ذم د "إنشاء" لپاره وضع سوي وي، او په مَدَحْتُ اللُّؤْلُوَ او ذَمَمْتُ الشَّيْطَان کې چې کوم الفاظ ذکر سوي دي هغه د "إخبار" (إعلام) لپاره دي، یعني په هغو سره د دې خبري خبر ورکول مراد دی چې ما مدحه یا ذم وکړه په ماضي زمانه کې، او زموږ مراد له افعالِ مدح او ذم څخه دا دی چې هغه افعال وضع سوی وي لپاره د مدح او ذم په إنشاء (استقبال) کې، فاندفع الاشکال.

سوال: څه وجه ده چې ناظم رَحِمَهُ الله حَبَّ او ذَا دواړه له افعالِ مدح څخه وګڼل، فعلِ مدح خو یوازې حَبَّ دی، نه د ذَا کلمه، ځکه چې د ذَا کلمه خو اسم اشاره ده؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي او فرمايي: قوله حَبَّذَا اِعْلَمْ أَنَّ...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي فعلِ مدح حَبَّ دی، او ذَا اسْم اشاره يې فاعلِ دی، او دوی د شدتِ امتزاج (سخت ګډون) له کبله داسي سول لکه يوه کلمه، ځکه چي ذَا هيڅ وخت له حَبَّ څخه نه بيليږي، نو له همدې کبله ناظم رَحِمَهُ الله مجموعه د حَبَّ او ذَا ته يوه کلمه وويل.

د افعالِ مدح او ذم نور نومونه او وجه تسميه: دغه افعالو ته افعالِ جوامد هم ويل کيږي، جامد مشتق دی له جُمُود څخه، او د جمود معنیٰ ده عدمِ سيلان، او په دې افعالو کي هم عدمِ سيلان سته، يعني نور افعال له دوی څخه نه مشتق کيږي.

او افعالِ منسلخه هم ورته ووايي، ځکه چي دوی د افعالو له معنیٰ څخه خالي کړل سوي دي، چي هغه اقتران بأحد الأزمنة الثلاثة دی، او عمل د دغو افعالو رفع ده بناء بر فاعليت (يعني مدخول ته ځکه رفع ورکوي چي هغه يې فاعل وي، او فاعل مرفوع وي).

① ديگر افعالِ يقين و شک بود کان بر دو اسم ... چون در آيد هر يکی منصوب سازد هر دو را

② خِلْتُ باشد با عَلِمْتُ پس حَسِبْتُ با ظَنَنْتُ ... پس زَعَمْتُ با رَأَيْتُ پس وَجَدْتُ لي خفا

ترجمه:

① بل افعال د يقين او شک دي چي پر دوو اسمونو داخليږي ... هر يو چي له دغو افعالو څخه راسي نو دواړو ته نصب ورکوي.

② خِلْتُ دی سره د عَلِمْتُ بيا حَسِبْتُ دی سره د ظَنَنْتُ ... بيا زَعَمْتُ دی سره د رَأَيْتُ بيا وَجَدْتُ دی بېله څه خفا (يعني په ښکاره ډول).

تشريح: له مذکوره انواعو څخه ديارلسمه نوع د افعال قلوب په بحث کي ده.

د افعالِ قلوب وجه تسميه: وَ إِنَّمَا سُمِّيَتْ...إلخ، شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي دوی ځکه په افعالِ قلوبو سره ونومول سول چي د دوی صدور له قَلْب (زړه) څخه کيږي، او نور اندامونه په دې کي هيڅ دخل نه لري، ځکه چي علم، ظن، يقين او شک دا د زړه کارونه دي.

سوال: شارح رَحِمَهُ الله وايي چي دوی له زړه څخه صادريږي، محشي پر دې خبره سوال را نقل کړی دی چي دا خبره مو صحيح نه ده چي دوی له زړه څخه صادريږي، ځکه چي دا الفاظ دي، او الفاظ له خولې څخه صادريږي؟

جواب: دا دی چي دا عبارت په حذف د مضاف سره دی، تقدير د عبارت داسي دی: لِأَنَّ صُدُوْرَ مَعَانِيْهَا مِنَ الْقَلْبِ، نو په دې کي خو هيڅ شک نسته چي د دغو افعالو معناوي له زړه څخه صادريږي، فتدبّر.

د افعالِ قلوب مدخول: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چي افعالِ قلوب پر جمله اسميه داخليږي، مبتداء او خبر دواړو ته نصب ورکوي بناء بر مفعوليت، لکه عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا، عَلِمْتُ فعل او فاعل سول، زَيْدًا فَاضِلًا يې دوه مفعولان سول، نو افعالِ قلوب دوه مفعولان غواړي.

سوال: دلته يو سوال واردېږي، هغه دا چي اوس دا خبره ذکر سوه چي افعالِ قلوب پر جمله اسميه داخليږي، نو معترض اعتراض کوي چي د دې وجه څه ده چي افعالِ قلوب د جمله اسميې سره خاص دي؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله د دې مقدر سوال جواب په دې عبارت سره ورکوي: لِيُفِيْدَ دُخُوْلُهَا...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي دوی ځکه پر جمله اسميه داخليږي چي هغه مطلق حکم کوم چي په جمله اسميه کي واقع دی د يقين يا د شک په ډول معلوم سي، مثلاً موږ ؤايو: زَيْدٌ فَاضِلٌ، زيد عالم دی، نو اوس دا معلومه نه ده چي پر زيد چي د فاضلتوب حکم متکلم وکړی آيا د هغه دا خبره يقيني ده، او که فقط د هغه يو گمان دی، نو دا هغه وخت معلوميږي چي پر دې جمله افعالِ يقين يا ظن داخل کړل سي.

خلاصه: د سبق خلاصه شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره تاسو ته بيانوي: وَاعْلَمْ أَنَّهَا بِذَوَاتِهَا...إلخ، پوه سه! چي افعالِ قلوب د ذات په اعتبار سره افعال دي، اسماء او حروف نه دي، او شمېر يې اووه (۷) دي، مدخول يې جمله اسميه ده، او عمل يې نصب دی بناء بر مفعوليت.

د افعالِ قلوب نور نومونه او وجه تسميه: د دوی مشهور نوم خو افعالِ قلوب دی چي وجه تسميه يې ذکر سوه، او دوی ته افعالِ يقين او شک هم وايي چي وجه تسميه يې له نوم څخه معلوميږي، ځکه چي دوی د يقين او شک لپاره راځي.

او دوی ته افعالِ نواسخ هم وايي، ځکه چي دوی د مبتداء او خبر مخکني اعراب نسخ کوي (ختموي)، يعني مبتداء او خبر خو مرفوع وي لکه زَيْدٌ فَاضِلٌ، لېکن کله چي افعالِ قلوب پر داخل

سي، نو بناء بر مفعولت و دواړو ته نصب ورکوي، مثلاً عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا، نو د مبتداء او خبر رفع يې ختمه کړه. او دوی ته افعالِ دواخل هم وايي، وجه تسميه يې ښکاره ده چې دوی پر مبتداء او خبر داخليږي.

افعالِ قلوب دوې معناوي لري: دغه افعالو ته افعالِ قلوب ځکه ويل کيږي چې د دوی غالب استعمال په قلوبو کې وي، کنې دوی د جوارحو لپاره هم راځي، که چيرې له رأيتُ څخه رؤيتِ قلبي واخيستل سي. نو په معنیٰ د عَلِمْتُ سره به وي، او دا به د قلب فعل وي، او که رؤيتِ بصري ورڅخه واخيستل سي، نو له افعالِ جوارحو څخه به وي.

او د وَجَدْتُ هم دوې معناوي دي، يو وجدانِ قلبي (د زړه ليدل) دي، چې مراد ور څخه علم دی، او دا فعل د قلب سو، ځکه چې علم له افعالِ قلوبو څخه دی، او بله معنیٰ د وَجَدْتُ بَصَرْتُ دی، يعني که حِسّي وجدان ور څخه مراد سي، نو معنیٰ يې ليدل دي.

همدارنګه د عَلِمْتُ هم يوه معنیٰ قلبي ده چې د يو چا پر اوصافو ستا علم راسي، او بله معنیٰ يې دا ده چې ما هغه د ذات په اعتبار سره وپېژندی.

نو په هغه صورت کې چې له دغو افعالو څخه قلبي معنیٰ واخيستل سي، مثلاً له عَلِمْتُ څخه علم، له بَصَرْتُ څخه علم، همدارنګه له وَجَدْتُ څخه وجدانِ قلبي، نو په دې صورت کې هغوی دوه مفعولان غواړي، او که د جوارحو معنیٰ ور څخه واخيستل سي، نو بيا يو مفعول غواړي، لکه شارح رَحِمَهُ الله چې فرمايلي دي: وَقَدْ يَجِيْئُ بَعْضُهَا لِلْجَوَارِحِ فَحِيْنَئِذٍ تَنْصُبُ مَفْعُوْلًا وَاحِدًا...إلخ. فتفكّر.

د اسمِ فاعل د عمل کولو دوه شرطونه: شارح رَحِمَهُ الله د اسم فاعل د عمل لپاره دوه شرطونه ذکر کړي دي، اول شرط يې په دې عبارت سره بيان کړی دی: وَاعْلَمْ اَنَّ اِسْمَ الْفَاعِل...اِلخ، خلاصه يې دا ده چې د اسمِ فاعل د عمل کولو يو شرط دا دی چې په معنیٰ سره به د حال يا استقبال وي، او که نه وو بيا عمل نه سي کولای، د دې وجه دا ده چې د اسم وضع د عمل کولو لپاره نه ده سوې، خو اسم فاعل د فعل مضارع سره په عدد د حروفو، حرکاتو او سکناتو کې مشابهت لري، مثلاً په يَضْرِبُ کې هم څلور حروف دي، په ضَارِبٌ کې هم، په يَضْرِبُ کې هم يو حرف ساکن او درې متحرک دي، او په ضَارِبٌ کې هم، نو اسم فاعل د فعل مضارع سره لفظاً مشابهت لري، خو کله چې معناً مشابهت هم ور سره پيدا کړي، نو بيا هغه عمل کولای سي، ځکه چې مشابهت به کامل سي، او کله چې مشابهت کامل سئي، نو دی به هم د فعل مضارع په څير د رفع او نصب عمل کولای سي.

دويم شرط: شارح رَحِمَهُ الله دويم شرط په دې عبارت سره بيانوي: وَاَيْضًا مُتَعَمِّدًا بِاَحَدِ الْاَشْيَاءِ السِّتَّةِ الْمَذْكُوْرَةِ...اِلخ، خلاصه يې دا ده چې د اسم فاعل لپاره دا خبره هم شرط ده چې هغه به اعتماد کړی وي پر يوه له شپږو شيانو څخه، هغه شپږ شيان دا دي: ① مبتداء، ② موصوف، ③ ذو الحال، ④ موصول، ⑤ حرفُ النفي، ⑥ استفهام.

سوال: څه وجه ده چې شارح رَحِمَهُ الله د اسم فاعل د عمل کولو لپاره دا شرط ولګوی، اصل خو په اشياؤ کي اطلاق (يعني له شرائطو څخه خاليتوب) دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله دا شرط ځکه ولګوی تر څو زياتوب د فرع رانه سي پر اصل، اصل خو فعل دی، نو فعل هغه وخت عمل کولای سي کله چې هغه اعتماد (تکيه) کړې وي پر فاعل، نو اوس که د اسم فاعل د عمل لپاره اعتماد پر يوه له اشياء سته وو څخه شرط نه کړل سي، نو زيادت د فرع به (چې اسم فاعل دی) پر اصل (چې فعل دی) راسي، او زيادت د فرع پر اصل صحيح نه دی؛ فعل ځکه اصل دی چې د هغه وضع د عمل لپاره ده، او اسم فاعل ځکه فرع دی چې د فعل سره د مشابهت له کبله عمل کوي.

پر شپږو شيانو "اَشْيَاءِ سِتَّة" باندي د اسم فاعل د اعتماد مطلب:

① پر مبتداء د اسمِ فاعل د اعتماد مطلب دا دی چې اسم فاعل به خبر واقع سوی وي لپاره د مبتداء، لکه زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا، نو ضَارِبٌ اسم فاعل دی، عمل يې په فاعل اَبُوْهُ او مفعول به عَمْرًا کې کړی دی، په فاعل کې يې عمل د رفع کړی دی ځکه اَبُوْهُ مرفوع دی په واو سره، ځکه چې د اسماءِ سته مکبره وو

اعراب په حروفو سره راځي، او ضَارِبٌ خبر واقع سوی دی لپاره د زَيْدٌ مبتداء، نو پر مبتداء د اعتماد مطلب دا سو چي اسم فاعل به ورته خبر واقع سوی وي نو بيا هغه عمل کوي.

④ او پر موصوف د اعتماد مطلب دا دی چي ماقبل د اسم فاعل به موصوف وي، او دی به يې صفت وي، لکه جَاءَنِيْ رَجُلٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا، دلته ضَارِبٌ په اَبُوْهُ (فاعل) کي د رفع عمل کړی دی، او په عَمْرًا کي يې د نصب عمل کړی دی. او دی صفت دی لپاره د رَجُلٌ، نو د ده لپاره موصوف راتلل، او دی د هغه صفت جوړېدل، دا د ده اعتماد سو.

③ او پر ذوالحال د اعتماد مطلب دا دی چي اسم فاعل به حال ورته واقع سوی وي لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا فَرَسَهُ، نو رَاكِبًا اسم فاعل دی، او عمل د رفع يې محلاً کړی دی په فاعل کي چي ضمير دی او مستتر دی په رَاكِبًا کي، او عمل د نصب يې کړی دی په مفعول کي چي فَرَسَهُ دی، او اعتماد يې کړی دی پر ذوالحال، ځکه چي زيد ذوالحال دی، او رَاكِبًا حال دی.

④ او پر موصول د اعتماد مطلب دا دی چي له دې اسم فاعل څخه به مخکي موصول واقع وي، او دی به ورته صله وي، لکه جَاءَ الضَّارِبُ اَبُوْهُ عَمْرًا، نو دلته ضَارِبٌ اسمِ فاعل دی، عمل د رفع يې په فاعل اَبُوْهُ کي او عمل د نصب يې په مفعول عَمْرًا کي کړی دی، او اعتماد يې پر موصول کړی دی چي هغه الف لام په معنیٰ د اَلَّذِیْ سره دی، او اسم فاعل صله ورته واقع سوی دی.

⑤ او پر نفي د اعتماد مطلب دا دی چي ما قبل تر اسمِ فاعل به نفي واقع سوی وي، او دا نفي به متوجه وي اسمِ فاعل ته. لکه مَاقَائِمٌ اَبُوْهُ، نو قَائِمٌ اسم فاعل دی، او پر نفي يې اعتماد کړی دی چي هغه قَائِمٌ ته متوجه دي، او عمل د رفع يې په اَبُوْهُ کي کړی دی.

⑥ او پر استفهام د اعتماد مطلب دا دی چي ماقبل له اسم فاعل څخه به استفهام واقع سوی وي، او دا استفهام به اسمِ فاعل ته متوجه وي، لکه أَقَائِمٌ اَبُوْهُ، نو قَائِمٌ اسم فاعل دی او په اَبُوْهُ کي يې د رفع عمل کړی دی، او ده اعتماد پر حرفِ استفهام کړی دی کوم چي ده ته متوجه دی.

مصدر په لغت او اصطلاح کي: شارح رَحِمَهُ الله د مصدر لغوي معنیٰ کړې ده: هُوَ فِي اللُّغَةِ ... إلخ، مصدر صيغه د ظرف ده پر وزن د مَفْعَلٌ دی، "ځای د صادرېدلو" ته ويل کيږي، يعني د وتلو او بيرته

راتللو، له همدې جملې څخه طوافُ الصدر هم دی، او دې ته ځکه طوافِ صدر ویل کیږي چې تر کولو وروسته یې انسان خپل وطن ته صدور (رجوع) کوي.

وَفِي الْاِصْطِلَاحِ... اِلخ او په اصطلاح کې نوم د حدث دی چې مشتق سوی وي له هغه څخه نور فعلونه، لکه له ضَرْبٌ، څخه چې ماضي مضارع او داسي نور جوړ سوي دي، او مطلب له حدث څخه هغه معنیٰ ده چې قائم بالغیر وي، مثلاً لکه ضَرَبَ، نو دا ضَرَبَ به یا قائم په زید پوري وي یا په عمر پوري وغیرذٰلك.

د "اشْتُقَّ مِنْهُ" د قید فایده: وَاِنَّمَا قُلْنَا... اِلخ، شارح رَحِمَهُ الله وایي چې د اشْتُقَّ مِنْهُ قید مو ځکه ولګوی تر څو د مصدر له تعریف څخه اغیار خارج سي، چې هغه اسم مصدر دی، ځکه چې هغه هم پر حدوث دلالت کوي، خو له هغه څخه بل شی نه مشتق کیږي، لکه دَکًّا او دَهًّا چې په معنیٰ د هلاکت راځي، نو مصدر هغه اسم ته وایي چې له هغه څخه نور شیان مشتق کیږي، او هغه اسم چې له هغه څخه نور شیان نه مشتق کیږي، هغه ته اسم مصدر ویل کیږي.

د مصدر قسمونه: مصدر پر دوه (۲) قسمه دی: ① مصدر که متعدي وو، نو هغه په دوو اسمونو کې عمل کوي، په اول کې بناء بر فاعلیت د رفع عمل کوي، په دویم کې بناء بر مفعولیت د نصب عمل کوي، د متعدي مصدر مثال لکه اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ عَمْرًا، نو ضَرْب دلته متعدي مصدر دی، په زید کې یې عمل د رفع کړی دی، ځکه چې زید یې فاعل دی، او محلاً مرفوع دی (که څه هم لفظاً مجرور دی)، او په عمرو کې یې د نصب عمل کړی دی، ② او که مصدر لازمي وو، نو یوازې په یوه اسم کې عمل کوي، لکه اَعْجَبَنِیْ قِیَامُ زَیْدٍ، دلته قِیَام لازمي مصدر دی، نو یوازې یې په زید کې یې د رفع عمل کړی دی، ځکه چې د قیام لپاره فاعل دی او محلاً مرفوع دی.

د مصدر د عمل قسمونه: مصدر کله نا کله عمل په داسي ډول کوي چې خپله رفع په مابعد کې د تنوین په صورت کې ظاهروي، یعني عمل یې لفظي وي، لکه اَعْجَبَنِیْ ضَرْبٌ زَیْدٌ عَمْرًا، نو ضَرْبٌ په زید کې د رفع او په عمرواً کې د نصب عمل کړی دی، او عمل یې لفظي دی، زید یې فاعل او عمرواً یې مفعول به دي.

او کله بیا د مصدر عمل محلاً وي، دا په هغه صورت کې چې دغه مصدر خپل فاعل یا مفعول ته مضاف وي، لکه اَعْجَبَنِیْ ضَرْبُ زَیْدٍ عَمْرًا، دلته ضَرْبُ مضاف دی و زید فاعل ته، او زید لفظاً مجرور او محلاً مرفوع دی، او عمرواً منصوب لفظاً مفعول به دی، او چې مفعول ته مصدر مضاف وي د هغه مثال

لکه اَعْجَبَنِیْ اَکْلُ اللَّحْمِ وَالْخُبْزِ، دلته اللحم مفعول به دی لپاره د أکل؛ نو شارح رَحِمَهُ الله فرمایي چي د مصدر مختاره عمل په خپل معمول کي په تنوین سره یعني بغیر له اضافت څخه وي، خو په اضافت سره یې عمل هم رواج او جائز دی، ځکه چي په اضافت سره په کلمه کي د تنوین په حذف سره څه تخفیف راځي، فتدبر.

اسم مفعول په لغت او اصطلاح کي: شارح رَحِمَهُ الله د اسم مفعول لغوي معنیٰ په دې عبارت سره ذکر کوي: قوله اسم مفعول هُوَ فِي اللُّغَةِ...إلخ. اسم مفعول په لغت کي هغه چا ته ویل کیږي چي کار پر کړل سوی وي.

او په اصطلاح کي هغه اسم ته ویل کیږي چي مشتق وي له فعل مضارع مجهول څخه او پر هغه فعل واقع سوی وي، او اسم مفعول یوازي د رفع عمل کوي، دا هم په هغه صورت کي چي اسم مفعول د حال یا استقبال په معنیٰ سره وي او له اشیاءِ سته وو څخه یې پر یوه اعتماد کړی وي، د اشیاءِ سته وو بحث تفصیلاً په اسم فاعل کي تېر سو، مثال لکه زَیْدٌ مَضْرُوْبٌ غُلَامُهُ، دلته مَضْرُوْبٌ اعتماد کړی دی پر مبتداء چي زَیْدٌ دی، او مَضْرُوْبٌ په غُلَامُهُ کي د رفع عمل کړی دی ځکه چي هغه یې نائب فاعل دی.

مضاف په لغت او اصطلاح کي: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: قوله مضاف هُوَ صِیْغَةٌ...إلخ، یعني مضاف د إفعال له باب څخه د اسم مفعول صیغه ده، لغوي معنیٰ یې ده: "هغه شی چي بل چا ته یې نسبت سوی وي".

او په اصطلاح کي هر هغه اسم ته ویل کیږي چي اضافت یې بل چا ته سوی وي په تقدیر د حرفِ جر سره، خو په تقدیر د حرف جر سره یوازي په اسم کي راځي، لکه غُلَامُ زَیْدٍ، او په فعل کي بیا په ظهور د حرفِ جر سره راځي، خو پر هغه بیا د اضافت اطلاق نه سو کولای، بلکي و هغه ته جار او مجرور ویل کیږي، لکه مَرَرْتُ بِزَیْدٍ او غُلَامٌ لِزَیْدٍ، دویم مثال د هغه اسم دی چي و بل اسم ته مضاف وي خو په ظهور د حرفِ جر سره.

د مضاف الیه د عامل په اړه یو اختلاف: ثُمَّ اعْلَمْ اَنَّ عَمَلَ الْمُضَافِ...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره بیان د یوه اختلاف دی، خلاصه یې دا ده چي د مضاف الیه د عامل په باره کي د جمهورو او سیبویه په مینځ کي اختلاف دی، جمهور وایي چي په مضاف الیه کي عامل مضاف دی، یعني په غُلَامُ زَیْدٍ کي زَیْدٍ ته مضاف یعني غُلَامُ جر ورکړی دی، او حرفِ جر عامل نه دی، بلکي د اضافت لپاره فقط یوه واسطه ده.

او د سیبویه مذهب دا دی چي په مضاف الیه کي مضاف عامل نه دی، بلکي په هغه کي عامل حرف جر دی کوم چي مقدر وي د مضاف او مضاف الیه په مینځ کي، یعني غُلَامُ زَيْدٍ په اصل کي غُلَامٌ لِزَيْدٍ وو، نو د سیبویه پر مذهب و زَيْدٍ (مضاف الیه) ته جر دغه "لام" ورکړی دی.

د اضافت یو څو قواعد: شارح رَحِمَهُ الله د اضافت لپاره یو څو قاعدې بیانوي او فرمایي: وَ اعْلَمْ ... أَوَّلُهَا أَنَّ الْمُضَافَ... إلخ، چي خلاصه یې دا ده:

اوله قاعده: دا ده چي مضاف په یوه حالت کي دویم وار نه مضافیږي، ځکه که بل چا ته دویم وار مضاف کړل سي، نو د اول مضاف الیه سره به یې فصل راسي، او که اول مضاف الیه حذف کړل سي، نو معنیٰ به فاسده سي.

دویمه قاعده: وَثَانِيْهَا... إلخ، دویمه قاعده دا ده چي مضاف و خپل مِثل ته نه مضافیږي، یعني دوه شیان چي برابر وي په عموم او خصوص کي، نو هغه یو بل ته نه مضافیږي، ځکه کومه فایده چي په اضافت سره حاصلیږي، هغه بغیر له اضافت څخه هم حاصلیږي، نو د دې اضافت څه فایده نسته، نو داسي نه سي ویل کېدلای چي غَيْثُ مَطَرٍ، ځکه چي دواړه په عموم او خصوص کي سره برابر دي.

سوال: دلته یو سوال واردیږي چي تاسو وویل چي یو شی خپل مِثل ته نه سي مضاف کېدلای، او مماثلت خو عبارت دی له اشتراک في النوع او ماهیت څخه، نو زه به یې در وښیم چي مِثل به و خپل مِثل ته مضاف سوی وي، او دواړه به مماثلت هم سره لري، لکه غُلَامُ زَيْدٍ، نو غلام او زید خو داوړه په ماهیت او نوع کي سره شریک دي، سره د دې چي دغه اضافت د نحاتو په اتفاق سره صحیح دی، او شرکت یې په ماهیت او نوع کي په دا ډول دی چي د دواړو ماهیتِ نوعي حیوانِ ناطق دی؟

جواب: شارح رَحِمَهُ الله جواب ورکوي: أَيْ إِلَىٰ مُسَاوِيْهِ فِي الْعُمُوْمِ وَالْخُصُوْصِ... إلخ، د جواب خلاصه دا ده چي له مماثلت څخه دلته خپله معنیٰ (یعني اشتراک په ماهیتِ نوعي) کي مراد نه ده، بلکي مراد له مماثلت څخه مساوات دی، او مراد له مِثل څخه مساوي دی په عموم او خصوص کي، لکه غَيْث چي مساوي دی د مَطَر سره او لیث چي مساوي دی د أَسَد سره، او غلام مساوي نه دی د زَيْد سره، ځکه چي د دوی دواړو په مینځ کي مباینت سته، ځکه چي زید مالک دی، او غلام یې مملوک دی، زید حُر او غلام غیرِ حُر دی.

دریمه قاعده: شارح رَحِمَهُ الله وايي: وَثَالِثُهَا...إلخ، خلاصه يې دا ده چي د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي په تنوين او په قائم مقامه د تنوين سره (چي نون د تشنيې او جمع دی) فاصله جائز نه ده، وجه يې دا ده چي اضافت د اتصال تقاضا کوي، يعني دا غواړي چي مضاف او مضاف اليه دي دواړه سره متصل وي، او تنوين او قائم مقامه د تنوين چي نون د تشنيې او جمع دی هغه تقاضا د انفصال کوي، او اتصال او انفصال سره ضد دي، نو څرنګه چي د متضادينو جمع کېدل ناجائز دي، همدارنګه د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي په تنوين يا قائم مقام سره فاصله کول ناجائز دي.

شعر: فِـــيْ بِئْـــرِ لَا حُـــوْرٍ سَرَىٰ وَمَــا شَــعُرا

په دې شعر کي لفظ د بِئرِ مضاف دی و لفظ د حُوْر ته، او لَا حرف زائد دی. په اصل کي بِئرِ حُوْرٍ دی، نو دلته د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي په حرفِ زائد سره فصل راغلی او دا جائز دي. (حُوْر په ضمه د حاء سره هلاکت او بربادي ته ويل کيږي، او په فتحه د حاء سره ژور تيا ته ويل کيږي، خو دلته په ضمه د حاء سره دی)

د شعر معنیٰ: دا ده چي شپه تېره کړه عاشق په داسي کوهي کي چي هغه هلاکونکي وو او هغه (د زيات عشق له کبله په داسي حال کي وو چي) هيڅ شعور او احساس يې نه درلود (يعني په عشق کي د زيات ډوبوالي په وجه په ځان هم خبر نه وو چي زه چيري يم).

همدارنګه د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي په تأکيد سره هم فصل جائز دی، لکه په دې شعر کي:

شعر: يَـــا تَـــيْمُ تَـــيْمَ عَــــدِيٍّ

دلته اول تَيم عَدِيّ ته مضاف دی ، او دويم تَيم د اول تَيم لپاره تأکيد دی، نو په داسي صورت کي چي يو لفظ د مضاف لپاره تأکيد راغلی وي په هغه لفظ سره د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي فصل جائز دی.

د شعر معنیٰ: دا ده چي شاعر له خپل قوم څخه کومک او مرسته غواړي، او آواز ورته کوي چي "اې قومه قومه د عَدِي"، عَدِي ديو کس نوم دی، او تَيم "قوم" ته ويل کيږي.

څلورمه قاعده: وَرَابِعُهَا اَنَّ الْمُعَرَّفَ...إلخ، د اضافت څلورمه قاعده دا ده چي کوم لفظ معرّف باللام وي، يعني الف لام پر داخل وي، هغه بل اسم ته نه مضافيږي، ځکه چي په اضافت د دې معرّف

سره به ستا مقصد یا تعریف وي، او تعریف په الف لام سره حاصل سوی دی، نو تحصیل د حاصل خو بې فایدې وي، او یا به دي مراد تخصیص وي، او دا هم صحیح نه دی، ځکه چي دا تحصیل د ادنیٰ دی سره د وجوده د اعلیٰ، ځکه چي مراد له تخصیص څخه د یو شي معرفه کېدل وي، نو کوم چي په الف لام سره معرفه وي، په هغه کي تعریف ډېر زیات وي په نسبت د هغه ته کوم چي په اضافت سره معرفه کیږي؛ نو کله چي ته وغواړې چي یو معرّف باللام لفظ بل لفظ ته مضاف کړې، نو ته به اول دغه معرّف باللام له الف لام څخه خالي کوې، بیا به یې مضاف کوې.

د اضافت قسمونه: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: وَاعْلَمْ اَنَّ الْاِضَافَةَ...إلخ، یعني اضافت پر دوه قسمه دی: ① اضافت لفظي، ② اضافت معنوي.

اضافت لفظي: و دې ته ویل کیږي چي اسم صفت خپل معمول ته مضاف وي، لکه ضَارِبُ زَيْدٍ، ضَارِبٌ د صفت یعني د اسم فاعل صیغه ده، او مضاف ده و خپل معمول ته، ځکه چي زید یې مفعول دی، او نصب یې ورکړی دی، ځکه زید که څه هم لفظاً د اضافت له کبله مجرور دی، خو محلاً بناء بر مفعولیت منصوب دی.

او د اضافت لفظي دویم مثال لکه حَسَنُ الْوَجْه، حَسَنٌ د صفت مشبّه صیغه ده، او خپل فاعل ته مضاف ده، نو وَجْه که څه هم د اضافت له کبله لفظاً مجرور دی، خو محلاً مرفوع دی، ځکه چي د حَسَن لپاره فاعل دی.

تنبیه: شارح رَحِمَهُ الله د صفت یادونه کړې ده، نو مراد له صفت څخه اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبّه او اسم تفضیل دي.

نکته: پر دې متن اِسْمَ صِفَةٍ مُضَافَةٍ سربېره ناکت دا نکته لیکلې ده: اِحْتِرَازٌ عَمَّا لَمْ يَكُنْ صِفَةً نحو غُلَامُ زَيْدٍ، غرض د ناکت په دې نکتې سره د اضافت لفظي په تعریف کي د "صِفَةً" د قید فایده بیانول دي، ځکه کله چي شارح رَحِمَهُ الله وویل چي اضافت لفظي و دې ته ویل کیږي چي اسم به خپل معمول ته مضاف وي، نو معترض اعتراض وکړی چي زه به در وښیم چي اسم به وي مضاف به وي، خو اضافت لفظي به نه وي ته ویل کیږي، لکه غُلَامُ زَيْدٍ، نو شارح رَحِمَهُ الله وویل چي نه! زموږ مراد په اسم سره هغه اسم دی چي هغه اسم صفتي وي، او مضاف وي خپل معمول ته، او په غُلَامُ زَيْدٍ کي غلام صفت نه دی.

اضافتِ معنوي: و دې ته ويل کيږي چې مضاف يې غيرِ صفت وي لکه غُلَامُ زَيْدٍ، نو غلام مضاف دی، او صفت نه دی، اسمِ جامد دی، او يا خو به مضاف اسمِ صفت وي، خو خپل معمول ته به مضاف نه وي، لکه مُضَارِعُ مِصْرٍ، مُضَارِع "پهلوان" ته ويل کيږي، او د اسم فاعل صيغه ده خو خپل معمول ته مضاف نه ده، ځکه چې مِصْر د مُضارع لپاره نه فاعل دی او نه مفعول، نو دا هم اضافتِ معنوي دی، وقِسْ عَلىٰ هٰذا.

د اضافتِ معنوي اقسام: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: وَ هِيَ عَلَى اَرْبَعَةِ اَقْسَامٍ...اِلخ، يعني اضافتِ معنوي پر څلور قسمه دی.

(۱) اضافتِ جنسي: اضافتِ جنسي دې ته ويل کيږي چې د مضاف اضافت وجنس ته سوی وي لکه غُلَامُ رَجُلٍ، په دې مثال کې غُلَامِ رَجُل ته مضاف دی، او رجل جنس دی، ځکه چې مراد له رجل څخه يو فردِ معين يا غيرِ معين يا ټوله افراد نه دي، بلکې جنس د رجل مراد دی، نو دې ته اضافتِ جنسي وايي.

(۲) اضافتِ استغراقي: دې ته ويل کيږي چې يو اسم مضاف سي و بل داسي اسم ته چې هغه پر استغراق دلالت کوي، لکه غُلَامُ كُلِّ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ، نو دلته غُلَام مضاف دی و كُلِّ رَجُل ته، او كُل پر استغراق د افرادو دلالت کوي، يعني هر فرد د رجل له افراد څخه هوښيار (او چالاک) دی.

(۳) اضافتِ عهدِ خارجي: و دې ته ويل کيږي چې مضاف يو فردِ معين ته مضاف سي، لکه غُلَامُ الرَّجُلِ، نو دلته غُلَام مضاف دی و داسي اسم ته چې مراد له هغه څخه يو معين فرد دی، ځکه چې پر رجل الف لام عهدِ خارجي داخل دی، چې له هغه څخه مراد يو معين فرد دی.

(۴) اضافتِ عهدِ ذهني: و دې ته ويل کيږي چې مضاف فردِ غيرِ معين ته مضاف سي، په دا ډول چې دا مضاف اليه مبهم وي لکه لِلّٰهِ دَرُّهٗ فَارِسًا[1]، نو دلته دَرُّ مضاف دی و "ه" ضمير ته، او مراد له دې ضمير څخه مبهم فرد دی، او فَارِسًا تميز دی.

---

[1] "دَرّ" شيدو ته ويل کيږي، دا جمله د هغه کس لپاره استعماليږي چې په يو صفت او ځانګړتيا کې له خپلو ملګرو او همزولو څخه لوړ سي، ګواکې هغه داسي شيدې چيښلي دي چې هغه تر هغو شيدو غوره او د لوړې درجې دي کوم چې يې همزولو چيښلي دي، او د دې جملې معنیٰ ده: "خاص الله لره دي وي د هغه خير چې هغه غوره شاهسوار دی".

قوله فعل باشد مطلقا شارح رَحِمَهُ الله د ناظم د دې قول تفصيل بيانوي "چې فعل هم عاملِ قياسي دى مطلقاً"، يعني هر فعل که متعدي وي که لازمي، مجرد وي که مزيد، ماضي وي که مضارع، مطلب د اچې هر فعل په خپل مدخول کې عمل کوي، نو که دغه فعل لازمي وو بيا يوازې د رفع عمل کوي، لکه قَامَ زَيْدٌ، قَامَ فعلِ لازمي دى، او په زَيْدٌ کې يې د رفع عمل کړى دى، او که فعلِ متعدي وو نو هغه د رفع او نصب دواړو عمل کوي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا، دلته ضَرَبَ فعلِ متعدي دى، په زَيْدٌ کې يې د رفع عمل کړى دى، ځکه چې هغه يې فاعل دى، او په عَمْرًا کې يې د نصب عمل کړى دى، ځکه چې هغه ورته مفعول دى.

سوال: فَإِنْ قِيْلَ إِذَا كَانَ الْفِعْلُ... إلخ، که چا سوال وکړي چې تاسو وويل چې هر فعل عمل کوي، او د هر فعل عمل مو قياسي وګڼي، ځکه چې فعل مو هم د اوو (۷) قياسي عواملو په شمېر کې ذکر کړي، نو په فعل کې خو افعال ناقصه، افعال مقاربه او داسې نور هم شامل دي، ځکه چې هغه هم فعلونه دي، نو مخکې خو تاسو ويلي وه چې د افعالِ ناقصه او افعالِ مقاربه وو عمل سماعي دى، ځکه چې هغه تاسو په ديارلس سماعي انواعو کې ذکر کړل، او اوس واياست چې يا قياسي دى، نو د مخکني افعالو عمل به څرنګه سماعي سي؟

جواب: قُلْنَا فِيْهِ جِهَتَانِ... إلخ د سماعي فعل دوه اړخونه دي، يو اړخ يې د عمل دى، او بل اړخ يې د مدخول دى، نو د عمل په اعتبار سره هر فعل قياسي دى، ځکه چې د فعل وضع د عمل لپاره راغلې ده. او د مدخول په اعتبار سره سماعي دى، نو افعالِ ناقصه او مقاربه او داسې نور په اعتبار د مدخول سره سماعي دي، ځکه چې افعال ناقصه او مقاربه پر جمله اسميه داخليږي، او افعال مدح او ذم پر اسمِ جنس داخليږي، او د دوى مدخول په سماع سره متعين سوى دى، پر بل چا دوى نه داخليږي، نو دغه افعالِ ناقصه، افعالِ مقاربه او افعالِ مدح او ذم چې په عواملِ سماعيه وو کې شمېرل سوي دي، دا په اعتبار د مدخول سره دي، او مطلق فعل چې په عواملِ قياسيه وو کې شمېرل سوى دى هغه په اعتبار د عمل سره دى، فلا اعتراض.

يوه لطيفه: يوه سړي ته يو چا وويل چې پلانيه! تر تا خو سپى هم ډېر ښه دى، نو دا سړى ډېر په غصه سو چې دا ته څه وايې! هغه جواب ورکړى چې د شرموښ په مقابله کې؛ نو رښتيا هم د شرموښ دفاع انسان داسې نه سي کولاى لکه سپى چې يې کوي.

د صفتِ مشبه تعريف: قوله پس صفت... وَهِيَ فِي اللُّغَةِ... إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله د صفت لغوي او اصطلاحي معنىٰ بيانول دي، نو صفتِ مشابه په لغت کې و "مشابه کړل سوي" ته ويل کيږي.

او په اصطلاح کي داسي اسم دی چي مشتق وي له فعلِ لازم څخه او په هغه سره فعل په معنیٰ د ثبوت سره قائم وي، د ثبوت په قید سره احتراز راغلی له اسمِ فاعل څخه، ځکه چي په هغه سره هم فعل قائم وي خو په معنیٰ د حدوث سره، لکه زَيْدٌ ضَارِبٌ، نو دا ضَرْب د زيد د لږ وخت لپاره وي، دوام او ثبوت نه لري، د صفت مشبه مثال لکه زَيْدٌ حَسَنُ الْوَجْهِ، (زيد ښايسته مخ والا دی)، حُسن او ښايست د ډېر وخت لپاره وي، او عمل د صفت مشبه رفع ده، يعني خپل مدخول ته فقط رفع ورکوي، ځکه چي مونږ وويل چي هغه به مشتق وي له فعلِ لازمي څخه، او فعلِ لازمي فقط فاعل ته رفع ورکوي او دويم اسم ته نه متعدي کيږي، نو صفت مشبه به هم داسي لازمي وي، او رفع يې بناء بر فاعليت وي.

د صفت مشبه وجه تسميه: صفت مشبه ځکه ورته ويل کيږي چي هغه د اسم فاعل سره مشابه کړل سوی وي په تصريف کي د افراد له حال څخه د تثنيې او جمع حال ته، يعني څرنګه چي اسم فاعل له مفرد څخه تثنيې ته او له تثنيې څخه جمع ته تغيّر خوري، همداسي صفت مشبه هم له مفرد څخه تثنيې ته او له تثنيې څخه جمع ته تغير خوري، او لکه څرنګه چي اسم فاعل له مذکر څخه ومؤنث ته اوړي، همداسي صفت مشبه هم له مذکر څخه ومؤنث ته اوړي، او دويم هغه شی چي په هغه کي صفت مشبه د اسم فاعل سره مشابه دی، هغه دا دی چي لکه څرنګه چي اسم فاعل پر ذات مع الوصف دلالت کوي، همداسي يې صفت مشبه هم کوي، مثلاً مونږ وايو ضَارِبٌ، نو دغه ضَارِبٌ پر "وهونکي" هم دلالت کوي چي ذات دی، او پر ضَرْب "وهلو" هم دلالت کوي چي وصف دی، او صفت مشبه هم پر ذات مع الوصف دلالت کوي، مثلاً مونږ وايو حَسَنٌ، نو د دې معنیٰ ده مَنْ لَهُ الْحُسْن، هغه څوک چي ښايست لري، نو "هغه څوک" ذات سو، او "ښايست" يې صفت سو؛ وَفِيْهَا تَفْصِيْلٌ طَوِيْلٌ لَايَلِيْقُ بِهٰذِهِ الرِّسَالَةِ فَلْيُطْلَبْ فِي الْمُطَوَّلَاتِ.

د اسم تام تعريف: قوله اسم تام... إلخ. اسم تام په لغت کي په معنیٰ د "پوره کړل سوي" سره دی.
او په اصطلاح کي هر هغه اسم دی چي پوره سوي وي په تنوين سره يا په هغه شي سره چي هغه قائم مقامه د تنوين وي، لکه نون د تثنيې او نون د جمع، او يا هغه چي په آخر کي يې داسي اسم وي چي هغه مضاف اليه وي.

د اسم تام عمل: نصب دی بناء پر تميز يعني د ده مدخول به د ده لپاره تميز وي، او تميز خو ښکاره ده چي له منصوباتو څخه دی.

سوال: محشي رَحِمَهُ الله یو سوال را نقل کړی دي، هغه دا چې څه وجه ده چې اسمِ تام د نصب عمل کوي سره د دې چې نه هغه فعل دی او نه د فعل سره مشابه دی؟

جواب: هو! موږ دا خبره منو چې اسم تام فعل نه دی، خو د فعل سره په تمامیت (پوره کېدلو) کې مشابهت لري، یعني دغه اسم په تنوین یا په قائم مقام د تنوین یا په مضاف الیه سره هم داسې تامیږي لکه فعل چې په فاعل سره تامیږي، نو لکه څرنګه چې فعل تر اتمام وروسته مفعول به ته نصب ورکوي، همداسې دغه اسم و تمیز ته نصب ورکوي (کوم چې مشابه دی د مفعول سره په دې کې چې دی هم په دریمه مرتبه کې واقع کیږي).

د اسم تام مدخول: مدخول د اسمِ تام به یوازې نکره وي، پر معرفه اسمِ تام نه داخلیږي، او عمل به یې یوازې نصب وي، رفع یا جر به نه وي لکه عِنْدِیْ رِطْلٌ زَیْتًا، دلته رِطْلٌ اسمِ تام دی، او په تنوین سره تام سوی دی، او زَیْتًا تمیز دی لپاره د رِطْلٌ او منصوب دی.

وَعلی هٰذا القِیَاس یعني پاته نور مثالونه هم پر دې قیاس کړه!، لکه عِنْدِیْ مَنَوَانِ سَمْنًا، دا مثال د هغه اسمِ تام دی چې د تثنیې په نون سره تام سوی وي، او لکه عِنْدِیْ عِشْرُوْنَ دِرْهَمًا، دا مثال د هغه اسمِ تام دی چې د جمع په نون سره تام سوی وي، وَعِنْدِیْ مَلْئُوْهٗ عَسَلًا، دا مثال د هغه اسم دی چې په اضافت سره تام سوی وي، ځکه چې مَلء مضاف دی و "ه" ضمیر ته، نو په دغو ټولو مثالونو کې اسمِ تام خپل تمیز ته نصب ورکړی دی.

سوال: فَاِنْ قِیْلَ کَثِیْرٌ مِنَ الْأَسْمَاءِ...اِلخ، که یو څوک سوال وکړي چې ډېر داسې اسماء سته چې په تنوین سره تامیږي او اضافت ته ضرورت نه لري، خو بیا هم هغو ته اسمِ تام نه ویل کیږي او نه تمیز ته نصب ورکوي لکه رَجُلٌ او فَرَسٌ، نو د اسمِ تام کوم تعریف چې تاسو وکړی، دا صحیح نه دی ځکه چې مانع نه دی د غیر له دخول څخه چې رَجُلٌ او فَرَسٌ دی.

جواب: قُلْنَا الْإِسْمُ التَّامُ...اِلخ، د جواب خلاصه دا ده چې له اسم تام څخه هغه اسم مراد دی چې په تنوین یا قائم مقام د تنوین یا په اضافت سره تام وي، او بل شرط دا هم دی چې په جنس د دغه اسمِ تام کې به ابهام هم وي، مثلاً عِنْدِیْ رِطْلٌ، رِطْل "نیم سېر" ته ویل کیږي، نو که زه ووایم چې "زما سره نیم سېر دی"، نو په دغه نیم سیر کې د جنس په اعتبار سره ابهام سته چې آیا دا نیم سېر غنم دي، اوربشې

دي، او که بل څه دي، نو زَيْتًا دغه ابهام ليري کړی چي غوړي دي، زَيْت "غوړو" ته ويل کيږي، او د رَجُل او فَرَس په جنس کي ابهام نسته، لهذا داسم تام تعريف د غير له دخول څخه مانع سو.

نظم:
① عامل فعل مضارع معنوی باشد .. همچنین معنیٰ بود عامل یقین درز
② دولت و اقبال و جاه شاهزاده بر کمال .. در تضاعف باد دائم ختم کردم بر دعا

ترجمه:
① عامل د فعل مضارع معنوي وي ځان په پوه کړه! .. همدارنګه په مبتداء کي هم عامل معنوي وي په يقين سره.
② بادشاهي، بخت او مرتبه د شهزاده دي په بشپړه توګه .. [او] د دوچندۍ په حال کي تل تر تله وي ختم مي کړل [عوامل په نظمونو کي] په دعاء سره.

تشريح:
د عاملِ معنوي تعريف: شارح رَحِمَهُ الله فرمايي: مَرَّ تَعْرِيفُهُ، يعني د عاملِ معنوي تعريف مخکي تېر سو، او هغه په دا ډول وو: "وَهُوَ مَايُدْرَكُ بِالْقَلْبِ وَلَا يُتَلَفَّظُ بِهِ". (عاملِ معنوي هغه عامل ته ويل کيږي چي په زړه سره يې ادراک کيږي او په خوله سره يې تلفظ نه کيږي).

يَعْنِيْ اَنَّ الْعَوَامِلَ...اِلخ، عواملِ معنوي دوه دي، يو په مضارع کي دی، او بل په مبتداء او خبر کي، يعني د رفع يو عامل په مضارع کي دی، مطلب دا چي مضارع به هغه وخت مرفوع وي چي کله له عواملِ ناصبه او جازمه وو څخه خالي وي، لکه يَضْرِبُ چي آخريې مرفوع دی، يا يَضْرِبَانِ يا يَضْرِبُوْنَ چي په دې کي آخري نون عوض له رفع څخه دی.

او دويم د رفع عامل په مبتداء او خبر کي دی، يعني مبتداء به تل مرفوع وي پر دې اساس چي هغه مبتداء ده (يعني د ابتدائيت پر اساس)، او خبر به تل مرفوع وي بناء بر خبريت.

د مبتداء او خبر په عامل کي اختلاف: د مبتداء او خبر په عامل کي درې مذهبه دي:
① اول مذهب دا دی چي د دواړو عامل لفظي دی، يعني مبتداء د خبر لپاره عامل دی، او خبر د مبتداء لپاره عامل دی، او مبتداء او خبر داړه لفظونه دي.
② دويم مذهب دا دی چي د مبتداء او خبر دواړو عامل معنوي يعني "ابتداء" ده، نو دغه عامل "ابتداء" په مبتداء کي هم عمل کوي او په خبر کي هم، دا د جمهورو مذهب دی، د ناظم رَحِمَهُ الله په نېز هم د

جمهورو مذهب غوره دی.

③ درېيم مذهب دا دی چې د مبتداء عامل معنوي دی چې هغه "ابتداء" ده، او د خبر عامل لفظي دی، يعني دغه مبتداء بيا په خبر کي د رفع عمل کوي.

سوال: فَإِنْ قِيْلَ هٰذَا مُنَاقِضٌ...إلخ، د سوال خلاصه دا ده چې تاسو مخکي وويل چې د فعل مضارع عامل حروفِ جوازم او حروفِ نواصب دي، نو له دې څخه دا معلومېږي چې عوامل د مضارع لفظي دي، لېکن اوس بيا تاسو واياست چې د مضارع عامل معنوي دی، نو ستاسو د خبرو په مينځ کي تناقض راغلی؟

جواب: قُلْنَا...إلخ، د جواب خلاصه دا ده چې زموږ مراد له عاملِ معنوي څخه مطلق عامل نه دی چې هغه که نصب وي او که جزم او رفع وي، بلکي له هغه څخه زموږ مراد يوازي د رفع عامل دی، او د مضارع د رفع عامل خو معنوي دی، او ستاسو اعتراض به هغه وخت وارد پېدلای چې زموږ مراد له عامل څخه مطلق عامل وای، فاندفع الاشکال.

د مضارع په عامل کي اختلاف: د بصريينو او کوفيينو په مينځ کي د مضارع د عاملِ معنوي په باره کي اختلاف دی.

د بصريينو مذهب: دا دی چې په مضارع کي د رفع عاملِ معنوي وقوع د فعلِ مضارع ده پر ځای د اسم فاعل، يعني لکه څرنگه چې ته داسي ويلای سې چې زَيْدٌ عَالِمٌ، همدغه ډول ته د اسم فاعل پر ځای فعلِ مضارع هم راوړلای سې، او داسي ويلای سې زَيْدٌ يَعْلَمُ، همدارنگه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ يَعْلَمُ او رَأَيْتُ رَجُلًا يَعْلَمُ هم ويلای سې، نو کله چې مضارع د اسمِ فاعل پر ځای واقع کېدلای سي، نو داسي سوه لکه اسم، نو د همدې مشابهت له کبله مضارع ته هغه قوي اعراب ورکړل سو چې رفع ده، ځکه چې رفع تر ټولو مخکنی اعراب دی، او د داسي شي اعراب دی چې هغه تر ټولو قوي دی يعني د فاعل اعراب دی.

د کوفيينو مذهب: کوفيين بيا وايي چې په مضارع کي د رفع عاملِ معنوي خاليتوب د فعل مضارع دی له عواملِ ناصبه او جازمه وو څخه، يعني که پر فعلِ مضارع نه ناصب عامل داخل وو او نه جازم عامل، نو دا به مرفوع وي.

وَفِيْهِ التَّفْصِيْلُ...إلخ، شارح رَحِمَهُ الله فرمايي چې د مضارع په عاملِ معنوي کي ډېر تفصيل سته، خو دا کتاب مختصر دی، ځکه چې د ابتدائي طالبانو لپاره دی، نو بايد چې له ډېرو تفصيلاتو څخه وژغورل سي.

د عواملِ لفظيه او معنويه وو بحث ختم سو، او په دې باره کي چي کوم بيتونه تر اوسه ذکر سول دا د ناظم رَحِمَهُ الله له طرفه ول، تر دې وروسته يو طالب د ناظم رَحِمَهُ الله د بيتونو سره نور بيتونه هم ملحق کړله، که څه هم دا د ناظم رَحِمَهُ الله له طرفه نه دي خو له فايدې څخه هم خالي نه دي.

نظم:

① گر حروفِ عطف خواهی بی خلل ... یاد گیر این نظم میخوان در محل

② واو فا و ثُمَّ حَتّٰى نیز أَوْ ... با أَمْ و أَمَّا و لٰكِنَّ لَا و بَلْ

ترجمه:

① که حروفِ عطف غواړې بې له څه خلل ... [نو] ياد کړه دغه نظم [او] ويې وايه په خپل محل کي.

② واو، فاء او ثُمَّ، حَتّٰى همدغه ډول أَوْ ... سره د أَمْ، أَمَّا، لٰكِنَّ، لَا او بَلْ.

تشريح: وَإِنَّمَا سُمِّيَتْ هٰذِهِ الْحُرُوْفُ...إلخ، غرض د شارح رَحِمَهُ الله په دې عبارت سره د حروف عطف وجه تسميه په عاطف سره بيانول دي، خلاصه يې دا ده چي دوی ته ځکه عاطفه وايي چي عاطفه مشتق دی له عطف څخه او عطف په لغت کي "ميلان" ته ويل کيږي، يعني يو شی د بل شي و طرف ته مائل کول، او دغه حروف هم معطوف د معطوف عليه و طرف ته مائل کوي، نو دا حروف سبب دي لپاره دعطف چي د عطف معنیٰ ميلان ده، او د غو حروفو ته عاطفه ويل دا د تَسْمِيَةُ السَّبَبِ بِاِسْمٍ مُشْتَقٍّ مِنَ الْمُسَبَّبِ له جملې څخه ده، ځکه چي دا حروف عاطفه سبب دي لپاه د عطف، او عاطفه اسم دی، او مشتق دی له عطف څخه، نو دې حروفو ته عاطفه ويل تسميه د سبب ده په اسمِ مشتق سره چي عاطفه دی، او مشتق دی له مسبب څخه چي عطف دی.

د حروف عطف په شمېر کي اختلاف: وَهِيَ عِنْدَ الْجَمْهُوْرِ...إلخ، حروفِ عاطفه د جمهورو په نيز لس (۱۰) دي، لکه ناظم چي يې په بيت کي تصريح کړې ده، او له ناظم څخه مراد "يو طالب" دی، لکه مخکي چي شارح رَحِمَهُ الله وويل چي دغه يو څو بيتونه "بَعْضُ الطَّلَبَةِ" (يعني يو طالب) ليکلي دي، او ناکت هم ليکلي دي: هو بعض الطلبة؛ او د ځينو په نيز حروفِ عاطفه فقط څلور دي: ① واو، ② فاء، ③ ثُمَّ، ④ حَتّٰى، خو راجح مذهب د جمهورو دی.

نظم: ① إنّ را در جا جا مكسور خوان ... ابتداء و بعد قول و قسم دان
② چون در آيد در خبر او لام نيز ... دائماً مكسور خوانی ای عزيز

ترجمه: ① إنَّ په څلورو ځايو كي مكسور وايه! ... په ابتداء كي او وروسته تر قول او قسم پوه سه!
② كله چي يې په خبر كي لام هم راسي ... [نو] تل به يې مكسور وايې اې گرانه!

تشريح: څرنګه چي إنَّ او أنْ مصدريه په كتابت كي سره برابر او په صورت كي سره متحد دي، او د معنىٰ او مقصد په اعتبار سره بېل دي، نو ځكه ناظم وغوښتل چي د دوی دواړو توپير بيان كړي، د مقصد په اعتبار ځكه سره بېل دي چي إنَّ پر كومه جمله داخل سي، په هغې كي تأكيد پيدا كوي، او جمله د مفرد په تأويل سره نه اړوي، او أنْ مصدريه جمله د مفرد په تأويل سره اړوي، نو كله چي د مقصد په اعتبار يو تر بله سره مغاير دي، نو ځكه يې ناظم توپير بيانوي او وايي: إنَّ را در جا جا....الخ.

د "إنّ" او "أنّ" په مينځ كي په څلورو (۴) طريقو سره توپير: ناظم رَحِمَهُ الله په خپل نظم كي په څلورو طريقو سره د إنَّ او أنّ توپير ذكر كوي.

اول توپير: دا دی چي كه د كلام په پيل كي وو نو إنَّ دی، او كه د كلام په مينځ كي وو نو أنْ مصدريه دی، د كلام له پيل څخه مراد دا دی چي د داسي كلام په پيل كي وي چي هغه كلام د مابعد سره (د اعراب په اعتبار) څه تړاو نه لري، كه څه هم هغه د عبارت يا كلام په مينځ كي وي، لكه أكْرِمْ زَيْدًا إنَّهُ فَاضِلٌ، نو فَاضِلٌ د ماقبل كلام سره (د اعراب په اعتبار) څه تعلق نه لري، نو ځكه به دلته إنَّ په كسره د همزې سره ويل كيږي، او محشي يې نور مثالونه هم ذكر كړي، كه غواړې نو په حاشيه كي يې وګوره.

او په داسي ځاى كي به إنَّ ځكه مكسوره ويل كيږي چي كلام باطل نه سي، ځكه چي أنّ مفتوحه د كلام په معنىٰ كي تغير راولي، او پر كومي جملې چي داخل سي هغه د مفرد په تأويل سره اړوي، ځكه چي دی مصدريه يعني د مصدر په معنىٰ سره دی، او إنَّ مكسوره جمله د مفرد په تأويل سره نه اړوي، مثلاً كه ته ووايې إنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، نو په دې كي زياتوب د تأكيد راځي، او جمله پر خپل حال پاتيږي، او كه ته دلته د إنَّ پر ځاى أنّ ووايې، نو بيا د تأكيد معنىٰ نه ور څخه حاصليږي، بلكي جمله به د مفرد په تأويل سره اړول كيږي، او دا د متكلم د تقاضا خلاف دي.

دویم توپیر : وَثَانِيْهَا بَعْدَ الْقَوْلِ...إلخ، دویم به په هغه ځای کي إِنَّ مکسوره ویل کیږي چي تر قول وروسته راغلی وي، لکه قُلْتُ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، په دې مثال کي قُلْتُ له قول څخه دی، نو ځکه تر ده وروسته إِنَّ مکسوره دی، دا ځکه چي د قَالَ يَقُوْلُ باب مقوله غواړي، او مقوله د قول به خامخا جمله وي، که ته د إِنَّ مکسوره پر ځای أَنْ مصدریه ووایې، نو بیا به تقاضا د قول باطله سي، ځکه چي أَنْ مصدریه جمله په مفرد سره اړوي.

د قَالَ يَقُوْلُ له باب څخه هره هغه صیغه مراد ده چي له قول څخه مشتقه وي.

درېیم توپیر : وَ ثَالِثُهَا بَعْدَ الْقَسَمِ...إلخ، درېیم به هلته إِنَّ مکسوره ویل کیږي چي تر قسم وروسته راسي، ځکه چي د قسم جواب حتماً جمله وي، لکه وَاللهِ إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، که ته دلته أَنْ مصدریه ووایې، نو جمله به په مفرد سره واوړي، او کوم تأکید چي مخکي په إِنَّ سره راتلی، هغه به رانه سي او جمله به جمله پاته نه سي.

څلورم توپیر : څلورم به هلته إِنَّ مکسوره ویل کیږي چي کله یې په خبر کي لام راوړل سي، لکه إِنَّ زَيْدًا لَقَائِمٌ، دلته إِنَّ حرف له حروف مشبه بالفعل څخه دی، زَيْدًا یې اسم او لَقَائِمٌ یې خبر دی، دلته یې په خبر کي لام د تأکید راوړل سوی دی، نو إِنَّ به مکسوره وي، ځکه چي دا لام تأکید هم د جملې د تأکید لپاره دی، نو د إِنَّ سره مناسبت لري، ځکه چي د إِنَّ مدخول هم جمله وي، نو د دې مناسبت او مشابهت له کبله به إِنَّ مکسوره ویل کیږي، ځکه چي أَنْ مصدریه خو د مفرد لپاره راځي، او د لام تأکید سره مناسبت نه لري.

سوال : فَإِنْ قِيْلَ إِنَّ اللَّامَ...إلخ، سوال واردېږي چي دغه څلورم توپیر یا ځای چي په هغه کي به إِنَّ مکسوره راوړل کیږي، دا جلا او مستقل ځای ګڼل صحیح نه دي، ځکه ته وایې چي پر خبر به یې لام د تأکید راغلی وي نو إِنَّ به مکسوره ویل کیږي، لېکن لام د تأکید پر خبر داخلېدل د إِنَّ د مکسوره کېدلو لپاره علامه نه سي جوړېدلای، ځکه چي د إِنَّ کسره خو له دې کبله ده چي د کلام په پیل کي راغلی دی، او لام ځکه علامه نه سي جوړېدلای چي د کلام په پای کي راغلی دی، او علامه خو په ابتداء کي وي.

جواب : قُلْنَا الْأَمْرُ كَذَالِكَ...إلخ، هو! ستاسو خبر خو صحیح ده، خو دغه إِنَّ هم بغیر د جملې له تغیر څخه د جملې د تأکید لپاره راځي، او دغه لام هم بغیر د جملې له تغیر څخه د جملې د تأکید لپاره راځي، لهذا همدغه لام تأکید إِنَّ مکسوره کوي، نو ځکه دا یو مستقل ځای یا توپیر وګڼل سو.

نظم:

① أنّ را در پنج جا مفتوح خوان ... بعد علم و بعد ظن و درمیان

② بعد لَوْلَا بعد لَوْ تحقیق دان ... تا نیفتی هیچ جا در شک آن

ترجمه: ① أنَّ په څلورو ځایو کي مفتوحه وایه! ... وروسته تر علم او وروسته تر ظن او د کلام په مینځ کي.

② وروسته تر لَوْلَا او وروسته تر لَوْ په تحقیق سره پوه سه! ... تر څو نه ولوېږي هیڅ یو ځای په شک کي د هغه په هکله.

تشریح: په دې بیت سره د ناظم رَحِمَهُ الله مراد هغه ځایونه ښوول دي چي په هغو کي أنَّ مفتوح ویل کیږي، نو پوه سه! چي أنَّ په پنځو ځایونو کي مفتوح ویل کیږي: ① وروسته تر علم ② او وروسته تر ظنّ، ځکه چي علم او ظن دوه مفعوله غواړي، نو مفعول خو مفرد وي او أنَّ هم خپل مدخول د مفرد په تأویل سره اړوي؛ علم او ظن ځکه دوه مفعوله غواړي چي دا له افعالِ قلوب څخه دي، لکه مخکي چي یې تفصیل تېر سو، د علم مثال لکه عَلِمْتُ زَيْدًا فَاضِلًا، د ظن مثال لکه ظَنَنْتُ زَيْدًا فَاضِلًا، او دا دوه مفعولونه که څه هم صورتاً دوه مفعوله دي، خو په حقیقت کي یو مفعول دی، ځکه چي مضمون د دواړو مفعولانو یو دی، مثلاً له دواړو څخه د زید فضیلت مراد دی، او فضیلت خو مفرد دی، او أنَّ هم پر مفرد داخلیږي، خو که پر جمله داخل سو نو هغه هم د مفرد په تأویل سره اړوي، لکه عَلِمْتُ أَنَّكَ تَذْهَبُ، دلته أنَّ دا تَذْهَبُ په مفرد سره اړوي، نو داسي به ویل کیږي عَلِمْتُ ذِهَابَكَ، همدا ډول به ظَنَنْتُ أَنَّكَ تَذْهَبُ داسي ویل کیږي ظَنَنْتُ ذِهَابَكَ، نو ځکه به تر علم او ظن وروسته أنَّ مفتوحه وي.

③ درېیم ځای دا دی چي أنَّ په وسط د کلام کي مفتوحه راځي، ځکه چي وسط د کلام د ماقبل سره د ربط تقاضا کوي، او د ماقبل سره تر هغه ربط نه سي راتللی تر څو چي مابعد د أنَّ مفرد نه وي، ځکه چي جمله من حیث الجمله مستقله وي، ربط نه غواړي، نو د دې جملې ربط د ماقبل سره هغه وخت راتللای سي چي دا د مفرد په تأویل سره واړول سي، او د مفرد په تأویل سره هغه وخت اوښتلای سي چي أنَّ مفتوحه پر داخل سي، مثال لکه زَيْدٌ أَنَّ أَبَاهُ قَائِمٌ، نو دلته أنَّ د دوو کلمو په وسط کي راغلی دی. اوله کلمه زَيْدٌ ده چي هغه مبتداء ده، او په صورت د مفرد کي ذکر ده، دویمه کلمه خبر ده چي هغه د

جملې په صورت کې ذکر ده یعني اَنَّ آبَاهُ قَائِمٌ، نو دا دویمه کلمه د اولې سره د ربط تقاضا کوي، ځکه چې خبر د مبتداء سره ربط غواړي، او په دې مثال کې خبر جمله ده، او جمله مستقله وي، په هغې د ماقبل سره ربط نه سي قائمېدلای بغیر له دې څخه چې دا جمله په تأویل د مفرد سره واړول سي، نو دغه اَنَّ چې پر دې جمله داخل دی دا به خامخا اَنَّ مفتوحه وي تر څو د ماقبل سره د دې جملې ربط پیدا کړي، نو اَنَّ د آبَاهُ قَائِمٌ جمله د قَائِمُ الْاَبِ په تأویل سره اړوي، او قَائِمُ الْاَبِ مفرد دی، ځکه چې له مفرد څخه دلته "مقابل د جملې" مراد دی یعني چې جمله نه وي، نور که مفرد وي، او که مرکبِ ناقص وي.

④ څلورم ځای دا دی چې اَنَّ تر لَوْ وروسته راسي نو مفتوحه به وي، ځکه چې لَوْ پر شرط داخلیږي، او تر لَوْ وروسته فعل لفظاً نسته نو مقدر به وي، ځکه چې تر لَوْ وروسته د فعل محل وي، او فعل فاعل غواړي، او فاعل خو مفرد وي، نو د دې لپاره چې دا فاعل مفرد کړل سي و اَنَّ مفتوحه ته ضرورت دی لکه لَوْ اَنَّكَ قَائِمٌ لَكَانَ كَذَا، تقدیر د عبارت داسې راځي: لَوْ وَقَعَ قِيَامُكَ لَكَانَ كَذَا، نو لَوْ به حرف شرط سي، وَقَعَ به فعل سي، اَنَّ به یو حرف له حروفِ مشبه بالفعل څخه سي، کاف د ضمیر به اسم د اَنَّ سي، قَائِمٌ به یې خبر سي، اَنَّ به سره د اسم او خبره جمله په تأیل د مفرد سره واړي او فاعل د وَقَعَ به سي، وَقَعَ فعل به سره د فاعله شرط سي، وروستنۍ جمله به یې جزاء سي، نو دغه مقصد چې جمله په تأویل د مفرد سره اړول دي، دا په اِنَّ مکسوره سره نه حاصلیږي، نو ځکه به دلته اَنَّ مفتوحه ګڼل کیږي.

⑤ پنځم ځای دا دی چې تر لَوْلَا وروسته به اَنَّ مفتوحه وي، لَوْلَا امتناعیه دې ته ویل کیږي چې یو شی د بل شي د وجود له کبله منع سي، او وروسته تر لَوْلَا به ځکه اَنَّ مفتوحه ویل کیږي چې مابعد تر لَوْلَا غالباً مبتداء وي، او مبتداء خو مفرده وي، نو د دې لپاره چې دا جمله د مفرد په تأویل سره واړول سي و اَنَّ مفتوحه ته ضرورت سته، نو ځکه به تر لَوْلَا وروسته اَنَّ مفتوحه راځي، مثال لکه لَوْلَا اَنَّكَ قَائِمٌ لَكَانَ كَذَا، نو اوس ضروري ده چې ته به دا جمله په تأویل د مفرد سره اړوې، او دا بغیر له اَنَّ مفتوحه څخه نه سي کېدلای، نو تقدیر د عبارت به داسې وي: لَوْلَا قِيَامُكَ وَاقِعٌ لَكَانَ كَذَا.

خلاصه: شارح رَحِمَهُ الله فرمایي: فَفِي الْجُمْلَةِ، یعني خلاصه د کلام دا سوه چې اِنَّ به مکسوره وي که تر اِنَّ وروسته د جملې محل وو، هغه که له دغو څلورو ځایونو څخه وي، او که له دې څخه ماسوا نور ځایونه وي، او

اَنَّ به مفتوحه وي كه تر اَنَّ وروسته د مفرد محل وو، نو له همدې كبله نحاتو رَحِمَهُ الله د اِنَّ مكسوره او اِنَّ مفتوحه ځايونه په دې مذكوره ځايونو كي نه دي منحصر كړي، دا خلاصه بايد په ښه ډول وفهمول سي، ځكه چي دا يوه قاعده كليه ده.

اَقُوْلُ لَا بُدَّ... اِلخ، شارح رَحِمَهُ الله فرمايي څرنګه چي د اِنَّ مكسوره او اَنَّ مفتوحه په مينځ كي [يعني كله چي دواړه مشدد وي] فرق بيانول ضروري وو، همداسي د اِنْ مكسوره او اَنْ مفتوحه په مينځ كي [يعني كله چي دواړه مخفف وي] فرق بيانول ضروري دى.

د "اِنْ" مكسوره قسمونه: اِنْ په كسره د همزې سره پر څلور قسمه دى:

اول قسم: اول قسم اِنْ نافيه دى، دا پر جمله اسميه داخليږي، لكه اِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ، په معنىٰ د مَا زَيْدٌ قَائِمًا سره دى، (يعني زيد ولاړ نه دى).

دويم قسم: دويم قسم اِنْ شرطيه دى، دا يوازي پر فعل داخليږي، ځكه چي شرط خو يوازي فعل راتللاى سي، لكه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ، دلته اِنْ حرفِ شرط دى، ضَرَبْتَ فعل دى، دا به سره د فاعله شرط سي، او ضَرَبْتُ فعل سره د فاعله به جزاء سي، شرط سره د جزاء به جمله فعليه شرطيه سي.

دريم قسم: اِنْ مخففه من المثقله دى، يعني هغه اِنْ چي له اِنَّ مشدده څخه اخيستل سوى (مخفف كړل سوى) وي، دا ځكه چي په اِنَّ مثقله كي ثقالت وي، ځكه چي مشدد لفظ د غيرِ مشدد لفظ په نسبت ثقيل وي، نو دا د كثرت استعمال له كبله مخفف كيږي، ځكه چي كثرت استعمال د خفت تقاضا كوي، نو كله چي هغه مخَفف كړل سي، نو دا هم جائز ده چي د هغه عمل باطلَ كړل سي، ځكه چي په بعضي وجوهاتو كي د فعل سره د هغه مشابهت ختم سي، هغه دا چي فعل تر دريو حروفو كم نه راځي، لېكن هغه دوه حرفه سي، او دا هم جائز ده چي عمل وكړي، خو إعمال تر إبطال اصل دى، نو ځكه عمل وركول كيږي. او دغه مخففه من المثقله پر جمله اسميه داخليږي، لكه څرنګه چي اِنْ نافيه پر جمله اسميه داخلېدى، نو بيا كه دغه اِنْ مخففه من المثقله كه عمل كوى او كه يې نه كوى په دواړو صورتونو كي د هغه په خبر كي لام راوړل ضروري دي؛ چي عمل نه كوي نو ځكه يې په خبر كي لام راوړل ضروري دي تر څو فرق راسي د اِنْ مخففه من المثقله او د اِنْ نافيه په مينځ كي، ځكه چي دوى په دې صورت كي هم سره مشابه دي، ځكه تر دوى وروسته چي كوم دوه شيان ذكر وي هغه مرفوع وي،

هغه په دې وجه چې اول مبتداء وي او دويم خبر وي، نو د دې التباس د ختمولو لپاره د إِنْ مخففه منَ المثقله په خبر کې لام راوړل ضروري دي، لکه إِنْ زَيْدٌ لَقَائِمٌ، او د إِنْ نافيه په صورت کې به بغير له لام څخه وړل کيږي، لکه إِنْ زَيْدٌ قَائِمٌ.

او د إِنْ مخففه من المثقله د عمل کولو په صورت کې که څه هم التباس نه راځي، ځکه تر هغه وروسته چې کوم دوه شيان ذکر وي، هغه اول منصوب او دويم مرفوع وي، او تر إِنْ نافيه وروسته چې کوم دوه شيان ذکر وي، هغه دواړه مرفوع وي، نو محشي رَحِمَهُ الله وايي چې په دې صورت کې ځکه د إِنْ مخففه من المثقله په خبر کې لام راوړل ضروري دي تر څو د عامل کېدلو د صورت موافقت يې د عدمِ عامل کېدلو د صورت سره راسي، دا د بعضو مذهب دی.

جمهور بيا وايي چې کله إِنْ مخففه من المثقله عامل وي، نو په خبر کې يې د لام راوړلو ته څه ضرورت نسته، ځکه د دواړو په مينځ کې فرق واضح سي، ځکه چې د إِنْ نافيه مدخول چې کوم دوه اسمونه وي، هغه دواړه مرفوع وي، او تر إِنْ مخففه وروسته چې کوم دوه اسمونه وي، په هغو کې اول منصوب او دويم مرفوع وي.

څلورم قسم: څلورم قسم إِنْ زائده دی، د زائده مطلب دا دی چې که هغه موجود نه وي نو په معنیٰ کې څه تغير نه راځي، او هر وخت هغه زائده نه وي، بلکې کله نا کله زائده وي، او له زائده څخه دا هم مراد نه دي چې په کلام کې هيڅ فايده نه لري، بلکې په هغه سره تأکيد او داسې نوري معناوي ترلاسه کيږي، مثال يې دا دی لَمَّا إِنْ جَلَسْتَ جَلَسْتُ.

د "أَن" مفتوحه اقسام: "أَنْ" مفتوحه مخففه هم پر څلور قسمه دی:

اول قسم: مخففه من المثقله دی، تر دې أَنْ مخففه من المثقله وروسته به له دې څلورو حروفو څخه يو حرف واقع وي: سين، سَوْفَ، قَدْ او لَا نافيه، د سين مثال لکه د الله تعالی دا قول: ﴿عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم مَّرْضَىٰ﴾ [سورة المزمل: ٢٠]، د سَوْفَ مثال لکه د شاعر دا قول: أَنْ سَوْفَ يَأْتِيْ كُلُّ مَا قُدِّرَ (يعني څه چې په تقدير کې ليکل سوي دي هغه به خامخا راځي)، او د قَدْ مثال لکه د الله تعالی دا قول: ﴿لِّيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا﴾ [سورة الجن: ٢٨]، او د لَا مثال لکه د الله تعالی دا قول: ﴿أَفَلَا يَرَوْنَ أَلَّا يَرْجِعُ إِلَيْهِمْ﴾ [سورة طه: ٨٩].

تر اَنْ مخففه من المثقله وروسته د دې څلورو حروفو راوړل ځکه ضروري دي چي د اَنْ مخففه من المثقله التباس د اَنْ مصدريه سره را نه سي، ځکه چي صورتاً خو دا ره سره ملتبس دي، او تر اَنْ مصدريه وروسته دغه حروف نه سي راتللای، ځکه چي د اَنْ ناصبه او د هغه د معمول په مينځ کي فصل راوستل جائز نه دی.

دويم قسم: اَنْ ناصبه دی، دا د فعل سره خاص دی، او تر ده وروسته پورتني مذکوره حروف نه واقع کيږي، او د فعل سره ځکه خاص دی چي دی پر جمله فعليه داخليږي، او هغه په تأويل د مصدر سره اړوي، لکه **أَعْجَبَنِيْ أَنْ خَرَجْتَ أَیْ خُرُوْجُكَ**.

دريم قسم: اَنْ زائده دی، دا وروسته تر لَمَّا راځي، لکه د الله تعالی په دې قول کي: ﴿ **فَلَمَّا أَن جَاءَ الْبَشِيرُ** ﴾ [سورة يوسف: ۹۶].

څلورم قسم: اَنْ تفسيريه دی، لکه د الله تعالی په دې قول کي: ﴿ **وَنَادَيْنَاهُ أَن يَا إِبْرَاهِيمُ** ﴾ [سورة الصافات: ۱۰۴]، **دلته اَنْ د نداء تفسير کوي يعني چي الله ﷻ په دې لفظ "يَاإِبْرَاهِيْمُ" سره ابراهيم ؑ ته نداء وکړه.**

فَاحْفَــظْ هٰذِهِ الرِّسَالَةَ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغَافِلِيْنَ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

تمت بالخير


الحمد لله! دغه شرحه "اسرارُ الشمه" د ۱۴۳۷ هجري د شعبان د مياشتي په ۱۷ نېټه د يکشنبې په ورځ پای ته ورسېده، الله ﷻ دي يې په خپل دربار کي مقبوله وګرځوي، او د راقمُ الحروف او د هغه د احبابو لپاره دي يې خيرِ جاري وګرځوي، آمين ثم آمين.

زه انسان يم! غلطی به را څخه سوي وي، نو پر ځای د دې چي تاسو هغو ته ګوته ونيسی مناسب دا ده چي په اصلاح کي يې زموږ سره خواخوږي وکړی، او موږ يا صداقت کتب خانې ته يې خبر ورکړی.

صديق الله صديقی شاجوئی



مشكوة المصابيح



روائع البيان
تفسير آيات الأحكام من القرآن
بقلم
محمد علي الصابوني
پښتو ژباړه
مولوی احمدالله ابوالبدر